# د وطن په ګلدرو کښي



فیروز آفریدي

د وطن ګلدرې پاتې شوې
فېروزه
د سفر دشتو کښې ځلې د
هجران شوې

# د وطن په ګلدرو کښې

(وطن ته د سفر رپورتاژونه)

کال مارچ اپریل ۲۰۰۸ء او کال مارچ اپریل مئی ۲۰۰۹ء

لیک:
فېروز افریدي
قطر

پېښور پښتو ادبي جرګه رجسټرډ، پېښور

# چې کتاب زما دے نو واک زما دے

د کتاب نوم ________ د وطن په ګلدرو کښې
د کال ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ رپورتاژونه
لیکوونکے ________ فېروز افریدي
د اشاعت کال ________ مئی ۲۰۰۹ء
تعداد ________ ۵۰۰
کمپوزر ________ آدم خان
پروف او املا کتنه ____ پروفېسر اباسین یوسفزے
قیمت: ________ ۱۵۰ روپۍ

د موندلو درک:
د کابل، کندهار، جلال آباد، کوئټې، پېښور او کراچۍ د کتابونو په هر لوئے دوکان کښې موندلے شي.

خپروونکي:

- پېښور پښتو ادبي جرګه رجسټرډ، پېښور پاکستان
- پاک پښتو ادبي ټولنه قطر

خلق له ځانه هم د خپل ماضي
تيَري پټوي
مونږ په محفل کښې زړونه ښايو
هيڅ پروا نۀ لرو

(اباسين)

زمونږ بې رويه بې ريا او درونډ پښتون ملګرے فېروز افريدے الله پاک د پښتو په مينه داسې مست کړے دے چې د خپل امدن کافي برخه او د خپلو صلاحيتونو پوره خزانه په ډېر اخلاص د پښتو جولئ ته اچوي. په دغه رپورتاژونو کښې ډېر په معصوميت د خپل زړۀ وړې وړې او ګټورې خبرې په داسې سادګئ او روانئ بيانوي چې لوستونکے کله د چاپېرچل، کله د قيصې او کله د منظرکشئ په مستو مستو چپو کښې ورلاهو کړي. په ظاهره عامه او معمولي خبره کښې دوه ځلور جُملې دومره د کار واچوي چې غېرضروري شے هم ډېر ضروري او د کار شي. او غالباً چې دغه د ليکوال فېروز نه زيات د انسان فېروز د صداقت او قامولئ د جذبو بُخار دے.
مسافرئ دا ښاغلے لکه د سندان کلک کړے دے او لکه د رېښمو ئې نرم کړے دے. د ژبې، خاورې او وطن د مينې نه جوړ فېروز افريدے که نثر ليکي او که شعر هم په دغه مينه، درد او ځړيکو کښې انغښتے وي ځکه د اطمينان، سکون او قراري سره د پرمختګ جذبو له هم وده ورکوي.
الله دې ساده او صادق ليکونکے نور هم وځلوي.
مننه
نېټه: ۲۵ اپريل ۲۰۰۹ء

اباسين يوسفزے
چيئرمېن، پښتو څانګه
اسلاميه کالج پوهنتون،
پېښور

## يوه ټپه

زما دې څۀ وکړل چې لاړې
نرے نرے زړګے به ستا راپسې چوينه

ترړون

د ښاغلي طاهر بونيري په نوم
څوک چې د پښتو ژبې او قام
يو ګمنام سپاهي دے

کله به يم کله به نۀ يم
په مورچلونو مې د اړه ګرځه مئينه

# اهداء

د پاک پښتو ادبي ټولنې قطر د ټولو ملګرو په نوم

چې زۀ ئې د پښتو ادب خدمت ته چمتو کړے يم
زۀ د دوئ په ملګرتيا وياړ کوم

چې د اټک په پُل تېرېږي
رب دې در ياده کړي زما لېونی مينه

فېرزو
افريدي، پېښور

# زما خبرې

زړۀ مې غوښتل چې د خپل ژوند لیک ولیکم خو په سفر کښې زما ژوند دومره مصروف دے چې د ډېر خواهش او د څو پانو لیکلو باوجود مې وخت پېدا نۀ کړے شو.

زما طبیعت داسې دے چې د لیک لوست دپاره نۀ جوړیږي. لیکلو کښېناستل راته ډېر د مشقت کار ښکاري. او بس چې څۀ ولیکم د بیا کتلو توان ئې نۀ لرم.

د پاک پښتو ادبي ټولنې د ملګرو سره مې شل پنځویشت کاله د ادب په خدمتونو کښې تېر کړل، او زما ملګري ماشاء الله صاحب دیوان شول. دوه دوه درې درې کتابونه هر ملګري لیکلي او چاپ کړي دي. خو ما د خپل ناقص طبیعت له کبله د شلو پنځویشتو کالو شاعري هم په ترتیب نۀ کړے شوه. او نۀ مې پرې بیا نظر تېر کړے دے. چاپ خو لا ډېره لرې خبره ده.

نثر مې ډېر لیکلے دے. په دستار مجله کښې مې یوولس دولس کالمونه په تسلسل سره چاپ دي. د ملګرو په کتابونو ګڼ شمېر سریزې او په مختلفو موضوعاتو مضامین مې هم لیکلي دي. چې که یو ځائے شي نو دوه درې د نثر کتابونه ترې جوړېدے شي. خو هغه د چا خبره، دا لیکل په راغونډوي څوک؟ بل زۀ د دې خبرې هم اعتراف کوم چې کۀ زۀ شاعري لیکم یا نثر د چاپ خوګه ئې نۀ ګنړم.

ما کوشش کړے دے. چې مشاعره کښې خپل کلام

هم نـه اوروم. د مـلګرو شاعرانـو کلامـونـه اورم. د مشاعرو تـرتـيب او مـلګري راغونډول مـې ډيـر خوښيږي، خـو د خپـلو لـيکنـو نـه مطمئـين نـه يم. نـو ځکه د چاپ کـولـو پـه حق کښې نـه اول ووم او نـه مـې اوس ورتـه زړه کـيږي.

د وطن پـه سفـر زۀ رپـورتـاژونـه د څو کـالـو راسې لـيکم او پـه خپل ويـب سائټ www.destaar.com/hujra يـا ويـبـلـوګ www.afridi. Destaar.com کښې ئـې خونـدي کـوم او د نـيټ يـارانـو تـه ئـې سپـارم. هغوئ پـرې تـبصرې وکـړې کـلـه کـلـه څوک پـرې تـنـقـيد هم وکـړي، او کـلـه کـلـه ئـې تـعريف هم وشي. او زمـا لـږ ډيـر تـسکـين پـرې وشي.

مـا بـه دغه دوه رپـورتـاژونـه هيڅکلـه هم چاپ کـړي نـه وے کـه چرې سږ کـال مـا د سروزو ادبـي جرګـې د مـلګـرو شعري ټـولګـه "روښانـه سبـاؤن" پـه خپـلـه چاپ کـړے نـه وے.

دغه کـتـاب لـږ ډيـر تـحريک راکـړو، بـل زمـا يـو نـالـيدلـي مـلګـري د پـښتـو ژبـې ګـمنـام سپـاهي ښاغلـي طاهر بـونـيري صيب راتـه څو کـرتـه پـه ټـيلـيفـون د دغه رپـورتـاژونـو د چاپ کـولـو اووئـيل، حالانـکې مـا تـر اوسه طاهر بـونـيري لـيدلـے هم نـه دے. د کـار او خدمت نـه ئـې خبـر يـم. د هغوئ دغه ويـنـا د يـو سپـېڅلـي پـښتـون بـې رويـا بـې ريـا مـشوره مـې خوښه کـړه. او دغه رپـورتـاژونـه ستـاسو پـه مـخکښې دي.

زۀ پـه اخر کـښې د پـروفـېسر ابـاسين صيب او د کـمپـوزر آدم خان شکـريـه ادا کـوم چې د امـلا او پـروف ريـډيـنـګ پـه مـعامـلـو کـښې ئـې زمـا مـرستـه وکـړه. او زۀ ئـې د دې کـتـاب

مالک او خالق وګرځولم.

په ډېره پښتنه مینه

فېروز افریدي
پېښور

وطن ته زما د ۲۰۰۸ء سفر، ۱۳ مارچ نه تر ۲۳ اپریل پورې رپورتاژ:

د خپلې غریبۍ غوځولو په ارمان زۀ چې کله د دوؤ کالو په نیت د خپل خوږ وطن پښتونخوا نه په کال ۱۹۸۴ کښې راوتلم ،نو د ډېرو ارمانونو سره یو ارمان مې دا هم وو، چې دوه کاله پس چې کله وطن ته راستون شم ، نو خپل نیمګړے تعلیم به پوره کووم.

نن زما د مسافرۍ درویشتم کال روان دے ،نه غریبي غوځه شوه .نه تعلیم پوره شو، او نۀ زما ټول ارمانونه سر ته ورسېدل ، بس لوئے تاوان مې دا وکړو ، چې د عمر زیان مې ډېر وشو.

څوک مسافرمه کړې خپل کلے
کورپرې وران مه کړې
عظیمه خدایه !!!ته بل څوک زما
په شان مه کړې
ما د ژوندون لمحې په څومره
لوئے قیمت اخستې
څوک د سفر سودا کښې ما غوندې
ارزان مه کړې

ما ډېر خوبونه لیدلي وو خو تعبیر ئې زما په دې شعر **کښې داسې شو.**

**د زمانې په کور د علم هنر ور نه وینم**
**ځکه په بندو دیوالونو کښې خپل در نه وینم**

**په خوب او خیال کښې مې مقام د بام په سر لیدلے**
**په حقیقت کښې د خپل تن د پاسه سر نه وینم**

د وطن نه درویشت کاله بهر ژوند تیرول په خپل ځائے یو تریخ حقیقت دے خو بیا هم زه

د مسافرۍ په دا ټول ژوند کښې يوه لمحه هم د وطن د حالاتو او واقعاتو نه غافله يا بې خبره پاتې نه شوم.زما که په پردي وطن څه عياشي کيدے شي نو هغه د وطن سره په رابطه ساتلو او په ورځ کښې څو څو کرته په تيليفوني تماس مصارف دي.

سربېره په دې چې زما کور او فاميل زما سره اوسيږي خو بيا هم ۱۱ مياشتې پس د بچو سره خاص د مارچ او اپريل په مياشتو کښې د پسرلې د رنګونو او خوش بوئيو د پاره خپل وطن ته ځان رسووم. او د خپلو خپلوانو سره سره د ادبي دوستانو سره ليدل کتل هم ضرور کوم.

دا ځل هم په ۱۲ -۱۳ مارچ کلي ته روان شوم .سحر وختي د پېښور په هوائ ډګر کوز شوم ،او د خپل ورور مير عالم خان او زوئے امجد علي خان په ولقه کښې خپل نوي اباد شوي کور کينال ټاون پېښور يونيورسټۍ ته نېغ لاړم.

زما پلارنے کور په باړه کښې دے خو نن سبا د اسلام د ټهيکدارانو او د خپل ځان په خپله د بربادولو او وژولو په ازلي فارموله راروان پښتون د ويرې او ترهې له کبله په پېښور کښې د رخصتۍ دا ورځې شپې تيروم.

**په سبب د ظالمانو حاکمانو**
**کور او ګور او پيښور درې واړه يو دي**

سحر د وخته کور ته ورسېدم.هلته زما د کور نور غړي زمونږ په انتظار ناست وو.

دا ځل ما دوستانو ته د خپل راتګ څه خاص

خبرتيا کړې نه وه، او زړه مې هم دغه غوښتل چې درې ځلور ورځې دمه وکړم نو بيا به يو يو خبر کړم .

په دريمه ورځ مې يو ادبي ملګرے مشتاق شباب څوک چې د اباسين ارټس کونسل سيکرټري هم دے خبر کړو او هغه لږه شيبه پس بيرته ما ته ټيليفون وکړو چې سبا درې بجې په نشتر هال کښې د ميلاد رسول په حواله يوه نعتيه مشاعره ده او تاسو به پکښې د مهمان اعزاز په حيث ګډون کوئ .

دا پروګرام د مخکښې نه ټاکلے شوے وو چې پکښې د صدارت د پاره د پښتو ډيپارټمنټ سابقه چيئرمين او اکادمۍ ادبيات اوسنے ريزيډنټ ډائرکټر محمد اعظم اعظم صيب انتحاب شوے وو .او د مشر ميلمه کرسۍ چا اردودان ته سپارلې شوې وه چې دا وخت ئې نوم زما د ذهن نه وتلے دے .

دا مشاعره په درې ژبو اردو پښتو او هندکو کښې وه چې پکښې د پېښور او اطرافي سيمو نه راغلو ګن شمېر شاعرانو اديبانو ګډون وکړو .

زما سره چې کومو خلقو په ډېره تاودۀ مينه ستړي مشي وکړل په هغوئ کښې ډاکټر اعظم اعظم صيب،ز؛محترم مشتاق شباب ناظم مشاعره، محترم سيد رسول ناساپه (مرحوم) پروفيسر اسير منګل پروفيسر اويس قرني،محترم ظفر خان ظفر ،او د اردو ژبي لوئے شاعر او د ادبي تنظيم تخليق انټر نېشنل روح روان ښاغلي ماجد سرحدي (مرحوم) او نور ګڼ شمېر شاعران او اديبان شامل دي .

په دې مشاعره کښې چې نور کوم شاعران

ادیبان ما پیژندل په هغوئ کښې پروفیسر نذیر تبسم،محترمه زیتون بانو،محترمه بشرىٰ فرخ (نورې هم دوه شاعرانې وې چې ما له ئې نومونه نه راځي)سید صابر شاه صابر او دچشتي صېب نومونه شامل دي.

د مشاعرې نه پس د چائیو بسکټو د پاره شاعران بهرني انټرنس ته راووتل او په دغه وخت زه او زما ورور د ناظم مشاعره په اجازت خپل کور طرف ته روان شو.

ماجد سرحدي مرحوم صېب په تلو تلو کښې ما ته خپل کارډ راکړو او په دریمه ورځ په حیات اباد کښې رابللې په یوه بله نعتیه مشاعره کښې ئې د ګډون بلنه راکړه.

تېر کال ئې هم ما ته بلنه راکړې وه خو زه د خپلو ذاتي مصروفیاتو له کبله ورته حاضر شوے نه ووم.

ماښام چې کور ته راغلم نو ښاغلي اباسین یوسفزي صېب ته مې فون وکړو او د خپل راتګ نه مې خبر کړو.

هغوئ د خپل خوشحالۍ اظهار وکړو او ما ته ئې ووئیل چې که خیر وي نو بله ورځ به د حیات اباد اردو پښتو او هندکو مشاعرې ته یو ځائے په شریکه ځو.

هغه ووئیل چې زه به کور ته پینځه بجې درشم نو بیا به نورې خبرې په لاره کوو.

په دریمه ورځ ښاغلي اباسین صېب په وخت راورسېدو.په دغه ورځ د دوئ د کرکټ کلب میچ هم وو.په منډه منډه ئې ځان تیار کړې وو او ما سره چائ څښلو ته هم د ایساریدو نه وو.ځکه چې په وخت رسېدل وو.

البته خپلې بچۍ ورته دوه د سټرابیري جوسونه په بیړه جوړ کړي وو چې یو پکښې هغه ما دپاره هم راوړے وو.د اباسین صېب د مینې او پیرزوئینې ما شکریه ادا کړه ،او موټر دواړه هم د اباسین صېب په موټر کښې د مشاعرې په لوري روان شو.

څه نیم ساعت پس موټر د مشاعرې ځائے ته ورسېدو.

هلته کوربنو ښاغلي ماجد سرحدي مرحوم او محترم فضلي صېب مرحوم سټړي مه شي ووئیل.

زمونږ نه وړاندې دوه درې کسان نور هم رارسیدلي وو.

مونږ د کور په لویه تهه خانه کښې راجمع شو او هغه ځائے کښیناستو کوم چې د مشاعرې دپاره بطور خاص جوړ شوے وو.

څه لږه شیبه پس یو سړي د لاسه نیولے یو داسې کس زمونږ طرف ته راکوز کړو چې د چا د لیدو ارمان ما د ډېره وخته کولو.

دا پروفیسر طـــــه خان صېب وو څوک چې په لکهنؤ کښې پیدا شوے دے..په سترګو نابینا دے په اردو ژبه کښې سنجیده او مزاحیه شاعري کوي اوس اوس ورته حکومت پاکستان صدارتي ایوارډ هم ورکړے دے.

د پروفیسر طه خان لوئے کمال دا دے چې د رحمان بابا ټوله شاعري ئې په اردو ژبه ژباړلې ده

په ۶۳۴ صفحو کښې ژباړلے شوے دا کتاب د کلیات رحمان په نوم خپور شوے دے.

د دې ژباړې کمال دا دے چې د رحمان بابا د شعر په زمکه په هغه صوت و اهنګ او هم

په هغه قافيو او رديفو سره په معنوي مفاهيمو او په لفظي تراکيبو تړلې په ټولو محاسنو پوره يوه مکمله ژباړه ده.

ما په ډېر احترام او عقيدت د دوئي شکريه ادا کړه او په ټول پښتون قام مې د دوئ دا پيرزونه يو عظيم احسان وګڼو.

دوئ ما ته يو بل زيرے هم راکړو چې که مرګي مهلت راکړو نو قوم له به يوه بله تحفه ورکوم.

د هغوئ الفاظ دا وو چې: مين نے رحمان بابا کے دريا سے نکل کر خوشحال بابا کے سمندر مين چهلانګ لګائی هے.

يعني پروفيسر صېب څوک چې اردو دان دے او ضغيف العمر دے. د خوشحال بابا د کلياتو د ژباړې کار پئيل کړے دے، چې يقيناً دا به د هغوئ ډېره لويه کارنامه وي.

دومره به ورسره زياته کړم چې په دغه عظيم کار کښې زمونږ هر دلعزيز ملګرے شاعر ښاغلے پروفيسر اباسين يوسفزے صېب هم معاونت کوي. لکه څنګه چې ئې په کليات رحمان کښې ورسره ډېر زيار باسلے دے.

څه لږه شيبه پس د شاعرانو تعداد په زياتيدو شو.

د اکيډمي ادبيات پېښور څانګي ډائيرکټر او د پښتو لوئے شاعر پروفيسر محمد اعظم اعظم هم راغلو.

د دوئ د راتګ نه لږ وروستو پروفيسر پريشان خټک صېب مرحوم د خپل باډي ګارډ او ډرائيور سره راورسيدو.

ما سره ئي ډېره مينه وکړه او زه حيران

شوم چې پروفيسر پريشان خټک صېب زه تقريبا لس پينځلس کاله پس وپيژندم.

د ټول محفل په وړاندې په غير رسمې وينا کښې ئې زما ډېره زياته ستائينه وکړه، او زه ئې يقينا چې د خلقو په مخکښېډېر زيات د احسانونو لاندې راوستم.

زه د زړه له کومې د خټک صېب شکريه ادا کوم.

د خټک صېب او زما تر مينځه لا خبرې شروع وې چې د کوربه له خوا د مشاعرې د شروع کيدلو اعلان وشو.

او ما ته ئې د مشاعرې د پاره مخصوص په سپينو غوړيدلي څادر ونو جوړ په فرشي نشست د ناستې دعوت راکړو.

ماجد سرحدي اعلان وکړو ،چې دا مشاعره به په دوو برخو کښې جريان لري.

اولنۍ برخه به ئې د ميلاد النبي په سلسله کښې او ورسره د اردو ژبې مشهور شاعر پروفيسر نزير تبسم په اعزاز کښې کيږي، چې صدارت به ئې د اکيډمي ادبيات سابقه چئيرمين د پښتو ژبي مشهور پوهان او تاريخ دان پروفيسر پريشان خټک صېب کوي، او د مشر ميلمه د پاره ئې زما (فيروز افريدي) نوم تجويز کړو.چې ټولو ملګرو پرې تائيد وکړو.

ورسره ماجد سرحدي مرحوم د مشاعرې د پاره د قران پاک په تلاوت د باقاعده اغاز د پاره يو ځلمي ته بلنه ورکړه او بيا ئې د نظامت د پاره يو بل د اردو ژبي پروفيسر صېب ته دعوت ورکړو.

هغه د تلاوت کلام پاک نه وروستو محترم چشتي صېب ته د نعت د پاره بلنه ورکړه او زياته ئې کړه چې په دغه مشاعره کښې به د اردو ژبې ستر ليکوال ډرامه نويس او کالم نګار ښاغلے امجد اسلام امجد په خاص توګه شرکت کوي چې درنګ ساعت له به د ائيرپورټ نه راورسيږي.

د اولنۍ برخې کاروائي جاري وه ،چې پريشان خټک صېب ته د صدارتي خطبې وينا وکړې شوه ،ځکه چې هغه د خپلو مصروفياتو له کبله زيات وخت ايساريدلې نه شو.

په دغه دوران کښې امجد اسلام امجد صېب هم تشريف راوړو .ټولو ليکوالانو ورسره په روڼ تندي او تاوده مينه ستړي مه شي وکړل .ما سره ئې د ډېر وخت عليک سليک وو خو دا وخت د هغه په وهم او ګمان کښي هم دا نه وو ،چې ګني زه به په دغه مشاعرې کښې شامل وم.

ځکه چې زمونږ اکثر ملاقاتونه د پاکستان نه بهر شوي وو.

ما محسوسه کړه چې امجد اسلام امجد د خيال نه زه جوړ وتلے يم.

او هغه بيا وروستو زما د خبرې تائيد هم وکړو چې يقينا عجيبه غوندې کيفيت راته مخې ته وو، چې دا کس چې زه ئې پيژنم زما د دماغو نه ئې نوم ولې وتلے دے.

د امجد اسلام امجد د راتلو او ستړي مه شي په وخت پروفيسر طه خان سره د هغه جوړ تازه و نه شو ځکه چې پروفيسر صېب په يوه داسې کرسۍ چې د محفل د دائرې نه لږه وروسته وه ، ناست وو.او لکه څنګه چې هغه

په سترګو معذور دے او په دغه وخت هغۀ لکه د نورو برخه والو د خپلې شوکۍ نه پاسېدلې نه شو ،نو هم دغسې په بې خبرۍ کښې پاتې شو.کله چې محترم امجد صېب په خپل نشست کښېناستو نو پروفيسر صېب ته ئې پام شو او د لرې نه ئې ورته معذرت وکړو چې معافي غواړم ما تاسو ونه ليدلے شوئ.پروفيسر صېب ورته برجسته ځواب ورکړو چې دغه خبره که زه ووايم نو صحيح به وي .

ځکه چې ما په رشتيا نه ئې ليدلې.ټولو سامعينو وخاندل .

امجد اسلام امجد يو ډېر خوش مزاجه انسان دے.هغه او عطاالحق قاسمي چې په يو محفل کښې موجود وي نو دوئ ډېر په خوند لطيفې اوروي چې سړے د خندا نه مړ کړي .

يو ځل په دوحه قطر کښې هغه دوه درې لطيفې داسې واورولې چې تر اوسه ما ته يادې دي .

لکه يوه لطيفه داسې وه ،

چې يو ځل يوه مشاعره جاري وه چې خلقو بې کچه داد ورکولو. هر سړي به واه واه بيا ووايه او مکرر او دوباره اوايه. وئيل او مشاعره ئې ګرمه کړې وه .

يو سړے خاموشه ناست وو اخير دۀ هم په زړۀ کښې ووئيل چې دا ځل په دغه راروان شعر زه هم داد ورکووم اخير دا خلق به څه فکر کوي چې ګني زه بې ذوقه يم ؟ يا په شعر نه پوهيږم .؟

دۀ ورته ځان تيار کړو او چې کله شعر ختم شو نو دۀ چې واه واه او مکرر وئيل غوښتل نو په دا وخت ورته په ذهن کښې د دوباره

تورے هم راغلو نو د هغه د خلې نه چې کوم تورے راووتو هغۀ نه مکرر وو نه دوباره.

خو د دواړو تورو يوه مغلوبه "دوبرر ترې جوړ شو " چې د خلقو د خندا د پاره بس وو.

يوه بله لطيفه داسې وه چې،

يو ځل زۀ (امجد) عطاالحق قاسمي او منير نيازي د لاهور نه سيالکوټ ته د يوې مشاعرې د پاره په موټر کښې روان وو چې په لاره کښې مرحوم منير نيازي صېب ځوک چې د شوګر مريض وو بار بار د تشو بولو د پاره کوزيدو.خو چې لس منټه به تير شو نو هغه به ووئيل .ګاډي روکو پيشاب ارها هے.

خو چې دوه درې ځله دا واقعات تکرار شول نو بيا ئي دا پوښتنه وکړه..يار سيالکوټ تک اب کتنا راسته باقي هے؟

عطاالحق قاسمي ورته سمدستي ووئيل چې بس نيازي صاحب يون سمجهو که دو پيشاب کا راسته ره ګيا هے.

د منير نيازي مرحوم په حواله امجد اسلام امجد په خپله د چين په سفر نامه کښي هم ډير په خوند سره ذکر کړے دے.

چې منير نيازي بې حده ضدي انسان وو او په صحيح معنو کښې پښتون وو کله به چې مونږ ورته د ډسپلين په حواله خبره وکړه چې نيازي صېب لږ دا سګريټ په هر ځائے کښې مه څکوه دا کوربانه چينيان به څه وائي؟ بله دا چې تاسو بائيد په قطار کښې په خپل نمبر ولاړ وسئ.ټول خلق په قطار کښې نيغ ولاړ وي او تاسو د قطار نه بيرته ګوښي ولاړ يئ. چې ښۀ کار نۀ دے.

هغه به سمدستي په قهر شو او دا اعلان به ئې وکړو چې زه نه په قطار کښې ودرېږم نه زه هډو دا کتل غواړم او نه زه تاسو سره ځم.او په کنځلو به لګيا شو.

امجد ليکي چې بيا به چې مونږ ه کوم ځيز هغه ته ښوول نه غوښتل يا به مو په هغه پيرزو نه وو نو هغه به مو وچېړيلو او هغه به د خپل ضد له کبله د هغهٔ ځائے د ليدو نه انکاري شو او محروم به پاتې شو.

امجد ليکي چې زمونږ د چيړلو په وجه هغه د ماوزي تنګ،چون اين لائي محفوظ کړي شوي جسدونه، ديوار چين او ډېر مشهور ځائونو د ليدو نه انکار وکړو او په دغه سفرکښې به هغهٔ ځان له ګوښے په خپل اطاق کښې پروت وو.

عادت سي بنائي هے تم نے منير اپني
جس شهر مين بهي رهنا اکتائے هوئے رهنا

ما په خپله هم نيازي صېب په دوحه کښې ليدلے وو چې د حسن رضوي،امجد او عطا سره راغلے وو دوئي سره يو بل شاعر ډاکټر سعادت سعيد هم وو چې د کتاب نوم ئې کجلي بن وو.

منير نيازي صېب به اکثر په نشه کښې وو او ټولو ته ئې به کنځلې کولې چې دوئ ټولو زما غزلې او نظمونه غلا کړي دي. په خاص توګه حسن رضوي مرحوم ئې ډېر سپک کړے وو.

کسی کو اپنے اعمال کا حساب کيا

دیتے؟
سوال سارے غلط تھے جواب کیا
دیتے؟

اوس بیرته خپل اصل مضمون ته راځم او هغه دا چې

مشاعره بیا روانه شوه.

ډېرو شاعرانو د میلاد النبي او پروفیسر نزیر تبسم صېب په حواله خپل منظوم او منثور کلامونه وړاندې کړل چې پکښې د زنانأو شاعرانو ګڼه برخه هم وه.

ځیني بیوروکریټ نما غوندې کسان داسې هم وو چې هغوئ د ناظم د منع کولو باوجود په انګریزۍ ژبه کښې پخواني لیکلي شوي مضامین واورول.

حالانکه دا مضامین د دې مشاعري سره بے سمونه وو.او څه خاص تاثر ئې نه وو.

بیا په اخېر کښې ناظم دا ذکر هم وکړو چې تاسو ټولو د اردو پښتو او هندکو کلامونه واوریدل او د انګریزۍ تېرې بېرې مو هم برداشت کړي.په دا خبره ټولو برخه والو ډېر زیات وخاندل.

ما په خپل وار په مختصر تقریر کښې امجد صېب ته په رسمي ډول ستړي مه شي ووئیل او د هغوئ سره د ۱۹۸۶ نه واخله تر ۲۰۰۶ پورې د ملاقاتونو حواله هم ورکړه.

او بیا مې د میلاد په حواله د نعت دوه شعرونه او خپل یو غزل هم واورولو.

د نعت مطلع څه داسې وه.

چې الله دربانديې کړي لوئے کرم

دے
پيغمبره! شان دې ځومره محترم
دے

زما نه پس د مشاعرې دوئيمه برخه شروع شوه چې صدارت ئې د پښتو ژبې نوموړي شاعر ښاغلي اباسين يوسفزي صېب وکړو. مشر مېلمه پروفيسر محمد اعظم اعظم صېب وټاکلے شو او د مهمان اعزاز د پاره د لاهور نه راغلي درونډ ميلمه د ښاغلي امجد اسلام امجد صېب نوم تجويز کړے شو.

په مشاعره کښې د اردو پښتو او هندکو ژبې شاعرانو وار په وار خپل کلامونه وړاندې کړل. ډاکټر اعظم صېب خپل کلام او تقرير په مينځني وخت کښې واورولو چې هغه هم د خپلو مصروفياتو له کبله په نيمائي کښې د تللو وينا کړې وه.

د مهمان اعزاز نه اول د مشاعرې صدر پروفيسر اباسين يوسفزي صېب د پښتو ژبې مشهور شاعر اروابشاد سيف الرحمن سليم صېب د پښتو غزل اردو ژباړه واوروله په پښتو کښې به ما يو يو شعر وئيلو او هغه به خپله اردو ژباړه واوروله ، چې ټولو شاعرانو او سامعينو ډېره خوښه کړه.

بيا په اخر کښې امجد اسلام امجد پينځه شپږ نظمونه او غزلې واورولې چې ډېر داد ئې په واخستلو.

د مشاعرې په پائ کښې د ډوډۍ بندوبست هم شوے وو.

په لاره کښې ما د پروفيسر اباسين صېب نه د ټيلويزيون په حواله د هغه د مصروفياتو

پوښتنه وکړه ،نو هغو ئ راته د خيبر نيوز د پاره د خپل اونئيز پروګرام" سلام خيبر" په حقله معلومات راکړل او ورسره ورسره ئې هم په دغه پروګرام کښې د برخه اخيستلو دعوت هم راکړو-

دپروګرام په فارمېټ ئې هم پوهه کړم چې په اصل دا پروګرام په اردو کښې دے. زمونږ مقصد نړئ ته دا ښودل دي چې پښتون دهشت ګرد نه دے -

د ټوپک او بارودو پرته په نورو کارونو هم پوهيږي-

او د دنيا د نورو قامونو په څير د دوئ هم مسئلې شخړي او ستونزې دي-

او د هغې د حل د پاره پښتانه فکر مند هم دي او د حکومت نه د خپلو حقوقو غوښتلو تقاضه هم کوي-

د شپې ۹ بجې اباسين صېب زه د شرين محل سويټ سپين جماعت په خوا کښې کوز کړم دلته زما زوئ عمران څوک چې د فارميسي په فيکلټئ کښې سبق وائي ،د مخکښې نه زما په انتظار ولاړ وو-

زه هغه سره ګاډي کښې کښېناستم او څه شيبه پس خپل کور ته ورسيدم-

په سبا د ريډيو پاکستان ډپټي کنټرولر او زمونږ شاعر ملګرې لائق زاده د اسلام اباد نه تيليفون وکړو چې راروان ايتوار له درځم او انشاالله ليدل کتل به مو هم وشي او راروانو کارونوپه حقله به مرکه هم کوو.

دوه ورځې وروستو لائق صېب پېښور ته راغلو

او ما ته ئې ووئيل چې سبا به د يو پرائيوټ پروډکشن په سټوډيو کښې ستاسو په حقله يو پروګرام کوو، او دا رنګ جامې او واسکټ واچوئ-

زه به درته په ۳ بجې انتظار کووم او تاسو سره به په سيون کلر سټوډيو صدر کښې ملاقات کووم

په سبا ۱۱ بجې خواوشا د پښتو ژبې مشهور مزاحيه شاعر ظفرخان ظفر راغلو ،زمونږ په حجره کښې ټول خلق ورته راغونډ شول او دظفر خان ظفر نه ئې د هغۀ د هائيکو ګانو فرمائيش وکړو -

ظفرخان ظفر ورته ووئيل چې تاسو ئې ماته رايادوئ او زه به درته هائيکو وائيم -

د ظفر ټولې مشهورې هائيکو ګانې چې مونږ واوريدلې، نو ظفر راته داسې هائيکو ګانې هم واورولې کومې چې په عام مجلس يا مشاعره کښې د اورولو نه دي-

هلکانو ظفر ته ډېر زيات داد ورکړو -ظفر راته د خپل کتاب د ناوې لور په دوئيم ځل د چهاپولو زيرے راکړو ،او د شپږ ديرش زرو رسيد ئې راته مخې ته کړو- چې په دا راروانو څو ورځوکښې به دا کتاب هم خپور شي او دا روپۍ به هم لنډول غواړي-

زه د ظفرصېب په مطلب پوه شوم خو ما د دوو نورو کسانو سره د کتابونو په چهاپولو کښې وعده کړې وه، چې په هغو کښې يو چهاپ شوې دے او نوم ئې پشتو ادب کے معمار او بل د پښتو ژبې مشهور شاعر او اديب اروانښاد لطيف وهمي صېب د افسانو کتاب،چې نوم ئې د عودو بوئ دے. چې ډېر

زر د چهاپ د مرحلو نه تیریدونکې دے- اوس چهاپ شوے دے.

نو بس خاموش پاتې شوم-

خو زمونږ یو بل د پښتو قدردان ته مې سمدستي ایس ایم ایس وکړو خو په دغه موقع د قدردان ځواب رانغلو- (هغه قدردان حاجي ګلزار صېب وو چې ظفرخان ته ئې اوس دا کتاب چاپ کړو).

دوه نیمې بجې ما لائق زاده لائق صېب ته ټیلفون وکړو او هغه راته په حیات اباد کښې د پښتون قام مشر ډېر د احترام وړ او ستر راهنما ښاغلي افضل خان لالا کور په نخښه کړو چې دلته راشئ او بیا به زه تاسو سره هم د دغه ځایه لاړ شم-

مونږ په ښوؤلي شوې نخښو د افضل خان لالا کور ته ورسیدو،او لږه شیبه پس د لالا په ډرائینګ روم کښې ناست وو-

لالا راسره ډېر په مینه راشه درشه وکړل او د صحت او کور فامیل تپوسونه ئې وکړل-

لالا او لائق صېب دواړه د لالا په راروان کتاب کار کولو-

هغوئ د کاغذونو لویه مسوده پرانستلې وه، او په ترتیب کولو بوخت وو، زمونږ په راتګ د لږ وخت د پاره دهغوئ په کار کښې لږ ځنډ هم راغلو- او لالا ته ما ووئیل چې که ستاسو د راز څه خبره وي نو زۀ او ظفر به په بله کمره کښې ستاسو تر اوزګاریدو پورې انتظار وکړو-

خو لالا راته ووئیل چې دا مونږ چې څه کوو د قام د پاره دي او چې کله څوک د قام د

پاره څه کار کوي نو بیا به ځان سره قام هم په دغه کار کښې شریکوي ،او د قام سره په مشوره به کار کوي-

زه د لالا په دومره خوږ او د شفقت نه ډک ځواب ډېر خوشحاله شوم -دا زما د لالا سره ورومبې ملاقات وو - ما دلالا لیکونه لوستي وو او د هغه تقریرونه مې هم اوریدلي وو خو لالا مې مخامخ لیدلې نه وو -

زه د لالا اوږد قد ، سپینې ږیرې، روحاني څهرې او د هغه دومره خوږ او ښکلي انداز یقینا ډېر زیات متاثر کړم-

د لالا په باره کښې زما ذاتي رائي دا وه، چې هغه هم لکه زمونږ د نورو لیډرانو په څېر دذاتي فائیدې اخیستلو نه ډډه نه کوي د بې نظیربهټو په وخت د اموركشمېر او سرحداتو د وزرات څوکۍ زما په نظر کښې وه-

بله خبره د لالا د ټول عمر نه بس دغه ایکي پو موقف،چې د لر او بر افغان د سره یو شي او د ډیورنډ کرښه دې ړنګه کړے شي-

لکه زما نور خلق هم د لالا سره په دې خبرو اختلاف رائے کولے شي-

خو د لالا په نیت او د قام سره د مینې په جذبه هیڅوک هم شک نه شي کولے-

ما د لالا سره خپله پیژندګلو وکړه او ورته مې دا خبره واضحه کړه چې مونږ ټول عمر په مسافرۍ کښې تیر کړو او په عملي سیاست کښې چرې موقع په لاس راغلې نه ده خو بیا هم د وطن او قام د غم او فکر نه ځان ژغورلې نه شو -او په سفر کښې هم راسره د وطن د ابادئ فکر مل وي-

ما لالا ته وریاد کړل چې ستاسو سره زما دا وړومبے ملاقات دے خو ستاسو زما په نوم یو لیک راغلې وو کوم چې تاسو څو کاله وړاندې ستاسو د پارټۍ یو کارکن محفوظ جان صېب له ورکړے وو چې په کوم کښې د عالمي کانفرنس په انعقاد او بیا ستاسو د لر او برافغان اود ډیورنډ لائین په حقله د یو سیمینار رابللو خبره او معلومات ورکول وو-

تاسو په ټوله دنیا کښې میشت پښتنو ته په دغه سیمنار کښې د ایجنډې په حقله معلومات ورکړي وو-

لالا ما ته ووئیل چې لائق ستاسو غائیبانه تعارف کړے دے او زه په دې خبره ډېر مطمئین یم چې په بهر دنیا کښې نن سبا پښتانه د وطن او قام په حقله سوچ او فکر لري او د وطن د خوشحالۍ او سوکالۍ د پاره ګټور ګامونه اخلي-

زمونږ د سیون کلر سټوډیو سره تقریبا درې بجې وخت وو -

د لالا سره زمونږ ډېر وخت واوړیدو او د لائق صېب په موبائیل د ټیلیفون څو کرته زنګ راغلو او ورته ئې د راتلو د پاره ووئیل -

لائق صېب ورته معذرت وکړو او د زر تر زره د راتلو او رسیدو وینا وکړه اخیر د لالا نه مونږ په نیمائي کښې راغلو او د هغه د کتاب هغه مسوده هم هغسې پاتې شوه-

بیا زه او لائق صېب تقریبا څه د پاسه پنځه بجې ورسیدو - د سټوډیو مالک او پروډیوسر اشفاق طورو ، کوربه هدایت الله ګل

او ود دې پروګرام ډائرکټر صېب په انتظار وو-

د کوربه صحت خراب وو اوشديد زکام او ټوخے ورته لګيدلے وو-

څه لږه شيبه پس کوربه د لائق زاده صېب انټرويو سر دوباره شروع کړه - د دې نه وړاندې هم د لائق صېب د راروان ټيليوزيوني پروګرام نغمه ګر د پاره انټريوو شوې وه-

خو لائق صېب په هغه مطمئين نه وو -

تقريبا يو ساعت پس د لائق صېب انټرويو خلاصه شوه-

او بيا زه د ميلمه په څوکۍ کښيناستم خو د کوربه هدايت الله ګل طبيعت ډېر خراب وو-

د پروګرام نغمه ګر په حواله د پروګرام کوربه مختصر دومره ووئيل چې دا د هغو شاعرانو او د موسيقۍ د استاذانو په باره کښې يو پروګرام دے چې د چا نغمې ډېرې مشهورې شوې وي.

د هغه شاعرانو نغمې چې په فلم ټيليوزيون کښې ئې د خوښۍ ځائے موندلے وي او هغهٔ موسيقاران چې د چا د نغمو طرزونه او موسيقي د مقبوليت مقام ته رسيدلې وي.

په نغمه ګر پروګرام کښې به د شاعرانو سره ښاغلي هدايت الله ګل صېب انټرويو کوي او د موسيقارانو سره به ښاغلې لائق زاده لائق صېب په سر او تال خبرې کوي.

د موسيقارانو په حقله خو ما ته څه معلومات نه شته خو زما نه وړاندې چې د کومو شاعرانو سره مرکې شوې دي په هغوئ

کښې ډاکټر محمد اعظم ،ښاغلئ رحمت شاه سائل،ښاغلې لائق زاده لائق، ښاغلې هدايت الله ګل او زما نوم فيروز افريدي نومونه شامل دي.

د ځان په باره کښې خو به دومره ووايم چې زما په دغه کسانو کښې مقام داسې دے لکه د استاذانوپه محفل کښې څوک شاګرد کښېنني .البته يو نظم زما د رحيم شاه په اواز کښې مشهور شوے دے او هغه يا قربان نظم دے چې زما په کتاب کښې د "پښتون سندره "په نوم ليکلے شوے نوم لري خو رحيم شاه ورته د "يا قربان" ټائيټل ورکړے دے کوم چې د افغانستان او پاکستان د دوستئ په اساس جوړ البم يارانه کښې خوندي دے.دغه شان يو بل نظم "کوهاټ کښې مې زړګے دے په هنګو کښې مې ځيګر دے" هم په ريډيو او عامو خلقو کښې مشهور دے چې د ماسټر رحيم ګل په اواز کښې ريکارډ شوے دے.

البته دا نور نومونه په هر لحاظ ډېر زيات د قدر او احترام وړ دي.

د دوئ نغمې ،غزلې ،او سندرې د پښتو ژبې او ادب په ځولئ کښې لکه د بيش بها ملغلرو په څېر دي.

زما په انټرويو کښې د هدايت الله ګل طبيعت دومره خراب وو چې کيمره مين او ډائرکټر صېب څو څو ځله د کيمرې ريکارډنګ بند کړو او هغه به بيا رې ټيک شو.

يو خوا د لائيټونو ګرمي وه او په ما خوله روانه وه .بل خوا د بار بار رې ټيک په وجه زما توجه هم بې وزنه غونډې شوه خو څۀ وخت پس ډېر په مشکله زمونږ دغه مرکه

سر ته ورسېده.

او مونږ د سټوډیو نه رابهر شو.

په دروازه کښې دوه درې د ډرامو جینکئ(ډرامه ارټسټس) هم ولاړې وې او زمونږ د تلو انتظار ئې کولو چې دا بلاګان لاړ شي او د دوئي کار وشي.

مونږ مسافرو پښتنو ته داسې قسم نندارې څه عجیبه غوندې ښکاري خوما د لائق زاده صېب نه پوښتنه په دې اساس و نکړے شوه چې دا د شو بز خلق دي دوئي له به هم دغه قسم خلق راځي. ملیان خو به ورله نه راځي.

ما ته عباسي صېب راياد شو چا ته چې ما د خپل زوئے بختیار علي امریکې ته په تلو د خپلې خواشینئ اظهار کړے وو.

ما عباسي صېب ته وئیلي وو چې بختیار هلته په امریکه کښې لوئے لوئے ویښتان پرېښي دي او فرنچ کټ ږیره ئې هم راباندې سمه رانغله.

عباسي صېب ووئیل

یا خدایه چهوړو!! وه امریکه گیا هے،بال شال نهین بڑهائین گے تو کیا کرین گے؟ وهان کوئی قران پڑهنے تهوڑا گیا هے؟

استغفرالله ..عباسي صېب ته ما د خپل او د کورودانې د تربیت په حواله یو اوږد لیکچر ورکړو خو هغه زما دا ټول لیکچر او بیا ن هسې د بوسو بادول وبالهٔ.

زه او لائق صېب چې کله یونیورسټئ ته رانزدې شو نو ما ورته ووئیل چې اباسین صېب له ورځو.

لائق صېب د شپې په دا وخت د اباسين په کور ورتلل شۀ ونه ګنړل او راته ئې ووئيل چې پروفيسر جهانزيب نياز لالا ته فون وکړه که هغه وي نو وربه شو.

ما د لالا کور ته د ټيليفون رنګ ووهلو خو هغه ګوشک پورته نه کړو او دغسې مونږ دواړه خپلو کورونو ته لاړو.

په تلو تلو کښې لائق صېب ته ما په دوئيمه ورځ د خېبر ريډيو له خوا د مرکې د پاره د دعوت په حقله هم ووئيل هغه راته ووئيل چې انشاالله زه به هم درسره ځم.

په سبا زمونږ کور ته د خير اباد نه دوه ډېر قدرمن شاعران اديبان راغلل. دا دواړه په ژبه او قام مئين دي او د شعر و ادب د پرمختګ د پاره هر وخت په هلو ځلو کښې بوخت وي.

دا يو کس خو زه له هغه وخت نه پيژنم، چې ما په سکول کښېسبق وائيلو. هغه هم داسې چې زمونږ په باره کښې د هغه په نوم يو شاعر شته چې ټوله ورځ د کبابو کړهي او انګار ته ناست وي خو په تخيل کښې چرته په ګلستان کښې ګرځي.د دۀ نوم ماصل خان انګار دے.او زه لا وړوکے ووم چې په دغه د کبابو په دکان کښې ئې په کړهي باندې سر ټيټ کړے دے او د هغه وخت نه واخله تر دې دمه د شعرونو دبستان ئې پرانستے دے.

زما د وړوکوالي په ورځو کښي چا ما ته وئيلي وو چې اصلي شاعر ماصل خان اتش دے څوک چې په خير اباد کښې وسي.

ستاسو دا انګار د هغه نقلي دے.

زه ځان خوش قسمته ګڼم چې اصلي ماصل خان

اتش زما دوست او مشر دے او په خپله درنه ځته زما غونډې غريب الوطن ، کشر او د ادب يو ادنٰى چنې کور ته راځې او ما ته د خپل ديدن شرف رابخښې .

دا ماصل خان ۶ فټه او دوه انچې قد لرې او نن هم په دا عمر کښې د ډېرو پنځويشت کلنو ځلمو نه زيات چټک او چابک دے.. الله پاک ورله ډېر عمر او صحت ورکړه امين

دوېم ملګرے هارون رشيد صېب دے چې قام پرسته او د وطن په حال فکرمند دے.هارون په پښتو او اردو دواړو ژبو کښې ليکل کوي او ما شاالله په لږ عمر کښې ئې په ګن شمير کتابونه او ليکنې مينځ ته راغلي او خپارۀ شوي دي . (دا دواړه شخصيات ما د سيد صابر شاه صابر په وساطت پېژندلي دي) .

د هارون او ماصل خان اتش صاحبانو په ما دا هم لوئے احسان دے چې د اجمل خټک بابا غونډې نابغۀ روزګار شخصيت سره ئې زما پيژندګلو کړې ده .

دوئ سره ښه اوږد ګپ روان وو چې د هارون صېب د کتاب

"پشتو ادب کے معمار" خبره مېنځ ته راغله.

دوئ غوښتل چې څو ورځې وروسته د دغه کتاب مخ کتنه وشي او زه ورسره پکښې شريک شم .

ما د دوئ دا دعوت د خپل ځان د پاره درناوے وګڼلو او د دوئ سره په دغه دستوره کښې د ګډون وعده مې هم وکړه.

د ماصل خان اتش او هارون رشيد سره د پښتو ژبې په حواله ډېرې خبرې وشوې .

هارون صېب ووئيل چې په دغه کتاب پسې يو بل کتاب هم چهاپ ته نزدې دے چې په هغه کښې به د پښتونخوا د تير شوو سرکاري افسرانو ،د علمي او ادبي شخصياتو او د جعرافيائي تقسيم او نقشو احوال وي.

دا به يو قسم د حوالې کتاب وي چې خلق به ترې د تحقيق په حقله استفاده کولے شي.

هارون زياته کړه چې "پشتو ادب کے معمار" پسې هم د نورو اديبانو شاعرانو يو بل کتاب هم ليکلے شوے دے او انشاالله چې ستاسو په تعاون به ئې خپور کړم.ما ورته د خپل مکمل تعاون باور ورکړو او د دوئ دا زيار مې وستائيلو.

ماصل خان اتش صېب ووئيل چې انشاالله چې کله دغه د مخ کتنې تاريخ فائينل کړو نو تاسو پسې به يو ځل بيا راشم..ما ورته ووئيل چې خدائے مو هر وخت راواله خو د مخ کتنې د پاره ستاسو په ټيليفون يادګيرنه به هم کافي وي او انشاالله چې زه به ضرور درځم.ما ورته زمونږ د ادبي ټولنې يو بل مسافر شاعر وزير بادشاه جانان صېب ذکر هم اوکړو چې هغه هم راوغواړئ انشاالله چې زه به هغه د ځان سره راولم.

دوئ د مازيګر په وخت زما نه رخصت شول او ما حاجي شير اکبر صېب ته ټيليفون وکړو چې زه اوزګار يم که تاسو سره وخت وي چې لږ چکر ووهو.

هغه راته د ما ښام اووه بجې د تياريدو ووئيل چې انشالله بهر به ګرځو ځان تيار کړه.

لږه شيبه پس زمونږ يو ډير خوږ ملګرې

ميجر ريټائرډ طارق محمود صېب په خپله سوزکي ډبه کښې راورسېدو.

لږه شيبه پس زمونږ يو ډېر خوږ ملګرې ميجر ريټائرډ طارق محمود صېب په خپله سوزکي ډبه کښې راورسيدو.

طارق محمود صېب سره زما پيژندګلو د ورلډ پښتون فاونډېشن په وساطت شوې وه.

هر کله چې ۲۰۰۱ کښې مونږ د فاونډېشن غړي شو نو ميجر طارق محمود د پېښور د چيپټر مشر وټاکلے شو.

ډاکټر زاهد ايوب په امريکه کښې مرکزي صدر شو.

او داکټر کمال خان نائيب صدر شو.بيا وروستو زاهد ايوب صېب استعفٰی ورکړه.کمال خان صدر شو.عمر خان داوړ جنرل سيکرټري جوړ شو.

په ۲۰۰۴ کښې زه د ورلډ پښتون فاونډيشن صدر وټاکلے شوم او د پېښور د مشرانو سره مو د خېبر يونين په هال کښې د اسلاميه کاج اولډ بوائز د پاره جوړ دفتر کښې ملاقاتونه هم وشول.

هلته ميجر صېب طارق زه د ټولو ملګرو سره متعارف کړے ووم او د غرمې ډوډۍ ئې رابانديې هم خوړلې وه.

هم په دغه موقع زما د پروفېسر اباسين يوسفزي صېب سره ملاقات شوے وو

ميجر صېب ته چې کوم فنډز د تعليمي پروژو د پاره د فاونډېشن اوورسيز ملګرو راليږلې وو، هغه ئې ډېر په ايمانداري سره صرف کړي وو او تر اوسه پورې ورسره

چې کوم فنډ پاتې دے، ورسره امانت پروت دے او هر کال ئې زما مخې ته بږدي.

ما ورته لیکلي ورکړي دي چې چرته مناسب سکول کالج ته ئې ورکړه یا اسلامیه کالج ته ئې په چنده کښې ورکړه.خو د میجر صېب زړه مطمئن نه دے نو ځکه فنډ تر اوسه ورسره امانت پروت دے. (دا فنډ اوس تقسیم شوے دے).

زه وائیم چې الله پاک دې میجر طارق محمود غوندې پښتانه نور هم زیات کړي، چې د ملک او قوم په برخه د ښو خلقو تعداد زیات شي.

میجر صېب راته ووئیل چې د ګدون قبیلې مشهور مشر حاجي اجون خان جدون کتاب چهاپ شوے دے او دلته تاسو سره نزدې په تاج اباد کښې وسیږي نو که ستا خوښه وي چې هغه له ورشو؟

کتابونه به ترې راوخلو او د یو تاریخ ساز مشر سره به ستا ملاقات هم وشي.

زه د مشرانو په مجلس کښې ناسته ډېر په مینه کووم.

ما فوراً ځان تیار کړو او د میجر صېب په سوزکي ډبه کښې د اجون خان جدون ځائے ته لاړو.

ملک اجون خان جدون د شپږ اتیا کالو چابک مشر په مخ چې زما نظر پریواته ،نو یو مسحور کن غوندې احساس مې په زړه کښې راوپاریدو.

ډېر د رعب داب ښکلي کړۀ وړۀ او نوراني څهرې انسان دے الله پاک داسې مشرانو ته د صحت او ایمان سره ډېر عمر ورکړه.

اجون خان جدون په نولس سوه دوه شپیتم کال عسوي ۱۹۶۲ کښې د مغربي پاکستان د اسمبلۍ غړے پاتې شوے وو او د ایوب خان مرحوم سره ئې پخه دوستي وه.

اجون خان جدون د خپل وطن علاقه ګدون د پاره ډېر کار کړے دے

حاجي اجون خان جدون خپل نوي چهاپ شوې د اردو او پښتو کتابونه راپیرزو کړل او د قومي ډائیجسټ یو څو کاپیانې ئې هم راکړې په کومو کښې چې د هغه د کتاب سلسله وار قېصه میا شت په میاشت خپرېدله.

زما ملاقات د حاجي اجون خان جدون سره یقینا چې ډېر ګټور وو.

ما او میجر صېب د حاجي اجون خان جدون سره چائے بسکټ وکړل او بیا زمونږ کور ته راستانهٔ شو.

میجر صېب سره تقریباً یو ساعت ناستي نه وروستو حاجي شیر اکبر صېب هم راغلو

د حاجي صېب شېر اکبر به درته څه ووائیم؟

یو اعلي تعلیم یافته د پنځوسو کالو ځوان خو د څوارلسمې صدۍ سوچې پښتون ښکاري.

هر وخت په سر ټوپۍ او ترخ کښي ئې د نري رخت څادر نیولے وي.

مناسب قد نرۍ جماعتي سائز ږیره ،ښکلے جوسه د مینې محبت یو کامله مجسمه ده.

دومره ریشتونے چې چا سره ئې د بېنک د نوکرۍ نه پریښودو پس ته د پراپرټۍ کاروبار په شریکه شروع کړے وو هغه د ځان نه په دې تهمت بېل کړو چې وروره په دې کاروبار کښې چې رشتیا وائې نو لږه موده

پس به د سپين جماعت په خوا کښې کښې دواړه، په ريړه کښې، سبزي خرڅوو.

حاجي صېب ئې بېل کړو او نن دواړه بېل بېل کار کوي.

د حاجي صېب د شراکتي ډلې هغه ملګري ما ته قيصه کوله چې يوه ورځ راته يو سړي ووئيل چې دا کور راته خرڅ کړه.

ما چې کله کور وکتلو نو هغه ته ما ووئيل چې ته بيغمه شه زه به درله کور خرڅ کړم خو که يوه روپۍ نيمه ستا په دغه د اتويشتو لاکهو بېعه شوي کور کښې مونږ ځان د پاره د پاسه کېښوله، چې بيا خفه نه ئې.

ځکه چې مونږ هم بچو له مزدوري کوو.

د کور مالک رضا شو.

څو ورځې پس مونږ کور په ۳۳ درې ديرش لاکهه خرڅ کړو.

چې کله مو پيسې واخيستې او اخيستونکي ته مو د پټواري دفتر ته د راتلو او د سټامپ د ليکلو او رجسټري کولو د پاره ووئيل ،نو ما او دغه د کور خرڅونکې لفافه په ترخ کښې په رکشه کښې کښېناستو. زړۀ کښې مې سوچ وکړو چې د پينځه لاکهه به څنګه ترې بيلې کړم؟

ما په لاره کښې دا کوشش کولو چې دا ۵ پينځه لاکهه روپۍ په څه طريقه ترې بيلې کړم او خرڅونکې ته به اتويشت لاکهه ورکړم.

په دې کشمکش کښې زه دغه ملګري وليدم او ما ته ئې ووئيل چې دا پېسې د لفافې نه ولې بيلوې؟

ما ورته ووئيل چې ستا د اتويشتو لاکهو

سره کار دے درته به ئې درکړم نور ته ولې فکر کوې؟

هغه ووئیل چې ولې دا نورې پیسې؟

ما ورته ووئیل چې ګوره تا ما ته د اتویشتو لاکهو بېعه کړې وه او تا له زه پوره رقم درکوم نور ستا څه کار دے چې ما دا کور په څو خرڅ کړے دے؟

چې کله دا خبره هغه واورېدله نو یوه کریکه ئې وباسله او د روانې رکشې نه ئې پښې شکته کړې چې دومره زیاتې پیسې تا زما په کور واخستې ؟

والله که ئې هډو خرڅ کړم او په مخه روان شو.

نو حاجي شېر اکبر صېب د دې ګوټالو نه وو نو په مخه ئې بیل کړو دا بیله خبره ده چې حاجي شیر اکبر له خدائے تعالٰی په خپل صداقت کښې پراخ رزق رسوي.

حاجي صېب زه د یونیورسټۍ په روډ جوړ یو سلور ډریګون ریستوران ته ورسولم او د سپیشل تهائ سوپ ارډر ئې ورکړو.

ما په زړهٔ کښې دا فکر کوو چې پښتون قوم د وطن کشالو او لانجو له کبله بیخي غرئیز پاتې شوے دے او هیڅ سوشل سرګرمي نه لري.

خو نن چې زه دغه ریستورانونو کښې ناست خلقو ته ګورم نو بیا مې د زړهٔ ته تسلي وشي.

دا بیله خبره ده چې دغه رقم ریستورانونو ته هغه نوکر پیشه خلق راځي چې د بل په جیب ګېډه ډکوي.

ما د حاجي صېب په ډېر اصرار دغه بلنه قبوله کړه. او د فنګر فیش سره سره مې دغه

تهائ سوپ وڅکولو چې پکښې د خېره سره جينګه هم وه .

دا بيله خبره ده چې په دويشت کاله مسافرۍ کښې جينګه خوړل زما ذهن ونۀ منل .

زه لا د حاجي صېب سره ناست ووم چې د بي لالا ټيليفون راغلو .

وئيل هلکه افريديه څنګه ئې؟

ما ورسره ګړه بړه وکړل او د ليدو خواست مې هم ورته وکړو .

بي لالا وعده وکړه خو زما د رخصتۍ تر اخري ورځ پورې ښکاره نه شو . (بي لالا نن سبا زما سره په قطر کښې دے) .

په ريسټورنټ کښې حاجي صېب شير اکبر د تهائي سوپ نه پس چيکن کورن سوب هم راوغوښتو .زما په خيال شير اکبر حاجي ته دغه تهائي سوب څه خاص خوند نه وو ورکړے نو ځکه ئي يوه بله غټه ډونګه د روايتي چکن سوپ راوغوښته چې يقيناً په ما او شير اکبر حاجي دا خوړل لږ زيات هم شول .

چې د ريسټورټ نه بهر راووتو نو ډېر ښائسته باران شروع وو .

د پاکستان د موسمونو ښکلا په نوره ټوله دنيا کښې نۀ ليدل کيږي .

په اوړي کښې باران، خوندور پسرلې،خزان ،ژمے ،اوړے او تاودې سړې هواګانې به تاسو ته په ټول کال کښې څو څو ځله مخې ته رادرومي .

افسوس دا دے چې دغه موسمونو ته زمونږ هغسې تيارے نۀ وي نو کله کله دغه خواږه وختونه سړي ته د مشکلاتو او ستونزو سبب

شي .

د شپې ناوخت زه حاجي صېب کور ته ورسولم.او په کور کښې د کوزيدو سره سم مې سبا له د خېبر ريډيوسره د مرکې د پاره د لائق زاده صېب سره تماس ونيوو.

سبا تقريبا لس بجې مونږ دواړه د کور نه روان شو.څه وخت پس جمرود ته ورسيدو.

ګورنمنټ هائي سکول جمرود ته مخامخ جوړ يو مارکيټ نه مو د باړې او جمرود يو متحرک او ملنګ شاعر رياض افريدي هم راوچت کړو.د رياض سره غائيبانه تعارف خو زما وو ولې مخامخ مو سره ليدل کتل نه وو شوي.

رياض افريدي ته لائيق صېب د مخکښې نه ټيليفون کړے وو.

هغه زما په ليدو ډېر خوشحاله شو.

او مونږ درې واړه په تحصيل جمرود کښې جوړ ايف ايم ريډيو خيبر ته روان شو.

هلته مو د طيب افريدي،او زما کليوال سيد نذري افريدي پرته دوه نورو پروډيوسرانو سره هم ليدل وشول.

د لائيق په ليدو هغوئ نور هم زيات خوشحاله شو.

ځکه چې لائق زاده د دوئي سنئير او استاذ وو.

څه شيبه مو ګپ شپ ګرم کړو.بيا زه د يو اناؤنسر لحاظ احمد سره سټوډيو ته ننوتم

حکومت پاکستان دا ريډيو سټيشن د رائے عامه سمولو په خاطر جوړ کړے دے ځکه چې د

پښتنو په سيمه کښې نن چې کومې ستونځې کشالې او مشکلات دي هغه به يقيناً چې په تاريخي پاڼو کښې تل ځرګند وي . خدائے دې وکړي چې په دا سيمه امن راشي.

د حکومت دا کوشش په خپل ځائے صحيح دے خو نن د ميډيا دور دے او نورې مستندو رسنو او خبرياليو ادارو ته د خلکو ښه په اسانه رسېدل ممکن شوي دي .نو په دغه سوب نن سبا خلق ډېر هوښيار دي او د حکومتونو په غلطو پاليسواو انتظامي کمزوروښه خبر دي.لهذا داسې قسم ريډيو ته څوک ډېر غوږ نه نيسي. البته بيا هم د دغه ريډيو سټيشنونو يو خاص اوريدونکي وي چې زياتره نن سبا د دوئ سره په ټيليفوني مرکو او فرمائيشونو ځان مصروف ساتي.

د ريډيو مرکې نه وروستو مونږ يو ځل بيا د پېښور په لوري روان شو.

په جمرود کښې د سکول سره نزدې مارکيټ کښې مو يو ځل بيا د رياض افريدي نه شوملې وڅښلې. او د هغه نه مو رخصت واخستو.

رياض لکه د سوچې پښتنو ډېر خوږ ،مهمان نواز، او محنتي پښتون دے.

د رياض په کلام کښې پختګي ده.شعر ئې په ادبي معيار پوره او په لغوي تراکيبو او شعري محاسنو مزين وي.

د خېبر د شاعرانو يو خپل رنګ دے،چې د رياض په کلام کې هم ليدلے شي.

ما او لائق زاده صېب د راستنيدو نه پس پښتو اکيډمۍ ته لاړو.د ورتلو نه مخکښې مو د اکيډمۍ د محترمې ډائرکټرې صاحبې سره په ټيلفون تماس ونيوو چې که د هغې اجازت

وي نو مونږ به يو څو شيبو له د ملاقات د پاره ورشو.

د چهټۍ وخت وو خو محترمې ډائرکټرې صاحبې راته په روڼ تندي د ملاقات وخت راکړو.

مونږ د هغوئ دفتر ته ځان ورسوو او د چائيو بسکټو تواضع سره ئې زما او د لائق صېب ميلمستيا وکړه.د رخصتيدو په وخت ئې د اکيډمۍ درې مياشتيزه مجله پښتو او د پروفيسرطه خان د رحمان بابا په اردو کښې ترجمه شوے ديوان هم يوه يوه نسخه راپيرزو کړه.مونږ ئې د زړه د تل نه مننه وکړه او بيا د هغې د دفتر نه راووتو.وخت ډېر وو ما او لائق صېب فېصله وکړه چې د وزيربادشاه جانان کلي ځنګلي ته د هغه د ملاقات د پاره لاړ شو.

ما او لائق زاده صېب په نوي کلي ورغلي سړک د وزيربادشاه جانان کلي ځنګلي ته روان شو .مونږ د هغې نه وړاندې جانان صېب ته څو کرته ټيليفون وکړو خو د هغه ټيليفون بند وو.

مونږ چې کله ځنګلي ته ورسيدو نو د جانان صېب کور ته په پوښتنه ورسيدو..د جانان صېب کور ما د اول نه هم ليدلے وو خو ورځ تر ورځه د ابادۍ په زياتېدو په سيمو او کلو کښې تبديلي او تغير راځي نو ځکه ما په خپل اټکل پېدا نۀ کړو او د کلي والو په مرسته مې ځان وروړرسولو.

د بده شامته هم په دغه ورځ جانان صېب خپل ابائي کلي پستوني ته تللے وو.

د پستونې په يو ټيليفون مو ورسره رابطه وشوه خو اواز ئې سم نشو اوريدلے نو په

دغه سبب مو ورسره سم زړۀ تش نه کړے شو.

ما او لائيق زاده صېب بيرته د ډرئيور سيد حبيب خورئي په مرسته اول پېښور ته او بيا خپلو کورونو يونيورسټئ روډ په لور روان شو.

لائق زاده صېب مو په راحت اباد کښې کوز کړو او بيا وروستو زه خپل کور ته روان شوم.

په سبا زه خپل کلي باړې ته لاړم هلته مو هم د څو خپلوانو سره ملاقاتونه وشول.د ماښام چې راتلم نو ماصل خان اتش او هارون رشيد ټيلفون وکړو چې د هغه د کتاب "پشتو ادب کے معمار" کتاب مخ کتنه به د خېراباد په يو پرائيمري سکول کښي د عبدالله جان مغموم صېب د کتاب خواږه تراخه سره په شريکه په ۲۷ مارچ۲۰۰۸ کيږي.

هغه زما اود وزير بادشاه جانان نومونه د مشرانو ميلمانو په توګه ټاکلي وو.

اود صدارت د پاره ئي د ريډيو پاکستان سټيشن ډائرکټر نورالبصر صېب نوم خوښ کړے وو.

نور البصر او عبدالله جان مغموم دواړه د ريډيو سره تعلق لرونکي دي.

نور البصر د ريډيو سټيشن ډائريکټر شو او مغموم صېب بطور صداکار ارټسټ ريټائرډ شوے وو . د دواړو د ملازمت په رتبه کښې واضحه فرق وو خو د مغموم صېب نوم د اديب او شاعر او يو ځانګړي صداکار په طور ډېر معتبر دے.

د پښتنو په کلواو باندو کښې د ريډيو

اوریدو نکي ډېر دي او ریډیو د دغه بې تعلیمه اولس په ډېره ښهٔ طریقه علمي او کلتوري روزنه کولے شي.

د عبدالله جان مغموم خدمات په دغه حقله د ډېرې ستائینې وړ دي.

مغموم صېب یو روماني شاعر هم دے او د نثر ښه لیکونکے هم دے.

مغموم صېب په خپل ټول ژوند کښې د خپل اولس د اصلاح په غرض د ریډیو په وسیله ښهٔ ډېر خدمت کړے دے.

د مغموم صېب د خدماتو په اعتراف کښې د حکومت پاکستان له خوا په صدارتي ایوارډ تمغه حسن کارکردګي (جائزه) هم نمانځلے شوے دے.

په دغه دستوره کښي د معموم صېب په کتاب "خواږه تراخه" (منثور) او د هارون رشید صېب کتاب پشتو ادب کے معمار" (اردونثر) باندې د خېراباد ادبي ټولنې ټولو ملګرو شاعرانو او ادیبانو خپل خپل تا ثرات په منظوم او منثور شکل کښې وړاندې کړل په میلمانو شاعرانو کښې ډاکټر زبېر حسرت، سید صابر شاه صابر، ښاغلے ماصل خان اتش(کوربه)، نورالبصر او راقم الحروف خپل کلامونه او مقالې واورولې.

وزیر بادشاه جانان د بیمارۍ له کبله په دغه دستوره کښې شریک نهٔ شو.

د غونډې په پائ کښې ما او زما خورئي سید حبیب د ملګرو نه اجازت وغوښتو او د مازیګر وخت خپل کور ته راروان شو.

په لاره چې راتلو نو د اکوړي سره نزدې

اجمل خټک بابا راته مخې مخې ته کیدو خو ناوخته وو نو ما فکر وکړو چې اول خو دا وخت مناسب نۀ دے او بل بیمار هم دے او ضیف هم دے

هغه ته که چا وئیل چې فیروز راغلے دے نو ارومرو به ما سره لیدل وغواړي او به داسې حالت کښې د هغه د صحت د پاره احتیاط پکار وو.

ما وئیل چې پکار خو دا وه چې د دې غونډې نه وړاندې د هغه پښتنې او دیدن له راغلے وے خو بس په پاکستان کښې یو کار هم سمے سر ته نۀ شي رسولے.

زمونږ به د شپې اراده یوه وه او سحر به هغه په څه نه څه وجه بدله شوه او په بله مخه به روان شو.

خېر زړۀ کښې مې پخه اراده وکړه چې انشاالله یو څو ورځو کښې به ورله په خصوصي توګه هم د دۀ د لیدلو په غرض راځم.

په سبا مې وزیر بادشاه جانان ته زنګ ووهلو او د هغه د بیمارئ تپوس مې وکړو.

هغه وئیل چې اوس خو ښۀ یم خو د پروګرام نه پاتې شوم.

جانان صېب دا هم وئیل چې که ستا خوښه وي نو د اجمل بابا لیدلو ته به لاړ شو.

ما ورته په ځواب کښې وئیل چې هغه له زۀ په خصوصي توګه تلل غواړم خو که تۀ غواړې نو دواړه به لاړ شو.

جانان صېب زما په دا خبره ډېر خوشحاله شو او زر تر زره ئې د تللو اراده څرګنده کړه.

جانان صېب سره ما دا خبرې وکړې او بيا زۀ په خپلو کارونوکښې بوخت شوم. هم دغه ورځو کښې د پښتو ژبې يو نوم وړے اولوئے شخصيت د حمزه خان شينواري خوږ يار اروښاد ميا عبدالرحمٰن لوګے صېب هم په حق ورسيدو.

د هغه ټوله شاعري د معاشرې او اولس په اصلا ح باندې ليکلے شوې ده.

د لوګي صېب کمال دا دے چې د لويو لويو شاعرانو او بيا په تېره د حمزه بابا سره دومره داوړد تعلق لرلو برعکس هغه خپل ځا نله يو ځانګړے اسلوب او طرز تحرير لرلو.

لوګے صېب مرحوم کل وختي شاعر وو.هغه که په هر ځائے کښې وسيدو يا چرته هم دېره وو حتٰی چې په جېل کښې ئې اته کاله تېر کړي وو بيا هم د هغه شاعري د زمان او مکان له قيده ازاده په خپل انداز کښې ګړندئ روانه وه.

په جيل کښې ئې د بندي خانې او بنديانو د اصلاح په نيت يو منظوم کتاب هم ليکلے وو.او هم دغه شان د کابل او حج سفرنامواو د خپلو شعري مجموعو پرته د حمزه صېب په ژوند او فن يو کتاب زه او حمزه هم تاليف کړے وو.چې د پښتو په کلاسيک ادب کښې ليکلو شوو کتابونو کښې شميرلے شي.

زما سره خو د لوګي صېب تعلق وو خو د وزير بادشاه جانان صېب سره ئې د استاذ او شاګرد رشته وه.

د لوګي صېب مرګ په جانان صېب يو ژور اثر غورزولے وو.

جانان صېب سره هر وخت په حجره کښې دېره وو. دا لوئے شاعر څه وخت وړاندې کراچۍ ته د ګردو د علاج د پاره تللے وو خو هلته جوړ نۀ شو او پېښور ته ئې ځان راورسولو.

بيا په کمپليکس هسپتال کښې داخل شو.

يو نمسے به ورسره وو. هغۀ به ئې تيمارداري کوله.

يو ماښام ئې خپل نمسي ته ووئيل چې بچيه سوزوکي راوله زما وخت پوره شوے دے.

ټولو خلکو ورته منت زارۍ وکړې خو د لوګي صېب فېصله د کاڼي کرښه وه او بيا د خپل ساز او سامان سره د شپې خپل کور زيارت کاکا صېب ته ئې ځان ورسولو.په بل سبا مازديګر ئې خپل ځان خالق د کائينات ته وسپارلو.

زما د دغه لوئے انسان په حقله دا رائے ده چې په خپله غريبۍ کښې دا سړے يو بادشاه وو.چا ته هم په ژوند کښې ټيټ شوے نه وو د رحمان بابا د شعر مکمل تصوير وو

د ريا خرقه ئې خدائے مکړه په غاړه
رحمان کوږ دستار تړلے قلندر دے

د لرغوني شاعرانو پرته د هيچا د شاعرۍ نه متاثره نه وو،په 21 صدۍ کښې د اوولسمې او اتلسمې صدۍ سوچه پښتون ښکاريدو.هر وخت به ئې قوله لنګي په سر او دروند واسکټ اچولے وو.په غوږونو دروند وو نو هر وخت به ئې غوږونو ته د لوړ اواز اوريدلو مشين لګولے وو.

د نني دور په شاعرانو کښې ئې د حمزه

بابا شاعري خوښه وه.

د لوګي صېب دومره دلچسپ واقعات دي چې که ستاسو په وړاندې مې بيانول شروع کړو نو زما دغه مضمون به بل مخ واوړي او د خپل اصل خيال نه به واوړم.

زه د لوګي صېب د مرګ نه وزير بادشاه جانان صېب خبر کړم.

جنازې ته ئې جوړ نه شوم ځکه چې په دغه ورځ ډېر لوئے باران او جړی شروع شوې وه او هيڅ د ودريدو نوم ئې نه اخيستو.

بل زما ډېر زيات ساړه هم کيدلو او لږ غوندې بيمار هم ووم.

خو په هر صورت د هغه د جنازې نه د پاتې کيدلو خفګان اوس هم زما مل دے.

د لوګي صېب د مرګ خبر ما خپلو ملګرو ته هم ورکړو. اباسين صېب خو چرته د ښار نه بهر تللے وو او د اے وي ټي خيبر خالد خان مې هم په ټيليويزيون د خبر ورکولو په خاطر خبر کړو خو متاسفانه چې ټي وي خو څه کړې چرته په اخبارونو کښې هم په وخت خبر خپور نه شو.

جانان صېب د لوګي صېب جنازې ته ځان ډېر په مشکل حالاتو کښې رسولے وو.

په اوبو کښې ورته موټر هم ډوب شوے وو خو بيا ئې هم په څه چل هنر ځان جنازې ته ورسولو.

په څوارلسم اپريل جانان صېب سحر اته بجې د ټيلفون زنګ ووهلو چې که دې خوښه وي چې د اجمل بابا کور ته د ليدلو د پاره لاړ شو.

ما ورته ووې چې خوښه مې ده ځان تيار کړه زه ستاسو کور ځنګلي ته درځم او د هغې ځائے نه به د بابا کور ته هم لاړ شو او د لوګي صېب مقبرې ته به هم حاضري وکړو.

زه او سيد حبيب د جانان صېب کور ته روان شو هلته د هغه زوړ شاعر ملګرے او ټهيکدار يوسف مياں هم ناست وو او بيا لږه شيبه پس زه ،جانان صېب او مياں يوسف د اجمل بابا کور ته د تلو په غرض اکوړې ته روان شو.

د اجمل بابا سره زما د څو کالو راسې درې څلور خصوصي ملاقاتونه شوي وو. زۀ چې هر کال په رخصتی وطن ته راځم نو يوه ورځ د بابا د ليدلو په خاطر په خصوصي توګه اکوړې ته ځم.

بابا ډېر په مينه ما سره کله د خوشحال بابا مزار ته کله د اټک سيند ته او کله خېر ابادسره د کارتوس په مقام کښې ناسته وکړي او او په خپلو قيمتي ملغلرو خبرو مې مستفيد کړي.

دا هر څه د خير اباد د اباسين ادبي ټولنې د ملګرو په برکت چې په خصوسې توګه د ګران ماصل خان اتش او ښاغلې هارون رشيد صاحبانو او د هغه د ملګرو په وساطت کيږي.

د ذاتي اختلافاتو باوجود که زه دلته د صابر شاه نوم وانخلم نو دا به زما د رپورتاژ د دغه ليکنې سره خيانت وي.

زما ټوله پيژندګلو د پښتونخوا اکثرو شاعرانو سره د صابر شاه په وساطت شوې ده.

بابا يو ځل زه په خصوصي دعوت خپل کور ته

رابللے ووم او بيا ما سره بنفس نفيس د خوشحال بابا مزار ايسوړو ته هم تللے وو او هلته ئې د خوشحال بابا د مزار په حقله د خوشحال خان د نمسو، د خټکو په رويو،او د خوشحال ادبي ټولنې ملګرو په اړه خبرې هم کړې وې.

بابا ما ته د خوشحال خان بابا د شاعرې لور حليمې بي بي د قبر په حقله فرمائيلي وو چې د دغه بي بي د غه مخامخ قبر مونږ هغه وخت وپيژندو کله چې مونږ دغه قبرونه بيا رغول نو د بي بي د قبر د خاور په ډيري د هغې د قبر کتبه (خازۀ ( راوتلې وه چې بيا مونږ دغه قبر په دغه وسيله وپيژندو.

سږ کال بابا د کوره وتلے نه شي ځکه چې ډير ضعيف شوے دے.

وطن ته د راتلو نه وړاندې ما بابا ته ټيليفون کړے وو چې انشاالله وطن ته درشم نو ستا ليدلو له به اکوړي ته درځم.

د نن دغه تګ هم د هغې وعدې ايفا کولو په غرض وو.

جانان صېب، زۀ او يوسف کاکا خېل د پښتون تاريخ د لوئے او عظيم ژوندي ليجنډ کور ته څه کم دولس بجې ورسيدو.

هلته په حجره کښې د بابا خورئي او زوم راته په روڼ تندي ستړي مه شي ووئيل

هغه ته مونږ خپل غرض او غايت وښوو.او دا مو ورته هم ووئيل چې که بابا اودۀ وي نو چې تکليف ورنکړې.

هغه ووئيل چې زه به په کور کښې وګورم او

پوښتنه به وکړم ځکه چې تاسې د دومره لرې نه راغلي يئ نو ليدل كتل ئې خامخا وكړئ. لږه شيبه وروستو هغه راستون شو او په ډېره مينه ئې مونږ د بابا د كور په ډيوډی کښې جوړې شوې يوې کمرې ته ورسولو چرته چې بابا د مخکښې نه زمونږ په انتظار کښې په يوه صوفه کښې کښېنولے شوے وو.

زما نظر چې څنګه په اجمل خټک بابا پرېوتو نو په منډه د ټولو نه وړاندې د هغه خوا ته ورغلم د هغه لاسونه او تندے مې ښکل کړو.

زما نه پس يوسف مياں او وزير بادشاه جانان صېب د اجمل بابا سره ستړي مه شي وکړل ،بيا اجمل بابا مونږ ته د ناستې اشاره وکړه.

د بابا د صحت پوښتنه مو وکړه هغه راته ووئيل چې زما طبي ټيسټونه صحيح دي خو د کمزورتيا له وجې د کټ نه پاسيدے هم نشم.

اوس هم په بړستن کښې پروتووم چې راته چا ووئيل چې فېروز راغلے دے نو ما ورته ووئيل چې فيروز راله خامخا راوله.

بابا مونږ په دغه ورځ خبر کړے نه وو ځکه چې مونږ په خپلو کښې دا مشوره کړې وه چې اکوړي له به ورشو که روغ وو نو انشاالله چې ملاقات به وشي او که زيات بيمار وو يا اوده وو نو زمونږ پوښتنه به هم ضروري وي چې د دغه پښتون ستر ليکوال او شاعر د پاره د نن ورځ مونږ ټاکلې وه.

د اجمل بابا مينه او شفقت وو چې د دومره بيمارۍ او ضَعف په حالت کښې ئې هم مونږ و

بللو او راسره ليدل کتل ئې وشول.

اجمل بابا خپل نمسي ته ووئيل چې دوئ له فوراً چائے راوړه.

او بيا ئې زمونږ ه د قطر د ملګرو او پښتنو پوښتنې وکړې.

بابا راته ووئيل چې د قطرد پښتنو پښتو ته چې ګورم نو دا خلک مو رابانديې نور هم درانه کړل.

بيا ئې راته ووئيل چې کوشش کوئ چې پخپلو کښې مو اتحاد او اتفاق وي.

هغه وفرمائيل چې د بهرنو هيوادونو نه د پښتو په نوم پيسې رادرومي، د ناروے،جرمني،ډنمارک او نورو هيوادونو نه د پښتو ژبې او ادب په نوم پيسې راځي او بيا دلته خلک د يو ځايه دوه دوه او درې درې رسالې او مجلې اوباسي.داسې قسم مقابلې د پښتنو تر منځ اتفاق نه راولي بلکې د دې نه نفاق او بې اتفاقي جوړيږي.

لږه شېبه پس جانان ما ته اشاره وکړه چې زه بابا ته خپل نظم اورول غواړم زما نه وړاندې بابا د جانان په اشاره پوهه شو او ورته ئې ووئيل چې نظم واوروه.

په دومره ضعف او پيرۍ کښې هم د بابا حواس لکه د زلمو په شان تېز دي.

ما ته هغه ورځ رايادہ شوه چې درې څلور کاله وړاندې د اجمل خټک صېب سره زما وړومبې ملاقات په تهکال کښې شوے وو او ماته ئې بار بار وئيل چې نظم واوروه.ما به په ياده څو شعرونه واورول او هغه به بيا ووئيل چې بل ووايه..ما به بيا د بل

نظم یا غزل څو شعرونه واورول او هغه به یو ځل بیا د داد سره سره فرمائیش وکړو .خدائے شته چې ما ته ګرانه ځکه وه چې یو خو ما سره دومره شاعري نشته،بله خبره دا ده چې راته یاد هم نه وو او دریمهٔ خبره دا چې د پښتو نظم بابا ته نظم اورول څه معمولي خبره نه ده.

ما اوریدلي وو چې اجمل ختټک به کله په کابل کښې په جشن استقلال کښې نظم اورولو نو پوره سټیډیم به داسې خاموش شو لکه چې یو کس هم نه وي او خالي شوے وي.

یو سحر به په سامعینو وشو او بېخې به خاموشه شول.

جانان صېب شائید د اجمل بابا د شعري عظمت نه خبر نه وو او که پخپله شاعري مطمئین ډیر وو خو چې بابا ورته اشاره وکړه نو جانان یو نظم واورولو چې یقیناً په نني حالاتو ډیر ښهٔ کوشش شوے وو او اجمل بابا ئې ډیر زیات تعریف وکړو او بیا ئې د جانان ا صېب نه پوښتنه وکړه چې په قطر کښې نور شاعران هم دغسې شاعري کوي؟ ما او جانان ورته ووئیل چې ماشاالله ټول ښه خواري کوي او شاعري ئې هم ښه ده.

اجمل بابا ووئیل چې د قطر دا پښتانه په ما ډیر ګران دي.

بیا ئې جانان صېب ته ووئیل چې تا خو پخپله خوښه نظم واورولو اوس زما په فرمائیش هم یو نظم واوروه.

وزیر بادشاه جانان یو بل معرئ نظم وړاندې کړو د بابا په سترګو کښې اوښکې وځلیدې او ډیر په غریوژن او ژړغوني

انداز کښې ئې جانان ته داد ورکولو.

بیا ورپسې ئې د یو بل نظم فرمائیش هم ترې وکړو.

جانان لکه زما غوندې بې پرواه خو نه وو د ځان سره ئې خپل پوره بیاض راوړے وو او هم د دې ورځې په ارمان وو.

دریم نظم او ورپسې یو غزل ئې هم واورولو.

د اجمل بابا نظمونه او غزل ډېر خوښ شول او ښۀ داد ئې ورکړو.

لږه شیبه پس موسیٰ جان راغلو او بابا ته ئې ووئیل چې هارون الرشید او ماصل خان اتش هم د بابا سره لیدل غواړي.

بابا موسیٰ جان ته ووئیل چې هغوئ راوله.

موسیٰ جان د هغوئ راوستلو د پاره حجرې ته لاړو.

بابا سره زمونږ د ملاقات نه لږه شیبه وړاندې ما اتش صېب ته ټیلیفون کړے وو چې مونږ د بابا ځائے ته رسیدلي یو او تاسو که مونږ سره لیدل غواړئ نو دلته راشئ.

هارون او اتش صاحبان دواړه په مونږ پسې د اجمل بابا ځائے ته راغلل او بیا هغوئ موسیٰ جان د کور ډیوډئ سره لګیدلې کمرې ته رادننه کړل.

هارون رشید د اردو او پښتو بسیار نویس ادیب او شاعر دے د پښتو ادب او تاریخ په حواله ئې په لږ وخت کښې ډېر کار کړے دے او زۀ چې کله هم پاکستان ته د رخصتۍ تېرولو د پاره ځم نو هارون او ګران ماصل خان اتش صېب په اټک کښې زما میلمستیا

کوي او يوه مشاعره هم راجوړوي.

ماصل خان اتش يو ډېر ښه انسان دے د پښتو ژبې او ادب نامتواو ستر شاعردے.دوئ دواړه چې کله کيښناستل نو بابا ورته ووئيل چې تاسو دواړو نه څکه ګيله نه کوم چې دواړه ډېر مصروفه ئې.بيا د چائي څښلو د پاره ئې ورته ووئيل.

دا درې واړه د داسې سيمې سره تعلق لري چې د پښتنو ګڼ شمېر جنګونه هم په دغه ځائے د مغلې لښکرو سره شوي دي.

دا د داسې سيمې بچي دي چې د چا د نيکۀ خوشحال خان خټک او هغه د سرتېرو په بدرګه به د مغل لښکرې تېرېدلے شوې.

اجمل بابا جانان صېب ته بيا ووئيل چې دوئي ته هم څه واوروه.

جانان خو دغه د خدائے نه غوښتل او سم دستې ئې خپل بياض ته لاس کړو.

جانان چې ما ته وکتل نو ما د بابا د ضعف په خاطر جانان صېب ته د ناخوښۍ تاثر ورکړو.

جانان هم د زمانو مسافر دے او په معمولي اشاره هم پوهيږي بياض ئي ورو غوندې بند کړو او اجمل بابا ته ئې ووئيل چې بابا د دوئي سره خو زمونږ ليدل کتل کيږي او بيا به چرته خپل کلام واوروم.

زما خواهش دا وو چې د دې عصر د نظم پلار ته خپل يو نظم نيم واوروم او الله زما خواهش پوره کړو.

ما جانان صېب ته ووئيل چې جانانه

يقينا تا ډېر ستر جرات وکړو چې د نظم

بابا ته د خپل کلام واورولو.او بيا ستا لويه خوش بختي ده چې د بابا نه ئې د خوښې او ستائينې سند هم واخست.

جانان په خندا شو او ماصل خان ته ئې ووئيل چې فيروز ته ګوره چې په ما ئې د بابا تعريف نه پيرزو کيږي. اخير تربور دے کنه.

څه لږه شيبه پس ما ملګرو ته ووئيل چې بابا بيمار دے او ضعيف دے نو که ستاسو خوښه وي چې ترې رخصت واخلو.

بابا په ډيره مينه مونږ رخصت کړو چې بهر راووتو نو ما ماصل خان اتش صېب او د هغه ملګري هارون الرشيد ته ووئيل چې تېر کال زۀ د ستاسو او د اجمل بابا په جلب کښې د لوئے پښتون قهرمان خوشحال بابا زيارت له تللے ووم خو دا جانان صېب لا تر اوسه د هغه د مزار د زيارت نه محروم دے نو که مو خوښه وي چې ايسوړو ته لاړ شو.

مونږ ۵ کسان د اتش صېب په ګاډي کښې د اکوړي په جنوب کښې پرتو غرونو طرف ته روان شو چرته چې د دنيا لويه هستي پښتون شناس شاعر حضرت خوشحال خان بابا د مغلو د اسپو د پښو د ګردونو نه ډير لرې په ايسوړو کښې په ابدي خوب ويده دے دا علاقه د مياګانو ده چې کله د بابا مرقد ته ورسيدو نو يو ځل بيا د غم وريځې راخورې شوې . د بابا د مرقد حالت ناګفته به وو . (اوس پرې کار روان دے)

ګډې بيزې ئې په مزار کښې ګرځيدې.نامکمل مزار ئې هم هغسې وران ويجاړ پروت وو،ورسره جوړو کمرو نه خلکو د بجلي

تارونه دروازې او کهړکۍ ویستلې وې. د ټول کلي ګډې بیزې پکښې ګرځیدې.ورسره نور قبرونه هم په بد حال وو ورسره نزدې کلي د خلکو عدم دلچسپي د حیرانۍ منظر وړاندې کولو.

مونږ یو ځل بیا سوړ اسویلے وویستو او د پښتون قام د خپلو اسلافو سره په دغه بې قدرۍ راته ډېر افسو س راغلو

څه لږه شیبه پس د فاتحې نه وروستو مونږ د اکوړي طرف روان شو

چې اکوړي ته راروان شو نو د خوشحال بابا د شخصیت یو رعب او ژور اثر راباندې حاوي وو.

د افسوس او ملامتۍ یو احساس رابانډې هم سکونډارې لګولې.د پښتون قام په ، بې وسۍ او بې حسۍ هم راته ژړا راتله،زمونږ نه ملنګان او تارک الدنیا خلک هم تکړه دي. خو افسوس چې د پښتون قام ملي او قامي غیرت مړ دے ځکه خو ورته خپل اتلان سپک دي.

په په دغه کشمکش او سوچ او فکر کښې د ایسوړو نه بیا اکوړي ته راورسیدو.د ماښځه وخت وو او د عربو په لامحدوده دولت جوړ یو ښکلي جماعت ته وردننه شو.

دا جماعت دومره پلن،لوئے او ښکلے جوړ شوے وو چې ورته حیران پاتې شوم.

د عربو د سویدي فیملي د یو کس په نفقه د شیر علي باچا په لاس جوړ شوے جماعت او مدرسه یقینا چې د دارلعلوم حقانیه په مقابله کښې وهابي مسلک لرونکو هلي ځلي د سړک په غاره ښه په ښکاره د مسلمانو په مینځ کښې د تفرقې او مسلک پرستۍ ښکاره

ثبوت پیش کولو.

اوس دغه ته ضرورت وو او که نه وو نو اهل علم و دانش په دې خبره ښه پوهیږي.

زما ذهن یو کس طرف ته لاړو چې زۀ ګمان کووم او کیدے شي چې هم دغه شیرعلي باچا وې چا چې ټول عمر د قطر په محکمه شریعه کښې تېر کړے وو او سره د بال بچ سلفي شوے وو.

سلفیان ښۀ دي که بد،دا زما د تشریح وړ مسئله نه ده خو دا حقیقت دے چې دا کس په ټول قطر کښې هیچا هم د پښتون په نوم نۀ پیژندو او نه ئې د یوې آنې کار کوم پښتون له د پښتو په نوم کړے دے.

الله پاک به په دینې اعمالو بخښلے وي خو که پښتني اعمال هم د بخشش یوه ذریعه جوړیدے نو والله که چرته د جنت بوئي هم پرې لګیدلے وے.

د باچا دوه ځامن اوس هم هلته په اوقافو کښې سلفي پېش امامان دي.

د مانځه نه وروستو مونږ په کابل بغلان نومې ریستوران کښې د غرمې ډوډۍ د ماصل خان اتش په ډېر اصرار وخوړه.زما خو پرهیز هم وو او د هوټل ډوډۍ نه ځان هم ساتم خو رشتیا دا دي چې په دغه ورځ د بغلان کابل د ریستوران کبابو ډېر خوند راکړے وو.

د کابل بغلان دا ریستوران د کابل د علومو اکیډمۍ د مشر عبدالله بختاني صېب د خورئي دے او اوس مې دا یقین کیږي چې خورئۍ د ماما د مکتب فکر ملګرو په خاص توګه د خوند او لذت ډک دا طعام په مینه تیار

کړے وو چې ګني د ماما دا ملګري خوشحاله رخصت شي.

که دا جذبه وه او کنه خو زما سلام ماما او خورئي او کوربنو هارون او اتش صاحبانو ټولو ته دے چې ډېره موده پس ئې د چپلي کباب په خوند زمونږ طبعیت ښه کړے وو.

زما خورئيے سید حبیب مونږ سره په ډوډۍ کښې شریک نۀ شو ځکه چې هغه د اجمل بابا په حجره کښې ډوډۍ خوړلې وه.

څه د پاسه په درې بجې مونږ د کوربنو نه رخصت واخیستو.په ټلو ټلو کښې راته ماصل خان اتش د ستر پښتون خوشحال خان خټک په حواله رابللې غونډې کښې دشرکت د پاره کاردونه راکړل چې په نوښار کښې د حج خان په ډیره کښې په اولسم اپریل ۲۰۰۸ کښې ئې تابیا شوې وه.

دوئ ووئیل چې تقریبا ۵۰۰-۶۰۰ کسان رابللي شوي دي

ما ته حاجي ایوب خټک څو ورځې اګاهو هم وئیلي وو چې تاسو د ۱۶ اپریل ټکټ یوې اونۍ ته وځنډوئ او په دغه پروګرام کښې ارومرو برخه واخلئ.

ما د هغه سره د ټکټ وروستو کولو خوښه ښکاره کړه.

خو متاءسفانه چې خپل سفر مې وځنډوو او پخه اراده مې هم وه خو بس دغه پروګرام ته په څه سبب حاضر نه شوم چې یقیناً زما طبعیت په بیا ډېر خراب وو.

دغه غونډه د بابا د مزار په حقله چې کومې ۲۰ لاکهه روپۍ د حکومت ګرانټ منظور شوې وو د هغې دپاره ئې يوه جرګه رابللې وه چې په دغه مزار دا رقم څنګه او په څه طريقه مصرف کړے شي.

دغه غونډې ته د ټولې صوبې شاعران اديبان رابلل شوي وو.

د اکوړې نه چې نوښار ته راورسېدو نو يوسف مياں صېب راته د حج خان حجره په حکيم اباد کښې په نخښه کړه.

مونږ چې کله د نوښار نه راتير شو نو په لاره کښې باران شروع شو.

په لاره کښې مو يو ځل بيا د مياں عبدالرحمن لوګي مرحوم خبرې شروع کړې.

څوک چې لس ورځې مخکښې په حق رسيدلے وو.

زمونږ دا ارده وه چې د لوګي صېب قبر ته به حاضري کوو خو په لاره کښې راسره د لوګي صېب مشر ځوئے مياں قريش مخامخ شو.

هغه ووئيل چې زه خو څنګلي ته روان يم.

مونږ ورسره د لارې په غاړه د مياں صېب لاس نيوه او دعا مغفرت وکړه او هغه مو څنګلي ته ولېږلو.

او مازيګر څلورنيمې بجې چې کله د جانان صېب کلي څنګلي ته ورسيدو نو قريش هلته موجود وو.

د جانان صېب په کور کښې مو ښې ګرمې چائې وڅښلې او بيا کور ته راروان شو.

په لاره کښې باران نور هم تُند شو او چې کله د بهادر کلي د بارې غاړې ته

راورسیدو نو سید حبیب ته مې ووئیل چې دې کلي ته موټر تاؤ کړه څه لږه شیبه پس د رحمان بابا کلي کښې د هغه د نوسي دېرې ته ورسېدو.

زه چۀ د کله نه د خواجه محمد سائیل صېب سره اشنا شوے یم نو د رحمان بابا سره د عقیدت په توګه د سائیل صېب دیدن له یو ځل او کله کله دوه ځله ورځم.

موټر مو ودرولو خو باران ډېر تیز وو.حجرې ته مو سر وردننه کړو.

حجره کښې سائیل صېب نه وو.دا وړومبے ځل وو چې مونږ سائیل صېب په خپل حجره کښې ونۀ لیدو.زه چې کله هم د خواجه سائیل دېرې او حجرې ته راغلے یم نو ایکي یواځې ناست دا محقق او ریسرچ سکالر مې په تحقیقي کارونو بوخت لیدلے دے.

د دۀ په حجره کښې خپله لائیبریري هم ده او د دۀ په تحقیقي کارونو باندې زما غوندې د تاریخ چښې ځانونه د تاریخي واقعاتو نه خبر ساتي.

د سائیل صېب تحقیقي محور په عالمي تاریخ کښې د پښتون ځانګړے کردار دے.

ما په لاره تیریدونکي یو ځلمي نه د سائیل صېب تپوس وکړو هغه په منډه د سائیل صېب کور ته لاړو او هغۀ ته ئې زما د راتلو خبر ورکړو.د سائیل صېب کشرے ځوئے په منډه منډه حجرې ته ځان راورسولو او بیا راته د خواجه محمد سائیل صېب د اپریشن ذکر وکړو چې یقیناً پرې خفه شوم.

هغه کور ته لاړو او څه ګورم چې په تند باران کښې ئې سائیل صېب په خپلو اوږو

اډانه کړے راوستو.

ما ورته شل څله وئيلي وو چې سائيل صېب له تکليف ورنکړې خو چې سائيل صېب خبر شو نو پښتون احساس او ضمير دې ته پرېنښود چې ګنې په دې باران کښې ورته حجره ته وتل څومره نقصان او زيان رسولے شي.

ما چې مشر په دې حالت کښې وليدو نو عجيبه غوندې کېفيت رابانديې راغلو.

زه ئې ډېر زيات د احسان لاندې کړم او ما ته په دې راتګ ځان ملامته ښکاره شو.

څۀ شيبې مو د سائيل صېب سري تيرې کړې او بيا زه او سيد حبيب ترې رخصت شو.

چې کور ته راغلم نو باران نور هم تند او تېز شوے وو.

په سبا زما تګ د باړې په طرف وو چې په لاره کښې يو ناپيژندګلو سړي ټيليفون وکړو چې زما نامه ښائيسته ګل ده او زه تاسره ليدل غواړم.

هغه ته ما ووئيل چې خدائے دې هر وخت راوله خو زه باړې ته روان يم او دوه ورځې پس به پېښور ته راځم نو که څه ضروري خبره وي چې درستون شم.

هغه ووئيل چې داسې څه ضروري خبره خو نشته خو ستا د يو ملګري سره څۀ حفګان راغلے دے نو ما دا نيت کړے دے چې زه ستاسو په مينځ کښې د صلح د پاره لږه خواري وکړم.

ما ورته ووئيل چې ښائيسته ګله ورو ره زه يو مسافر سړے يم او هيچا سره تاؤ تريخوالے نه لرم.تاسو چې د کوم ملګري د

خفګان خبره کوئ نو هغه سره زما کومه پوله پټې شريک نه دے بس په يوه خبره مو سره غلط فهمي راغلې او چې کله دا واقعه شوې ده او ما پکښې خپله خطا محسوس کړې ده نوبې له څه ځنډه مې ورته د معذرت ليک وراستولے وو خو هغه دا خبره کومه چې زما په خيال ډېره معمولي وه مهمه ګرځولې ده او نور زۀ څه کولے شم؟

هغه ووئيل چې زه هم دغه غواړم چې ستاسو په مينځ کښې معمولي غوندې خفګان دے. چې دا لرې شي.

ما ورته ووئيل چې زه به دوه ورځې پس پېښور ته درځم بيا به انشاءالله خبرې وکړو.

دوه ورځې پس چې زه د بارې نه راستون شوم نو محترم ښائيسته ګل زما حجره ته تشريف راوړو او په ټوله خبره مې ځان ورسره پوهه کړو

ښائيسته ګل ډېر خداترس انسان دے په خبره پوهه شو او د بلې ورځې په وعده لاړو.

بله ورځ هغه په خپل کور کښې مونږ ټول راوبللو او بيا مو سره ليدل کتل وشو.

زما هغه زوړ ملګرې هم راغلے وو او کمال دا وشو چې هغه کوم ځائے ناست وي نو بل کس مجال شته چې ترې خبره وکړې خو په دغه محفل کښې هغه بيخي خاموش ناست وو

ما ته د حمزه بابا شعر راياد شو

غل د محبت غلطېدے نه شي
څوک چې په محفل کښې چاته نه ګوري

زه د ملګري مشکور يم چې زما سره ئې روغه

بې له څه شرطونو وکړه او څو ورځې پس ئې زما په اعزاز کښې ډوډۍ هم وکړه او په يو ريسټوران کښې مو د مهي ډيش وخوړو.

په اوولسم تاريخ د خټک قام له طرفه رابللې غونډې ته زه سم نه شوم او چې د کوم کار د پاره پاتې شوے ووم هغه رانه پاتې شو.

په اتلسم زما د کلي يو سنئير ملګرې د اسلام اباد نه زنګ اوهه چې ستا د پاره مې په فرنټئير هاوس اسلام اباد کښې کمره مخصوصه کړې ده او ځان به خامخا رارسوې، ځکه چې ډېره موده وشوه چې مو ليدل کتل نه دي شوي ،چکر به هم ولګي او خبرې اترې به هم وکړو.

دا ملګرے ډېر کاله پس راسره هم کلام وو نو ما ونۀ پيژندو حالانکه ما له الله پاک دا حس راکړے دے چې څوک زما په وړاندې يو ځل خبرې وکړي نو بيا څو کاله پس هم زه د هغۀ کس اواز پېژنم.

دا ملګرے مې ونۀ پېژندو بيا وروستو ئې ځان راوپيژندو دا زمونږ د خپلې قبيلې يو خپلوان وو چې جان عالم افريدي نوم ئې دے او نن سبا په جاپان کښې پريس اتاشي دے.

دا ملګرے زما د پاکستان راتګ نه پس قطر ته تللے وو هغلته هغه زمونږ کور ته د انجنيئر عبدالجبار افريدي صېب سره راغلے وو .دغه ورځو کښې جان عالم د سفير پاکستان اصغر افريدي څوک چې د هغه د تره ځوئے دے او زما هم عزيز دے،په بلنه راغلے وو.

زما ماشومانو د هغوئ خاطر مدارت کړے وو

نو هغه ډېر خوشحاله شوے وو چې زۀ نه ووم خو ما خپل ماشومان لکه د وطن په شان په پښتو او پښتونولي روزلي دي او د وطن او وطن والو په قدر عزت پوهيږي.

ما د هغه سره د وعدې باوجود ځان اسلام اباد ته جوړ نه کړے شو چې هغلته تللے وے ځکه چې زما د تلو وخت هم نزدې وو او ما غوښتل چې يو ځل بارې ته بيا د يوې شپې د پاره لاړ شم او د خپلو ورونو خوئيندو نه اجازت راواخلم،چې د خپل پاک وطن نه يو ځل بيا د روغ کال د پاره تلل وو.

په دغه کالونو کښې زما خواږۀ خواږۀ رشته داران مړه شول زما نيا ابۍ چې زه ئې لوئے کړے ووم او په ايجنسۍ کښې د تعليم او سکولونو نشتوالے هم وو بيا هم د هغې په برکت زما د غۀ څه مات ګډ علمي استعداد جوړ شوے دے، هغه خدائے خپل ځان له وبلله ،بيا زما پلار،زما مور، ورارونه او مشر ورور زما د سترګو نه پناه شول.او ما هغه په خپل لاس سنبهال نه کړے شول.

په پردي هېواد کښې که هر څو زمونږ د ژوند کاروان ښه په خوند روان دے او څه تکليف زحمت هم نه لرو بيا هم د وطن او خپلې خاورې يادونه مو په زړۀ پورې تړلې وي،او په وطن روانو کشالو او د دغه ستونزو په نتيجه کښې هرې پيښې او د دغه پېښو ښکالو ته مو بوخ غوږونه نيولي وي.

په دغه طمع هره ورځ تېروو چې کله خو به د وطن هواګاني زمونږ په نصيب شي.

خدائے زده وطنه چې نصېب به ستا
ديدار شي زمونږ
که زندګي به د سفر زوږند په دار

شي زمونږ
خو بيا هم طمع لرو دا چې خاوره
مور لرو مونږ
کلے حجره پټے درشل لرو او کور
لرو مونږ

د باړې او پېښور د کلي والو رشته دارانو سره د ليدو کتو سلسله يو ځلې بيا پئيل شوه.

خوارۀ ملګري په دغه دوه درې ورځو کښې راغلل او د هغوئ نه مو خدائي په اماني را واخسته.

په ۲۳ اپريل د ماښام په وخت مونږ د پېښور ائير پورټ ته لاړو.

د ماسخوتن په ۸ بجې مونږ په الوتکه کښې ناست په درانه زړۀ د يو بل کال د پاره پردي وطن ته روان شو.

زما هغه د يو نظم شعرونه مې په ذهن کښې تلل راتلل.

وطنه ته چرته کښې پاتې شوې او زه مسافر
مونږ درنه لاړو په ډوډۍ پسې سپيرۀ مسافر

## دويمه برخه
## وطن ته زما د سفر رپورتاژ
## کال ۲۰۰۹ء (مارچ اپريل مئی)

هره نادوده به دې يوسم
ولې شريک دې په يارۍ کښې نۀ منمه

فېروز
افريدي
پېښور

د نور کله په شان دا ځل هم زۀ دکلیزې رخصتۍ تېرولو دپاره د خپل وطن په ګلدرو کښې په دویم مارچ ۲۰۰۹ء موجود ووم. د شپې په یوولس نیمې بجې د قطر په وخت زۀ د پې آئے اے په الوتکه کښې د خوږ وطن په لوري په الوت شوم.

د راتګ نه وړاندې ډېرو ملګرو راته ویریا مشورې راکړې چې دا خپله رخصتي چرته په اروپائي یا مشرق بعید هېوادونو کښې تېره کړه ځکه چې د وطن حالات سم نۀ دي. او هسې نه چې بیا دې ونۀ وینو. ما ورته ووئیل چې زما په وطن پښتونخوا کښې دوه نیم میلئنه پښتانۀ په دغه ناسم حالات کښې اوسیږي نو زما ذات د هغوئ نه ښۀ نۀ دے. زما مجبوري دا ده چې د کال په اخر کښې زما طبیعت د وطن ته د تللو دپاره چمتو شي. او تک کار رانه نۀ کیږي. نو چې یولس میاشتې پوره شي خپل څادر په اوږه راوچوم او خپلې کورودانې ته اووایم چې برقع راواخله بس نور دلته نۀ ایساریږو. وطن کښې یوه یوه نیمه میاشت رخصتي مونږ ته د نوي کال دپاره یو قسم قوت راکوي او یو ځل د یوولسو میاشتو کار دپاره په پردي هېواد کښې د محنت مزدورۍ د مشقت دپاره پستنه خپلو خپلو کارونو ته لاړ شو. ځانونه تروتازه کړو. په دغه غېر حاضرۍ کښې درنې ادبي څټې او خپل خپلوان هم د بلې دنیا په سفر روان شي، او کال مخکښې چې د چا سره مو څو لحظې په خندا خوشحالۍ تېرې کړې وي هغه بیا په نوي کال راتللو کښې زمونږ په وړاندې په نظر نه رادرومي. او په زړۀ کښې مو د جدایۍ یو داغ جوړ شي. تېر کال د ماجد سرحدي مرحوم، سید

رسول ناځاپه مرحوم او لر ترې وړاندې د خاطر غزنوي مرحوم سره ليدل کتل شوي وو.

هغوئ نن نشته، سږ کال د پروفېسر پرېشان خټک نه محرومه شو، څو مياشتې اګاهو د پښتو اردو درانۀ ليکوالان په اخري سفر لاړل. هم دغه شان اصغر لالا، اجمل منصور او بيا نامتو ليکوال اقبال بابو هم د دغه دنيا نه سترګې پټې کړې.

د دې نه پرته د پسرلي په دغه ورځو شپو کښې په وطن کښې د ودونو ا ادبي دستورو لړه هم روانه وي. او دغه شان د ملګرو سره ليدل کتل کيږي.

نور کله به په رحمان بابا لوئے دستورې ترسره کېدلې خو دا ځل د بدامنئ له کبله د رحمان بابا دستوره هم ونکړے شوه. او د ټل ادبي چمن ملګرو له خوا د پښتو عالمي کنونشن دستوره هم وځنډولے شوه. د کومې په حقله چې تېر کال پروفېسر اسير منګل په قطر کښې د ملګرو سره په زور شور د کولو وعده کړې وه خو د بده مرغه د بدامنئ له وجې دا دستوره هم ونکړے شوه. او زۀ چې داسې دستورې د پښتون قام او ژبې دپاره لويه ګټه ګڼم او د اديبانو او شاعرانو دپاره د تحريک يوه ذريعه ګڼم او کوشش کوم چې ځان ورته ورسوم، نه هم محرومه پاتې شوم.

د دويم، دريم، څلورم او پنځم مارچ ورځې شپې ما د خپلو عزيزانو سره کور دننه تېرې کړې. بيا مې ښاغلي اباسين يوسفزے صېب ته د خپل راتګ خبر ورکړو. هغوئ راسره د ليدلو کتول وخت وټاکلو.

حاجي صېب شېراکبر خو په دويمه ورځ راسره

ليدل کړي وو. هغه خو زۀ د خپل مشر ورور په شان ګڼم ځکه د راتلو نه وړاندې مې د قطر نه خبر کړے وو. د هغۀ دومره احسانونه په ما دي چې زۀ ئې په خپل ژوند کښې نشم خلاصولے.

هغه په هره دوېمه، درېمه ورځ ما ته پخپله قطر ته ټيليفونونه کوي او زما د خېر خېريت پوښتنه کوي.

زۀ ورته په بدل کښې د زړۀ د اخلاصه دعا کولے شم نور د هغۀ د احسانونو بدل نشم خلاصولے.

په اباسين صېب پسې مې بيا لائق زاده لائق صېب خبر کړو هغه د هارون شينواري صېب سره زما غريب خانې ته تشريف راوړو، او نوي تازه مو سره ووئيلې.

په اووم تاريخ د مارچ ۲۰۰۹ء راته اباسين صېب د سيند په غاړه د سپوږمۍ د راختلو او نمر پرېوتلو منظر ليدلو دپاره يوولسم مارچ تاريخ د ياد ساتلو ووئيل چې په دغه ورځ به د خېشکو سره په لنډي سيند کښې دغه شپه تېروو. د دغه شپې ذکر ما مخکښې شۀ په تفصيل سره کړے دے.

په دغه دوران کښې زما ملګري هم زما ستړي مۀ شي له راغلل چې په هغوئ کښې سيد صابر شاه صابر، حاجي ګلزار خان، څوک چې د قطر ملګرے او د ادبي سرګرمو سرپرست دے هم راغلل.

هم دغه شان يو دوه ورځې پس د حاجي صېب ګلزار خان په باغ، يوسف باغ کښې د حاجي صېب شېراکبر له خوا د مهيانو ډش کښې زۀ، وزير بادشاه جانان، حاجي مکرم خان،

مسافر خان هلال خېل، سيد صابر شاه صابر، امت بنګش او حاجي صېب افضل خان هم راجمع شول، او د خوند رنګ ورځ مو تېره کړه.

د دې ډوډئ وخت دوه ورځې مخکښې مونږ د حاجي ګلزار په کور کښې ټاکلے وو. چې په هغه ورځ حاجي صېب ګلزار صېب په ډېره مينه په رنګ روډ جوړ يو اټالوي طرز ريستوران ليقي ډيونټر ته ځان سره روان کړو. او هغه ډوډئ مو وخوړه.

په ۱۱ مارچ زۀ او اباسين صېب خېشکو ته لاړو او د سپوږمئ د راختلو او نمر پرېوتلو ننداره مو وکړه او د سيند په غاړه د سېل دپاره جوړو جونګړو کښې مو د موسيقئ د سرونو او د فياض خان د خوږ اواز د ترنم خوند واخستو.

## د لنډي سيند په غاړه يو شپه ۱۱ مارچ ۲۰۰۹ء:

د سپوږمئ د ننداړو په حقله ډېرو شاعرانو شائسته شعرونه ليکلي او په اردو کښې خو ګڼ شمېر سندرې د دغې شپې دسپېځلې حسن او ښکلا يو سحر انګيز منظر کشي کوي.

جب جگ سوئے ہم جاگيں

تاروں سے کريں باتيں

چاندنی راتيں

چودھويں کا چاند ہو تم يا افتاب ہو

جو بھي ہو خدا کي قسم لاجواب ہو

په پښتو کښې يوه سندره چې

سپينې سپوږمۍ وايه اشنا به چرته
وينه ګونګۍ شې ولے
ګونګۍ شې ولے نه وائې حالونه.

او بيا په ګڼ شمير ټپې مصرعې او غاړې د سپوږمۍ په ښائست او ښکلا وئيلې شوې دي او د پښتون کلتور او ادب جوثه ئې د سپوږمۍ په رعنائيو او پلوشو روښانه کړې ده.

څو ورځې وړاندې يو نامتو ملګري ، ستر شاعر پروفېسر اباسين يوسفزي صېب د سپوږمۍ د راختلو او هم په دغۀ وخت د نمر د ډوبيدو منظر ليدلو د پاره د سيند غاړې ته راوبللم.

د دغه منظر ليدلو د پاره د فطرت ښکلا پرستو د ۱۱ مارچ ورځ خوښه کړې وه.

دا سپوږمۍ چې په دې بام راښکاره کيږي
لېوني به په دې کلي کښې راډېر شي
سپوږمۍ راکوزه شه چې ښکل دې کړمه
لکه تصوير د خپل جانان شوې راته

د سپوږمۍ شپې دي ما د زلفو په
زندو وتړه لېونے کېږم
سرۀ لوپټه دې راله کلکه په لېمو
وتړه لېونے کېږم

دا داسې ورځ وه چې سپوږمۍ د خپل روڼ مخ نه ټول حجاب لرې کړے وو او پوره په اب و تاب کښې ئې خپلې جلوې او ښائست ښکاره کړې وو.

د تللو دپاره ماسپښين درې بجې وخت مقرر وو.

اباسين صېب درې نيمې بجے زما غريب خانې ته په خپله درانۀ څښه تشريف راوړو، او په منډه ئې زه په ګاډي کښې لکه د اوښ بار ورځائے کړم.

بار مې ځکه ووئيل چې په دغه ګاډي کښې د مخکښې نه ۵ کسان سوارۀ وو او شپږم ئې زه وروخېژولم اووم۷ مو هم د يونيورسټي ټاون نه راپورته کړو او دغۀ شان په يو ګاډي کښې ۷ کسان د منزل په لور روان شو.

په څوکنو موړ کښې راته حاجي ګلزار خان او مسافر خان هلال خيل هم په انتظار ولاړ وو.

هلته د رسيدلو نه وروستو مو د هغوئ سره ليدل کتل وشول او ورسره نزدې ګېس سټيشن کښې مو د مازيګر مونځ هم وکړو.

څو کسان نور هم راسره ملګري شول چې پکښې شاعر ملګرے عاقل خان او څو افغانان ملګري هم وو.

مازيګر څه پينځه بجې د ازاخيلو سره په چپ لاس د سيند غاړې طرف مو ګاډي ورتاؤ کړل او بيا دوه درې کلو ميټره مزل نه وروستو د سيند په غاړه د يوې غونډۍ په غېږه کښې جوړې چونترې او ورسرۀ جوړې جونګړې ته ورسيدو.

د خېشکو خان ،فياض خان سره د خپل لاؤ لشکر زمونږ استقبال ته ولاړ وو.

هر څومره چې دا ځائے ښکلے وو د هغې نه زيات د دې جونګړي خان فياض خان ښائسته

وو.

سور سپين د مينځني عمر فياض خان د چا تندے لکه د پينځلسمې د سپوږمۍ روښانه،په مخ ئې يوه مستانه مسکا ،مخمورې سترګې او ارته سينه د ميلمانو سترګي مشي ته لاس په نامه ولاړ وو.

چېرے په نه کوئي ملال اورالجهن ماتهے په نه کوئي غم اور شکن په مصداق فياض خان د مېلمنو په راتګ ډېر خوشحاله وو.

د فنون لطيفې په علومو مست دا خان څوک چې ځان د دې جونګړي ملنګ ګڼي

په رښتيا هم د ډېرو اعلي خويونو ملنګ وو.

د ريا حرقه ئې خدائي مکړه په غاړه
رحمان کوږ دستار تړلے قلندر دے

په دې خپله بادشاهۍ کښې دغه ملنګ بادشاه ځان له لکه د رحمان بابا په شان د سيند په غاړه يوه چونتره جوړه کړې ده چې د ورځې د کارونو راغونډولو نه پس مازيګر نه تر ماسختن پورې پکښې ناست وي.

قناعت مې د خرقې لاندې اطلس دے
پټ د درست جهان بادشاه ظاهر ګدا يم

او زمونږ غوندې فطرت پسند ملګري ورته کله کله راغونډيږي.چرته چې فياض خان د يارانو ملنګانو په مينځ کښې پخپله ګدائی او فقيري خوښ دے

بادشاهي د ملنګانو په دعا شي
زه رحمان هله باچا شوم چې ګدا شوم

مازيګر تقريبا ټول ملګري راغونډ شوي وو. د دغه غونډۍ ګير چاپېره سيند تاؤ شوے وو او لړ غونډې ځائے پکښې د موټر د لارې د پاره د خشکۍ او اوبو ترمينځ پاتې وو.او يا فياض خان چرته په ټريکټر بلډوزر جوړ کړې وو.

مونږ لږه شېبه پس د غونډۍ سر ته وختو هلته مو د نمر د پرېوتو ښائسته او حسينه ننداره وکړه.

اباسين صېب د غونډۍ د پاسه خپل روزمره واک هم تر سره کړو .په دغه دوران کښې مونږ ملګرو په سيند کښې د نمر د پلوشو او ډوبېدو خوند اخستو.

د غونډۍ د سروکي نه د ازاخېلو ورشوګانې او د سيند پورې شنه غاړه او بيا په سيند کښې يوه وړه غونډې د چپو والا کيشتئ کښې يو هلک پورې وتل او بيا راپورې وتل يو سيندريز غونډې ماحول جوړ کړے وو.

ځيني ملګري په سيګريټي کشونو بوخت وو.

ځينو پکښې خپل ملګرو ته په موبائيلونو د دې حسين منظر، په شاعرانه پيرائيو او مصرو کښې انځور ګري کوله.

فياض خان د خپلې کېمرې په سترګه د يؤ يؤ ملګري عکس به په خپله اخيستلو او بيا به ئې ورته په ډېره مينه هغه عکس ښوؤلو.

د کوربه د اخلاص دومره خوږ انداز ما په وړومبي ځل ډېر په شدت سره محسوس کړو.

ما په زړهٔ کښې سوچ وکړو، چې پښتون څومره شدت پسند دے.

په مينه کښې هم دومره متشدد دے چې ځان قربانوي ،دومره مخلص دے چې په نياز کښې خپل سر هم د چا نه منع کوي.

مونږه هر چا ته پيرزوئينې د زړګي ورکوو
مونږ نازولو ته په نياز کښې زندګي ورکوو

د ماښام په وخت ځينې ملګري د غونډې نه کوز شول او هلته د ناستې د ځائےے سره نزدې په کبل ئې د ماښام مانځه له تغرونه خواره کړل.

زهٔ، حاجي ګلزار ،فيض محمد،مسافر خان د ټولو په اخره کښې د غونډۍ د سر نه کوز شو او په مانځه کښې مو ځان شريک کړو.

د مانځه د فراغت نه پس، مونږ د کټونو په طرف لاړو او بيا څو شيبې پس اباسين يوسفزي صېب د سپوږمۍ د راختلو اعلان وکړو.

ټول ملګري د سپوږمۍ د نندارې د پاره د کټونو نه را اوچت شول.

په دغه ورځ لږه وريځ هم وه خو د سپوږمۍ سپين مخ ئې پټ نه کړے شو.

سپوږمۍ ورو ورو راختله ،په بل طرف د غروب په افق د سور شفق سرخي خوره وه.

يو سحر انګېز منظر وو.

په دغه وخت ما مسافرخان ته ووئیل چې دا اباسین صېب چې دومره ښکلې شاعري کوي او بیا ځومره ښکلے ګره چې په خپل تخلص" اباسین" لګوي نو د هغې وجه شائید هم دغه د سیند غاړه وي چې دے ورله په تواتر سره رادرومي.

او بیا د اباسین صېب په شاعرئ کښې خو به دغه غورزنګونه خامخا راتلل.

د اباسین یوسفزي صېب د غه خاندان سره ډېر خواږه او زاړهٔ تعلقات دي او د دغه خاندان ټول غړي اباسین صېب د ډېر نزدې نه پیژني.په لاره کښې اباسین صېب هم د دغه فیملي یو بل ملګري ځوک چې د حکومت یو لوئے چاروا کے هم دے ،ډېر په ښکلي انداز کښې د هغه د کریکټر تفصیل بیان کړو.او د هغه سره منسوب د پېښور پوهنتون په زړه پوري خاطرې ئې په بشپړ توګه بیان کړې.

چې د خوند رنګ نه ډکې وې.

مونږ په خپلو کښې ګپ شپ او ټوقې ټقالې کولې.

او فیاض خان خپل لاؤ لښکر ته د ډوډئ او خوراک څښاک هدایت جاري کولو کښې بوخت وو.لږه شیبه پس جنریټر د بجلئ قمقمې روښانه کړې دغه قمقمو د سیند په اوبو کښې داسې ښائسته پلوشې جوړې کړې چې ماحول نور هم شاعرانه شو.

ما د مینې او محبت په موضوع خبرې کولې او چا ته مې ووئیل چې کله انسان د څلویښتو کالو تېر شي نو بیا دا د ځوانئ د دور محبتونه،مینې او عاشقئ ورته یو لیونتوب ښکاري.او په خپل ځان پورې هم

خانـدي .

نـه پـوهېږم چې دفـیاض خان تـر غـوږونـو دا خبره څنګه ورسېده ،خو نـاساپـه زمـونږ د کټ طرف تـه راغلـو .او دومره پـه دلـنشین انـداز کـښې ئـې زمـا د خـبـرې تـائـید وکـړو .

دغه وخت کښې د هغه پـه سترګو کښې یـوه عجیبه غونـدې ځلا ښکاریـده .

او ډېـر پـه مـخمور انـداز ئـې د پـوهـنتـون د یـو استـاذ ذکـر شروع کـړو .

د سپوږمـۍ پـلوشې نـورې هم راخـورې شوې او لـږه شیبه پس څو کسانـو پـه مـخامـخ اوږد او لـوئـے چوپـال کـښې پـردې راځـوړانـده کـړې .

اتـه بجې د چوپـال نـه د مـوسیقـۍ د الا تـو د مشق کـولـو اوازونـه وروړ ورو راتـلل شروع شول .

داسې پـه غېـر مـحسوس انـداز کښې د نـوښار نـه څلـور کسان مـوسیقـاران رابـلـل شوي وو او هغوئ د خپـلـو خپـلـو د مـوسیقـۍ د الا تـو ازمیښتـنه کـولـه ،او د سر تـال مشق ئـې پـئـیل کـړے وو .

ابـاسین صېب مـا او زمـا نـورو مـلګرو تـه پـه چوپـال کـښې د راتـللـو بـلـنـه راکـړه او بـیـا پـه فـرشي نـشت ټـول مـلـګري کـیښناستـل. چې کـلـه مـلـګري راجمع شول نـو د کلارزټ استـاذ یـو راګ وخېژلـو او دومره پـه ژور انـداز کـښې ئـې د راګ سپـړلـو زیـار بـاسلـو چې زمـا زړه ئـې ځان سره ډوب کـړو،بـیـا لـږه شیبـه پس ئـې یـوه خوږه هـنـدي نـغـمـه پـئـیل کـړه .

او مـا تـه انـدازه وشوه چې فـنـکـاران کـه پـښتـانـه دي بـیـا هم پـۀ راګ او راګـنـۍ ښه

خبر دي. او په خپل دې فن کښې استاذان دي.

په باجه باندې د جهانزيب نوشهروي مرحوم ورور سجاد استاذ ګوتې پورې کړې وې په دبله هم د دغه خاندان يو ښه استاذ د مېنځني عمر ډېر په زړۀ پورې سنګت کولو، ورسره په ډهولک يو ځلمي هنرمند ډېر په چټک انداز کښې ملګرتيا کوله، او بيا چې د چا فن په ما يو خوږ اثر کړے وو هغه د کلارزټ يو مېنځيني عمر سور سپين هنرمند وو چې د دې درې واړو نه په شکل صورت کښې هم مختلف وو او په فن کښې ئې هم يو خوږ او سحر کونکے تاثير وو.

د کلارزټ استاذ د هندي يوه نغمه، پيار کرنے والے کبھي ډرتے نهي جو ډرتے هين وه پيار کرتے نہیں.

او بيا ورپسې د نصرت فتح علي خان يوه نغمه.

کسي دا پيار نه ويچېړے ماحول غمژن کړو.

مونږ د دغه نغمو نه خوند اخيستو چې په دغه وخت د دې جونګړي ملنګ فياض خان د سازيندوو سره جوخت کيښنا ستو.

مخې ته ئې درې څلور کاپۍ پرتې وې.ما ته معلومه نه وه چې د نن ستورے فنکار زمونږ دغۀ کوربه خان دے.

دا د حېرت يوه بل دروازه زما په ذهن کښې خلاصه شوه او بيا هغه د حمزه بابا د رباعي نه په خپل خوږ او د سوزه ډک اواز کښې ابتده وکړه او ورپسې يو غزل ئې په ډېر ښکلي او ځانګړي انداز کښې ووئيلو. فياض خان د حمزه بابا ډېرې غزلې په ياده په

خپلو جوړو شوو طرزونو کښې ووئيلې او يقيناً چې په وړومبي ځل ما په خپل ځان او په خوا کښې ناستو ځلمو د وجد يو کيفيت محسوس کړو. فياض خان د يوې لمحې د پاره هم د سُر او لے نه بهر نه شو.

څه وخت پس فياض خان خپلو کسانو ته د جنريټر بندولو او د چوپال د پردو لرې کولو ووئيل او چې کله پردې لرې شوې نو د پينځلسمې سپوږمۍ سپينو پلوشو په سيند او د سيند په غاړه يو نور راخور کړے وو.

ما په وړومبي ځل د سپوږمۍ دومره ښائست او پر نوره ماحول وليدو.

د سيند په غاړه بېخي خاموشي وه او د سپوږمۍ پلوشو يوه عجيبه د سحر ډکه ننداره وړکوله.

يو ځل بيا فياض خان د حمزه بابا او ورپسې د اباسين صيب يو غزل ووئيلو.

په غزلو پسې سلام او قوالي نما غوندې منقبتونه هم ووئيل شول.

او بيا د غني خان غزل پکښې يو بل شان سوز او ساز او يو رنګين غوندې اثر خور کړو.

په دې منځ کښې يو بل ملګري دوه غزلے د اردو پيار بھرے دو شرميلے نين

او

بڑے بے مروت هين يه حسن والے
کبھي دل لګانے کي کوشش نه کرنا

او په دې پسې يو ځل بيا فياض خان

يه دل يا پاګل دل ميرا کيون بُجھه ګيا

اوارګـي.

پـه ډېـر ښکلي او د سوز ډک انداز کښې ووئـيلـو، تـقـريـبـاً د شپې څه د پاسه لسو بجو پـورې د مـوسيقـۍ دا مـحـفـل جاري وو.

يـو وخت مـا مـحسوس کـړه، چې زمـونـږ افـغـانـي مـلـګـرو د راګـنـو سره دومره علاقه نـه درلـوده.ځکه هغوئ پـه مـيـنـځ کـښې يـو يـو پـاسيدو او د سينـد پـه غـاړه ئې د سپـوږمـۍ د پـلـوشو لـطف اخيستو.

د افـغـانـسـتـان پـه جنوب کښې د اتڼ او تـودې مـوسيقـۍ علاقـمـنـد ډېـر دي او هغـوئ ګـرمې لـوبـې خـوښـوي.

چې يـقـيـنـاً د راګ او راګـنـو د سوړ سرور نـه مـخـتـلـف مـوسيقـي ده.

دوئې خپـلـه ويـنـه پـه اتـڼـي مـوسيقـۍ ګـرمـوي.

لـس بـجې د فـيـاض کـسـانـو مـونـږ تـه د کـورنـي چـرګـانـو پـه خـوروا کـښې مـاتـه ډوډۍ او ورسره نـور پـخـلـي کـېښودل.

پـه خوروا کـښې د مـاتـې ډوډۍ چې کـوم خـونـد او لـذت وو هغه يـقـيـنـاً چې د يـاديـدو وړه خـبـره ده.

تـقـريـبـاً يـولـس بـجې د شپې مـونـږ د فـيـاض خـان نـه رخصت واخستو.

ابـاسين صېب ټـول مـلـګري راغـونـډ کـړل د خېر يـوه دعـا ئې وغـوښـتـه د کـوربـه شکـريـه ئې پـه خلاص زړه ادا کـړه او زه چې کـلـه فـيـاض خـان تـه تـر غـاړه وتـم نـو مـا ورتـه ووئـيـل چې فـيـاض خـان زمـا ټـول عمـر پـه مـسافـرۍ کـښې تـېر شو.او د ژونـد پـه خـونـدونـو هيڅ خـبـر نـه شوم خـو نـن چې کـوم خـونـد مـا سـتـاسـو د خـلـوص ډکـې

مېلمستیا او د دغه رنګین محفل نه واخېستو یقینا چې تر باقي عمر به ما ته دغه ننۍ شپه یاده وي.

هغه په جار ووئیل چې کله هم وطن ته راځې نو زما د دغه جونګړې دروازې به ستا د پاره بیرته وي.

او بیا به هم انشاالله خامخا رادرومې.

ما د هغه شکریه ادا کړه او بیا ټول ملګري د کاروان په شکل کښې د سیند د غاړې نه راستانه شو. ما ته د خپل یو وړوکي نظم "خپلې خاورې ته کچې یم" مصرعې رایادېدې.

نه مې شکل کړله په مینه
نه مې سترګو ته رانجه کړه
نه مې مشکو په شان بوئي کړه

شرمینده یم شرمینده یم
خپلې خاورې ته کچه یم

دغه دوران کښې زما ملګرے او مشر مشتاق شباب صېب د خپلو بچو، منصور او مسرور سره زمونږ کور ته راغلل او په ډېره مینه ئې زما سره ناسته وکړه. په تلو تلو کښې ئې راته په یو پروګرام کښې د شرکت کولو دپاره هم وفرمائیل چې ما په ډېره مینه د شباب صېب دعوت قبول کړو.

زۀ چې کله هم وطن ته راځم نو زما کور ودانې ما ته په تکرار سره وائي چې دا ځل به متخصص ډاکټر ته د معائنې دپاره وخت اوباسو. خو زما او د هغې معلومې ناروغۍ دي او دواړه د قطر هسپتال نه دوه میاشتې

پس داروګان راوړو.

دا ځل مونږ د يو ملګري په پېژندګلو د ډاکټر سهېل شيخ کلينک ته لاړو څوک چې په ډبګري ګارډن کښې په خېبر مېډيکل سنټر کښې په دريم طبق کښې مريضان معائنه کوي. اول خو ما ته ځان ډېر کچه ښکاره شو چې مونږ په سفارش دغه ډاکټر صېب ته لاړو ځکه چې زما د غريب وطن غريب خلق څوک چې د افغانستان او د قبائيلي سيمو ډېر د لرې نه راغلي وو او مياشت او دوو نه مخکښې ئې وختونه نيولي وو هغوئ ناست وو او مونږ د هغوئ حق ووهلو، او په سفارش د ډاکټر چوکۍ ته ورسېدو. چې يقيناً ښۀ کار نۀ وو. او د حقداره خلقو سره زياتے وو. بله خبره دا چې څومره چې دا ډاکټر مشهور دے هومره ئې متسفانه د ځان نه د پېسو مشين جوړ کړے دے. زما زړۀ ډېر بد شو.

بل د ډاکټر په کلينک کښې د نارينو د ناستې ځائے هم نۀ وو او د زنانو د ناستې په کمره کښې د ناستي انتظام هم بيخي نۀ وو. ټول نارينه ولاړ وو. او اکثرې زنانه په فرش ناستې وې. او بيا د ټولو نه زيات د خفګان خبره دا وه چې د ډاکټر په کلينک کښې زنانه نرس نۀ وه. زما خيال دا دے چې دا د ډاکټرانو لوئے ظلم دے چې د ځان سره په کلينک کښې نارينه کار کوونکي خو ساتلے شي خو د زنانو د هيسټري اخستلو دپاره زنانه نرس نۀ ساتي.

زما ګمان نۀ دے چې پښتنه کلي والا ښځه به نارينه ډاکټر ته د خپلو ټولو پوشيده بيماريانو په حقله معلومات ورکړي، ډاکټر نه وړاندې که نرس دا هسټري اخستلے نو

هغې به ورته د ټولو بيمارو په حقله هيسټري ورکوله.

خو افسوس چې ډاکټران د خپلو خېټو ډکولو پرته د بل چا د عزت، حيا او ناموس هيڅ خيال نۀ ساتي.

د ډاکټر سهېل شېخ د کلينک نه زړۀ بدي راووتو او د هغۀ د دوايانو کورس مو پوره نکړو او بل ډاکټر ته لاړو. بل ډاکټر چې نوم ئې ډاکټر ناصر الدين اعظم خان دے، په توکل لاړو.

زۀ چې کله په کالج کښې ووم نو د ډاکټر ناصر، ډاکټر رضا، ډاکټر فېروز شاه، ډاکټر کبير، ډاکټر خالد عثمان، ډاکټر جميل، ډاکټر رحيم ګل، ډاکټر عالم افريدي، ډاکټر منظور، ډاکټر محب الله، ډاکټر الف خان، ډاکټر ذکيه منهاس، ډاکټر اشفاق او ډاکټر شفيق نومونه به مو ډېر اوريدل او د هغه وخت دا مشهور ډاکټران وو. ما ته اوس علم نشته چې په دغه ډاکټرانو کښې به څوک ژوندے وي، څوک به مړ وي؟ خو زما په وهم او ګمان کښې هم نۀ وو چې ډاکټر ناصر تر اوسه ماشاء الله ژوندے دے. او باقاعده پريکټس هم کوي. او ښۀ د روغ صحت مالک هم دے. الله ئې عمر نور هم زيات کړه، مونږ د ورارۀ سره تللي وو. ما وئيل چې زما کورودانې د ډاکټر سهېل کلينک ته په تلو خوشحاله نۀ وه او هره ورځ به ئې ګيله کوله چې مونږ هر کال راشو خو ډاکټر ته د معائنې دپاره د تللو جوګه نۀ شو.

ما زړۀ کښې وئيل چې داسې ډاکټر ته لاړ شو چې ځان له خپل کلينک ولري، او زيات

مريضان هم ورته جمع نهٔ وي. چې کله ورارهٔ خليل راته ووئيل چې په ټاؤن کښې يو ډاکټر دے او بيماران ورسره ډېر نهٔ وي. ما ورته ووئيل چې لاړ شه او ته ئې وګوره چې د سحر په وخت کښې کښېني او بل نمبر هم ترې راواخله.

ما زړهٔ کښې ووئيل چې بس لږ په ارام ورته ورشو او د انتظار د زحمت نه بچ پاتې شو. ما وئيل چې که ډاکټر تجربه کار وي او که نهٔ وي خو چې د ډاکټر هغه شرط پوره شي. ګنې مونږ دواړه قطر د هسپتال نه دوه مياشتې پس داروګان راخلو او د تېرو څو کالو راسې ئې بې له څهٔ ناغې خورو.

ما وئيل چې په دريم اپريل زمونږ بېرته ستنېدل دي بس بيا به هلته دوايانې راواخلو.

خو بنده چې څه سوچ کوي هغسې نهٔ کيږي. ډاکټر زمونږ تګ ډېر وخندولو ما چې کله ډاکټر صېب ته د خليل په لاس راوړلي ټيليفون نمبر زنګ ووهۀ نو يو ډېر خوږ او مهربان سړي ټيليفون پورته کړو. او په خوږ اواز ئې زما د پوښتنو جواب راکړو. د هغۀ نوم مهربان شاه وو هغۀ ووئيل چې خان جي سبا به راشئ او ډاکټر ناصر صېب به ستاسو طبي معائنه وکړي. لس بجې راشئ ډاکټر صېب به راغلے وي.

مونږ چې لس بجې ورسېدو نو د ډاکټر صېب نه وړاندې په يوه بله کمره کښې يوه ښځه نرسه ناسته وه. هغې د يوې بيمارې ښځې نه په اوچت اواز کښې معلومات تر لاسه کول. چې په طبي ژبه ورته پېشنټ هيسټري وائي. لږه شېبه پس مهربان شاه په مونږ مهرباني

وکړه او دغه د نرسې خوا له ئې ورسولو.

مونږ په نزدې چوکو کښېناستو. نرسه د هغې بلې زنانه سره لګیا وه او ښۀ کافي وخت ئې د معلوماتو په راغونډولو کښې واخستو.

ډاکټرانو ته زما د اول نه غصه وه کله چې دغه د بلې زنانه هیسټري خلاصه شوه نو مونږ ته نرسې ووئیل چې تاسو مریضان یئ. ما ورته په غصه کښې ووئیل چې ولې ستا څۀ خیال دے چې ګنې مونږ ستاسو تماشې له راغلي یو؟ نرسه سمدستي غلې شوه. او ما کورودانې ته ووئیل چې په دا کرسۍ ورته کښېنه او خپلې ټولې زړې نوې بیمارۍ او وسوسې ورته واوروه. زما کور ودانې ما ته ووئیل چې تۀ به هم ځان ورته ښائې. ما ووئیل چې په ما څۀ شوې دي؟ هغې ووئیل چې بس د تسلۍ دپاره تۀ هم ځان معائنه کړه. ما وئیل ښۀ ده خو تۀ اول دې نرسې ته هسټري ورکړه.

کله چې د نرسې خبرې شروع شوې نو ما د نرسې نه پوښتنه وکړه چې د دې ډاکټر څۀ نوم دے؟ هغې په ډېر ګیله من انداز کښې شروع شوه چې وروره تۀ دا ډاکټر نۀ پېژنې؟ دا ډاکټر ناصر صېب دے. او دا فزیشن دے، سینئر موسټ ډاکټر دے. او لس مریضان ګوري. او دوه ساعته کښېني او بیا ماښام ئې زوئے چې هغه هم متخصص دے مریضان معائنه کوي. ما ترې تپوس وکړو چې دا چرته هغه ډاکټر ناصر خو نۀ دے چې د خویه تریخ دے او کله کله بیمارانو ته کنځل هم کوي؟

هغې ووئیل چې دا هم هغه دے. خو شکر دے د پېسو مشین ئې د ځان نه جوړ کړے نۀ دے.

مریضان پوره نیم ساعت معائنه کوي مخصوص د خېبر ایجنسۍ، باړه او لواړګي خلق ورله راځي. تر کوره پورې د مریض د دوایانو او ټستونو پیروي کوي. او په ټیلیفون هم مریض ته مشورې ورکوي. یو ځل فیس اخلي او تر کومه چې مریض روغ شوے نۀ وي چې هم هغه فیس ئې علاج تر سره کوي.

ما ورته د ډاکټر سهېل قیصه تېره کړه. او د ډاکټر ناصر صېب پنځویشت کاله وړاندینې واقعات مې ورته تېر کړل او ستائنه مې وکړه. بیا ما ورته ووئیل چې د هر څۀ نه زیات ښۀ کار دا دے چې خپل کلینک لري. په ډېګرۍ کښې ناسته نۀ کوي. او ستاسو په شکل کښې ئې یوه تجربه کاره نرسه ئې هم ساتلې ده.

هغې بیا ګیله وکړه چې ستا د اطلاع دپاره عرض کوم چې زۀ ډاکټره یم، نرسه نۀ یم، ما ورنه معذرت اوغوښتو او بیا مې د خپل ځان هسټري هم ورکړه. او د ډاکټر صېب تعریف مې هم وکړو. کوم چې ما ډېر مخکښې د ملګرو نه اورېدلے وو. خو د سخت خوئې نه ئې هم خبر ووم چې کله کله مریض ته سختې خبرې هم کوي چې پکښې کنځل هم شامل دي.

ما ډاکټرې صاحبې ته ووئیل چې زۀ بس دغه یو معلوم مرض لرم او دغه دوایانې باقاعده استعمالوم.

هغې دا هر څۀ په کاغذ ولیکل او د وزن کمولو ګواښ ئې هم راکړو. لږه شېبه پس زۀ او زما کورودانې د ډاکټر صېب کمرې ته ننوتو. د اتیالس کالو یو وړوکے قامت نرے نروچکے سپین ږیرے ډاکټر باندې مې نظر

پرېوتو. ما زړۀ کښې ووئيل چې دا هغه ډاکټر ناصر دے ځوک چې په خپل وخت ډېر زيات شهرت لرلو د صدر پاکستان اعزازي ډاکټر، د خېبر ميډيکل کالج پرنسپل، او وزير هم پاتې شوے دے.

د هغۀ سره مو خپل تعارف وکړو او بيا مو ورته خپل حالات بيان کړل. ما وئيل ډاکټر صېب ستا د تريخ خوئي نه خبر يم خو مونږ مسافر يو. ګذاره به راسره کوې، هغۀ ووئيل چې زۀ که چا ته سخته خبره کوم نو په هغې کښې هم زما شفقت وي. او د مريضانو سره زما د کمټمنټ يو مضبوط دليل هم دا دے چې زۀ د مريض خيال په سنجيدګۍ سره کوم. او د مرض تر جرړو د رسېدلو کوشش کوم.

ډاکټر صېب يو څو ټسټونه وليکل او دوايانې ئې راته تجويز کړې. ما ته ئې ووئيل چې ستا د ځيګر ټسټ کول غواړم د کومې بيمارۍ نه به چې ما نورو خلقو ته نصيحتونه او د قطر نه خپل متعلمينو بچو ته ښوُنه کوله، چې پام کوئ چې بهر بازار کښې خوراک ونکړئ. او ډېر زيات به پرهېز کوئ. د هغې بيمارۍ زۀ پخپله نزدې وه چې ښکار شوے وے ځکه چې زما ځيګر ګرمي اخستې وه. په لسمه او په دويشتمه ورځ بيا بيا زۀ دغه ډاکټر صېب ته لاړم او دغه ټسټونه کوم تر اوسه پورې زما د ځيګر د ګرمۍ شکايت په زياتېدو دے کم شوے نۀ دے.

ډاکټر صېب راته په يوويشتم اپرېل بيا وفرمائيل چې بس دوائي به نۀ خورې، خو يخ خوراکونه کوه او پرهېز کوه. نو دغه ګرمي به ستاسو د ځيګر لږه کمه شي او چې کله نارمل حد ته راشي نو بيا که تاسو قطر ته

تلل غواړئ نو تللے شئ.

زۀ د ډاکټر ناصر په هدايت لا تر اوسه ايسار يم په دغه دوران کښې زما په ادبي غونډو کښې ناست پاسته هم کيږي او د موسم او بارانونو خوندونه هم اخلم. ډاکټر ناصر صېب ته به يو ځل بيا په دوېم د مئی ورځم که ژوند وفا وکړه. وروستو بيا معلومه شوه چې هغه ډاکټره کومې ته چې ما نرس نرس وئيل د ډاکټر صېب مشره لور ده چې يقيناً د ستائنې او ډېره د قدر وړ ده، الله پاک دې دوئ له د دواړو جهانونو کاميابۍ تر لاسه کړي آمين.

زۀ ذکر کول غواړم د ادبي پروګرامونو، دستورو او غونډو چې کومې زما د وطن په ګلدرو کښې د رخصتي تېرولو په دروان کښې وشوې يا کيږي.

ځکه چې اديب او شاعر خپل ملګرو سره په دغه قسم دستورو کښې ناسته خوښوي. د شوق تکميل او تسکين ئې هم وشي او د نوؤ زړو شاعرانو اديبانو سره پېژندګلي هم وشي.

د مارچ په نيمائي کښې د "مل" ملاکنډ ليکوالو شاعرانو په صلح او امن جوړه شوې مشاعرې او غونډې کښې اورول شوو نظمونو باندې مشتمل کتاب مخ کتنه وه. زۀ اباسين يوسفزے صېب ځان سره دغه دستورې ته بوتلم. په دغه دستوره کښې ما يو نظم هم واورولو. لائق زاده لائق هم راسره په دغه دستوره کښې ملګرے وو. د ملاکنډ نوموړے شاعر اقبال شاکر سره مو پېژندګلي هم وشوه. او د خوږ او پښتون دوست ملګري ډاکټر ياسين اقبال يوسفزي صېب سره مو هم وليدل.

هم په دغه ورځو کښې په ارباب لنډۍ پېښور کښې د ارباب صابر حيات کتاب، سوچ تخيل او حقيقت مخ کتنه وه. چې پکښې ډاکټر اعظم اعظم، داد محمد دلسوز، ډاکټر راج ولي شاه خټک، پروفېسر اباسين يوسفزي، ډاکټر يار محمد مغموم، صوفي ولي خان سرحدي او ګڼ شمېر ليکوالانو شاعرانو برخه واخسته.

په دغه دستوره کښې د ډوډۍ بندوبست هم شوے وو. اباسين يوسفزے صېب راته ارباب عبدالودود صېب ځوک چې ډېر سنجيده ناست وو، وښودلو.

د ارباب عبدالودود صېب به ډېرې سندرې نشر شوې وې خو د خيال محمد په اواز کښې "زما د زړۀ قراره راشه، ډېر ژړېدلے يمه بس دے پخلا شه" او "بيا دې يادونه افسانې ښکارې ____ دغه دستور د زمانې ښکاري" ډېر زيات مشهور شوي دي.

هم په دغه دستوره کښې راته ډاکټر اعظم اعظم صېب خپل کتاب چې څو مياشتې وړاندې ئې خپور شوے دے راپېرزو کړو. يار محمد مغموم صېب راته د مارچ په اخره کښې په يوه مشاعره کښې کومه چې دوئ هر کال په ايډورډز کالج کښې د تېرو دېرشو کالو راسې پرله پسې په باقاعده ډول کوي، دعوت راکړو.

د مارچ په هلو ځلو کښې په خېبر ټي وي زما د انټرويو په حقله د خالد خان عمرزوال رابلل او بيا راته د مرکزي دفتر اسلام آباد نه زما په انټرويو بېن لګېدلو خبر هم شامل دي. هغه ووئيل چې کامران صېب وائي چې فېروز آفريدي په نېټ کښې

زمونږ په ټي وي د آئي اېس آئي او سي آئي اے ټي وي تهمتونه لګولي دي. او د ثبوت دپاره ئې هر وخت د شهادت دپاره موجود داود جان نوم مخې ته کړو. ما خالد خان ته ووئيل چې وروره ستا ډېره مننه خو ما هيڅکله هم د ټي وي د انټرويو په حقله پخپله چا ته نۀ دي وئيلي ځکه چې زۀ ډېر کشر يم او زما نه ډېر ښۀ اديبان او شاعران شته. خو تا پخپله ووئيل او ستا مهرباني چې په وخت دې خبر کړم.

زۀ د خپل موقف نۀ هيڅ کله هم نۀ اوړم. دا ټي وي د پښتنو يا پښتو د ترقۍ دپاره نۀ دے جوړ شوے د دي شا ته چې کوم ناولي مقصدونه دي د هغې نه هر څوک خبر دي، او ما چې څۀ محسوس کړي هغه مې ليکلي دي او بيا به ئې هم ليکم. هغۀ راته ووئيل چې که ستا خوښه وي نو چرته به کښېنو او په دغه موضوع به په تفصيل سره خبره وکړو.

ما ورته ووئيل چې تۀ زما مخالف پارټۍ نه ئې نو ځکه تا سره زما خبرې کول عبث دي. هغه خلق دې ځوابونه وکړي څوک چې د دغه ټي وي مالکان او ذمه واران دي.

څو ورځې پس زما مرکه د ګران اباسين صېب په مننه د فاروق مهمند صېب په پروګرام په پي ټي وي نېشنل کښې وشوه چې پوره دوه ساعته جريان ئې لرلو.

د دغه پروګرام کوربانۀ ښائسته زلمے عادل يوسفزے او شوخه اداکاره ارم سحر وو.

په دغه پروګرام کښې د عربو په خاورو د پښتنو بود و باش، کار روزګار، ادبي، سماجي، او ثقافتي هلو ځلو په حقله پوښتنې او د هغې ځوابونه وو. زمونږ ادبي

تنظیم پاک پښتو ادبي ټولنې په حقله معلومات او د دغه تنظیم اغراض و مقاصد او د پښتنو او حکومتي ادارو تر مېنځه د رابطې او وسیلې په حقله معلومات مخې ته راغلل.

پروګرام د شپې په یوولس بجې سر ته ورسېدو. په دغه پروګرام کښې ټولو همکارانو ډېر په مینه او درناوي زما خاطر مدارت وکړو. د حمزه بابا د کلام سره سره یوه اولسي سندره ئې هم په دغه پروګرام کښې شامله کړه. د دې پروګرام نه یو څو ورځې وړاندې په پرېس کلب پېښور کښې جوړې غونډې روداد هم نشر کړے شو. دا غونډه د ارواښاد قلندر مومند صاحبزاده فیضي، دوست محمد خان کامل مومند، ایوب صابر، غني خان او ستر حمزه خان شینواري په یاد کښې رابللے شوې وه.

په دغه رپورټ د دغې خپرونې رنګ بیخي ادبي شوے وو. فاروق مهمند صېب په ډېره مینه زما نظم یا قربان د رحیم شاه په اواز کښې رېکارډ شوې سندره هم وغږوله. دغه پروګرام زما په خپل فکر په هر لحاظ ډېر ښۀ وو. او زۀ ئې د زړۀ د تل نه شکریه ادا کوم چې زما ئې درناوے وکړو. څو ورځې پس بیا د اېډورډز کالج په نوي هال کښې جوړې شوې دستورې ته هم راوبللے شوم دغه دستوره چې خالص په مشاعره تمامه شوه، د ډېر لرې لرې نه ادیبان شاعران راغلي وو. په دغه مشاعره کښې چې صدارت ئې مشر ښاغلي سعدالله جان برق صېب کولو او خصوصي مېلمه ئې د بنون نه راغلے دروند مشر ښاغلے غازي سیال صېب وو. د کالج پرنسپل څوک چې انګرېز وو، پرته د ملاکنډ

اقبال شاکر د هغهٔ یو ملګري چې نوم ئې رانه هېر شو. د اټک خېرآباد نه هارون الرشید، ایوب خټک، د باړې نه قندهار افریدي، د پېښور نه محترم رحمت شاه سائل، محترم همېش خلیل، محترم اباسین یوسفزئ صېب، محترم جمشید مومند، محترم شاهد علي، محترم صوفي ولي خان، محترم اختر حسېن ننګیال، محترم زاهد شېدا، راقم الحروف او ګڼ شمېر شاعرانو ادیبانو برخه واخسته.

مشاعره چې کله سر ته ورسېده نو د ماښام مونځونه مو د کالج په ګراونډ کښې وکړل او بیا راروان شو.

د ښار دغه برخې ته زهٔ په دغه رخصتئ کښې په اول ځل راغلم د دې نه څو ورځې وړاندې دلازاک روډ ته تللے ووم هلته زمونږ ګران ملګري مکرم خان بنګش زمونږ د قطر ملګرو په درناوي کښې د یوې پُرتکلفه ډوډئ انتظام کړے وو. چې پکښې د سلیم بنګش صېب سره ملاقات هم شوے وو. او هغوئ ما ته خپل کتاب راپېرزو کړے وو. په پائې کښې د صابر شاه صابر په فرمائش وړه غونډې مشاعره هم شوې وه.

دغه پروګرام ملګري مکرم خان د خپل زوي د وادهٔ په خوشحالئ کښې چې څو ورځې پس له په دولسم اپرېل کېدونکے وو قطر ته د ځینې ملګرو د ستنېدو له وجې د وخت نه مخکښې ترتیب کړے وو. چې په دې کښې د ملګري مکرم خالص مینه او خپلو ملګرو ته درناوے او احترام ورکول غرض وو. زهٔ ئې د زړهٔ د کومي نه شکریه ادا کوم.

په دغه ورځو کښې پروفېسر اباسین صېب زهٔ

د ځان سره د بي بي سي پېښور څانګې دفتر ته هم بوتلم. هلته مو د ګران کشر شاهين بونيري، او عبدالحئ کاکړ صېب سره ملاقات وشو. دوئ سره د ډيوې ريډيو وائس آف امريکه رحمان الله هم ناست وو.

په وطني حالا تو موګپ شپ ولګوو. په اخره کښې بونيري صېب زما او د محترم اباسين يوسفزي صېب تاثرات د رحمان بابا په حقله ثبت کړل. او غالباً هم په هغه شپه ئې خپاره کړل.

د شاهين بونيري صېب سره زما ملاقاتونه ډېر د مخکښې نه وو. هغه يو ټېلنټېډ زلمے دے. او د پښتو په ژبه، فرهنګ او ادب ئې ژور نظر دے. هغوئ راته په بي بي سي لندن کښې د کار کولو زيرے هم راکړو. چې څو ورځې پس له به هغه د خپلو بچو سره لندن ته درومي او د هغې ځايه به په نشرياتو کښې برخه اخلي.

ما ورته امبارکي ورکړه او ورته مې ووئيل چې بې شکه تهٔ يو قابل، ذهين او تعليم يافته ځوان ئې. او انشاء الله چې که ستا دغه محنت جاري وي نو نورې ډېرې کاميابۍ به ستا په ژوند کښې راشي.

د هغهٔ نه مو رخصت واخستو او مونږ ترې راروان شو. اباسين صېب زهٔ خپل کور کښې کوز کړم او هغه خپل کور ته روان شو.

کتاب روښانه سباؤن:

د ګران ملګري دلاور خان لېوني په مرسته د سروزو ادبي جرګې د غړو کتاب شعري تذکرې "روښانه سباؤن" مسوده مې د ګران اباسين

یوسفزي صېب په مشوره ګران ملګري آدم خان ته د کمپوزنګ دپاره وسپارله. څو ورځې پس هغوئ د کتاب کمپوزنګ خلاص کړو. او د ښاغلي لائق زاده لائق په مشوره مې کتاب ضیاء پرنټنګ پرېس له ورکړو. چې شل پنځویشت ورځې پس ئې کتاب چاپ کړو. دغه کتاب زما حوصله زیاته کړه او د سږني کال دا رپورتاژ مې هم ولیکلو او انشاء الله چې په څو ورځو کښې به دا هم په کتابي شکل کښې چاپ شي.

د پېښور ادبي جرګه رجسټرډ ۱۲ اپرېل ۲۰۰۹ء انتخابات او مشاعره:

په دغه دوران کښې زۀ د پېښور ادبي جرګې رجسټرډ په دعوت د ګران ملګري دلاور خان وقار صېب حجرې ته لاړم. دلاور خان وقار د دغه جرګې په مشرانو کښې دے.

تېر کال هم دوئ زما په اعزاز کښې ډوډۍ او دوه کاله وړاندې په خپله حجره کښې مشاعره رابللې وه.

سږ کال ما سره د هغۀ ملاقات په اولنۍ ورځو کښې وشو. او بیا راته هغوئ په خپله حجره کښې د جرګې د انتخاباتو او ازادې مشاعرې وېنا وکړه.

مونږ په مقرره وخت د وقار صېب حجرې ته ورسېدو.

د دلاور وقار په حجره کښې مو د ښاغلي اظهار الله اظهر، نسیم خان نسیم، سلطان محمد صېب، سفیر الله ناشاد صېب، اختر حسېن ننګیال او ګڼ شمېر ادیبانو او شاعرانو سره ملاقاتونه وشول.

د غونډې اغاز د تلاوت کلام پاک نه وشو. ورپسې دلاور خان وقار صېب د پېښور ادبي جرګې په اغراضو مقاصدو رڼا واچوله. او د انتخاباتو په حقله ئې خبرې وکړې. په دې موقع هغه بې له څۀ مشورې زما نوم د جرګې د صدارت دپاره وړاندې کړو.

ما ډېر زيات معذرت وړاندې کړو او زياته مو کړه چې زۀ په خپل وطن کښې ميشت نۀ يم او په دا کار به جرګې ته زيان ورسيږي. هغۀ ووئيل چې نسيم خان نسيم به ستا کارونه کوي تۀ بس د صدارت دپاره غاړه کېږده.

د ټولو ملګرو نه مشوره واخستل شوه، دوو مشرانو کسانو زما د دليل سره اتفاق وکړ، باقي ټولو ووئيل چې تاسو يعنې زۀ د صدارت دپاره موزون يم. او بايد چې د ملګرو د خواهش احترام وکړم. په ناخولۍ مې د ملګرو د خلوص او مينې ډک دا وړانديز قبول کړو. او دغه شان زۀ د پېښور پښتو ادبي جرګې (رجسټرډ) صدر وټاکلے شوم. وروستو بيا ازاده مشاعره وشوه. او چائيو بسکټو سره د مېلمنو تواضع وشوه.

په دغه موقع ما د ملګرو سره د جرګې په مستقبل خبرې هم وکړې. او د يوې درې مياشتيزې مجلې اعلان مې هم وکړو.

دستار مجله:

ياده دې وي چې د دې نه وړاندې هم مونږ د پښتو دوه مياشتيزه مجله د دستار انټرنېشنل په نامه د پېښور نه څۀ کم درې کاله پرله پسې خپاره کړه.

متسفانه چې دغه مجله اوس د څۀ وجوهاتو له کبله بنده شوې ده. ګڼې زمونږ ګران ملګري او د پښتو مینه وال حاجي ګلزار خان تر اخره حده کوشش وکړو چې مجله دستار دې خپرېږي. خو د بده شامته د مدیرانو په خپل مېنځ کښې د مخالفت او زما د دې مجلې نه څان مبرا کول د دې مجلې په بندولو کښې خنډ پېدا کړو.

دستار مجله ولې بنده شوه؟ دا یوه اوږده قیصه ده زۀ به خپل اند په دې ټکو کښې څرګند کړم چې په مجله کښې د ښو لیکوالو برخه کمه ده. مجله د ادب او ژبې د پرمختګ دپاره په ډېر روغ نېت د قطر ادبي ملګرو په خوښه خپرېدله خو بیا دغه روغ نېت او نېک مقصد نه ذاتي تشهیر او د خپلې نامې سره د وزن زیاتولو هڅې رواني شوې.

بل د مجلې مدیر د پښتونخوا د ډېر ناموړو ادیبانو شاعرانو په خپل وخت سپکاوے کړے وو. نو چې د چا سره به مو ملاقات کېدلو. نو ډېره، ترهه به ئې کوله او په کنایو، اشارو کښې به ئې ګیله کوله. د مجلې مدیر که هر څو چټک او تر خپل علمي استعداد پورې باخبره وو ولې بیا هم د هغۀ نه به کله کله داسې حرکتونه وشول چې په هغې به زمونږ ادیبان شاعران خفه شول. او مونږ به د ډاډ او حوصلې په ځائے شرمندګي محسوس کړه.

زمونږ مقصد چې کوم د ژبې، ادب خدمت کول وو، هغه مدیر صېب په خپل انداز کښې روان ساتلي وو خو د هغۀ ذاتي مخالفتونو زمونږ غېر جانبداره حېثیت برقرار ونۀ ساتلے شو. په دغه سبب زۀ د مجلې د کارکردګی نه

په وړومبي کال ناخوښ ووم. خو د ګران مشر اجمل بابا او داسې نورو کسانو د پرله پسې نصيحتونو له کبله ما د بندولو دا تريخ ګوټ نشو تېرولے.

او اخر ما خپل ځان ترې راټول کړو. حالانکې ګران ملګري حاجي ګلزار خان به څو کرته ما ته وئيلي وي چې تۀ مونږ نه ځان مۀ جدا کوه. او د مجلې خرڅه به زۀ ځان له په يواځې ځان پرې کوم. ولې زما طبيعت پرې راس نۀ راتلو.

نو په دغه مجله بنديدو يقيناً چې زۀ خفه نۀ يم. او که خدائے تعالٰی ته منظوره وه نو د دغې مجلې په بدل کښې به زۀ يوه نوې مجله د پېښور پښتو ادبي جرګې له اړخه شروع کوم.

دغه خبرې ما د جرګې سرپرست اعلٰی ډاکټر هدايت الله نعيم صېب ته هم وکړې. څوک چې په خپل دروند ځان د امبارکی دپاره د خپل ملګري پروفېسر عبدالودود صېب سره زما غريب خانې له تشريف راوړے وو. چې زۀ ئې د احسان لاندې کړم.

د اباسين ارټس کونسل غونډه ١٦ اپريل ٢٠٠٩ء:

کومه خبره چې دروند ملګري او د اباسين آرټس کونس سېکرټري ناموړي کالم نګار پخوانے ډپټي کنټرولر ريډيو پاکستان پېښور ښاغلي مشتاق شباب صېب د يوې غونډې د رابللو کړې وه. د هغې تاريخ دوئ په ١٦ اپريل ٢٠٠٩ء ټاکلے وو. دا غونډه زما په ژوند کښې د ډېر اهميت وړ ده.

دا غونډه د اباسين آرټس کونسل ملګرو د ګران مشر پروفېسر پُردل خان خټک په اعزاز کښې رابللې وه.

د دې غونډې صدر ښاغلے ډاکټر محمد اعظم اعظم صېب وو. او د مشر مېلمه څوکۍ ئې ما ته راسپارلې وه. دوئ په خپله دعوت نامه کښې هم زما نامه د مهمان خصوصي په توګه شامله کړې وه. چې د ټولو نه زيات تکليف پرې سيد صابر شاه صابر صېب ته رسېدلے وو.

زۀ نۀ پوهېږم چې صابر شاه سره زما روغه جوړه هم شوې ده. هغه بيا هم زما درناوے نشي زغملے. ما چې کله د هغۀ نه تپوس وکړو چې زما د نامې سره سرپرست پاک پښتو ادبي ټولنه قطر ليکلي شوي وو. او دا هر چا ته معلومه ده چې د پاک پښتو ادبي ټولنې قطر سره زما او زما د ملګرو څومره تعلق پاتې شوے دے. نو بيا نۀ پوهېږم چې صابر شاه صېب ته چا وئيلي وو چې فېروز د ځان سره سرپرست ولې ليکلي دي؟ حالانکې بيا وروستو ما د ملګرو سره دا خبره زير بحث هم راوسته او هغوئ د دلاور خان لېونې په خُله ماته خپل تاثرات راورسول. زۀ ډېر په خواشينۍ سره د دې خبرې څرګندونه کوم چې د تېرو پنځويشتو کالو راسې پښتانۀ اديبان شاعران ملګري د پښتو ژبې او ادب سره بې لالچه بې غرضه او بې لوثه مينه لري. او د ټولنې سره ډېر مخلص دي، خو د بده شامته زمونږ څۀ ملګري چې په پاکستان کښې دي او د ټولنې سره ئې تعلق هم نشته. زمونږ په مېنځ کښې د نفاق اور خوروي او په خپلو کښې مو بيلوي.

حالانکې د دغه ملګرو سره لا مونږ هيڅ

زياتے نۀ دے کړے. او که دا ووايم چې د دوئ د استعداد او قابليت نه زيات مو ورسره ښېګړې کړې دي، خو بيا هم د دوئ نه زمونږ دغه د پښتو ادب او ژبې خدمت نۀ هضم کيږي.

په دغه غونډه کښې د اردودانو ملګرو نه علاوه پروفېسر پرېشان خټک صېب به نفسِ نفيس ناست وو. او ما سره ئې د قطر په ملګرو ډېر وخت خبرې وکړې. هغوئ دومره تر و تازه ښکارېدل چې زما په وهم او ګمان کښې هم نۀ وو چې ګنې دوه ورځې پس به دغه عظيمه هستي د دې فاني دنيا نه رخصتيږي.

پرېشان خټک صېب د قاضي محمد اصغر صدر پاک يوتهـ سوسائټي قطر او سفير پاکستان محمد اصغر افريدي په حقله هم تپوسونه وکړل. بيا زما سره ئې په پشتون کون او د علم ګدر بارې په علمي او تاريخي هويت خبرې وکړې.

۲۲ کاله اګاهو مونږ پرېشان خټک قطر ته رابللے وو. په هغه موضوع مو خبرې وکړې. بيا څو کاله وړاندې چې کله پرېشان خټک صېب د اکادمي ادبيات اسلام آباد پاکستان چيئرمېن وو، مونږ بارې ته د يو سکول د يوم والدين په سلسله کښې رابللے وو. په هغه ځائے کښې د افريدي قام مشران هم رابللې شوي وو. چې په هغوئ کښې جدران منتظر، ځاځئ حاجي، او حاجي عبدالودود صېب هم وو. په هغه موقع پرېشان خټک صېب د کرک په سوچه خټک والا لهجه کښې تقرير کړے وو. او د علم ګدر بارې په حقله مو په اول ځل د دوئ د خلې واورېدل چې زۀ کله تازه تازه استاذ شوم نو دغه مخامخ د اوبو ګدر ته به راتلم، دلته د مغلو د

زمانې نه هم وړاندې يو علمي پوهنتون وو. په دغه سبب دغه علاقې ته علم ګدر وئيلے شي. هغۀ زياته کړه چې د اورنګزيب عالمګير په وخت کښې د مولانا رومي صېب د قلمي نسخو تلاش کېدلو. نو د ډېر تلاش نه پس دوئ يوه نسخه په ايران کښې دوه په هند کښې او پنځه نسخې په دغه علم ګدر کښې موندلې دي. ما په زړۀ کښې ووئيل چې نن هم په دغه ځائے کښې خلق کُدالې په لاس ګرځي او د زمکې نه بتان او د هغه وخت سکې او اثار قديمه راوباسي.

په دغه غونډه کښې زۀ، اعظم صېب، د موجوده حکومت ايم پي اے منور سلطانه، ښاغلے عبدالروف روهيله، پروفېسر پرېشان خټک صېب او محترم پردل خټک صېب په پريزډيم کښې ناست وو. او لاندې هال "خانه فرهنګ ايران" کښې نور ملګري ناست وو.

په پردل خټک صېب، اسماعيل اعوان صېب، سيد صابر شاه صابر صېب، راقم الحروف، منور سلطانه صاحبه، عبدالروف روهيله صېب، پروفېسر پرېشان خان خټک صېب، ډاکټر اعظم اعظم صېب او د مشاعرې ناظم ښاغلي پروفېسر ناصر علي سيد صېب د خپلو خيالاتو اظهار وکړو. په دغه موقع ژوره مقاله سيد صابر شاه صابر وړاندې کړه. چې هغه بقول د ډاکټر اعظم اعظم د پردل خټک صېب نه زياته په پروفېسر پرېشان صېب مرحوم وه. اعظم صېب د اسماعيل اعوان مقاله خوښه کړه. چې په اردو هندو کښې ئې په پردل خټک ډېر په شګفته انداز کښې تحرير کړې وه.

پروفېسر پرېشان خټک صېب په خپلو خبرو کښې دا انکشاف وکړو

چې د ابتدائي تعليم نه واخله زما تر تخلصه پرېشان پورې او بيا زما په ژوند کښې د پرله پسې کامیابو شا ته چې د چا لاس دے هغه زما مشر ورور پردل خټک صېب دے. هغۀ ووئيل چې په ژوند کښې د وائس چانسلری نه واخله تر اعزازي ډي لیټ ډګری او بيا د دوو پنځوس ملکونو دپاره د هائر ایجوکېشن کونسل دپاره زما نوم تجويز کېدل دا ټول د دې مشر ورور پردل خټک صېب په برکت دي.

پرېشان خټک صېب د خپل پلار د تربيت او بيا د هغه تربيت تر خپله اولاده منتقل کول، او د ډسپلن او اصولو سبق ورکول د خپل خاندان خاصيتونه وبلل. پروفېسر پردل خټک صېب د اباسين ارټس کونسل سره د بې کچه او بې لوثه مينې او تړون ذکر وکړو. او د ملګرو شکريه ئې ادا کړه.

هغه په خپلو خبرو کښې ووئيل چې نن زۀ د پنځه اتياؤ کالو يم. زما ورور پروفېسر پرېشان خټک چې کوم تاثرات زما په حقله وړاندې کړل په دې زۀ دومره خوشحال يم لکه چې زما د ټول ژوند پنځه اتيا کالو معاوضه ئې ما ته ادا کړې وي.

په دغه غونډه کښې سيد شاه صابر چې کومه مقاله وړاندې کړې وه. هغۀ ووئيل چې ما په دې ډېر کار کړے دے او که خدائے ژوند راکړو نو يو کتاب يا پمفلټ به په پردل خټک صېب باندې چاپ کوم.

ما په خپلو خبرو کښې ووئيل چې د پردل خټک صېب سره د مينې او عقيدت په توګه دا کتاب به زۀ په خپل خرڅ د پېښور پښتو جرګې (رجسټرډ) له اړخه چاپ کوم. اګرچې

پکار خو دا وه چې د دې اعلان محکمه ثقافت يا د موجوده حکومت واکدارانو کړے وے. په دغه موقع زما اشاره د ايم پي اے صاحبې طرف ته ده. خو هغې په خپل خطاب کښې بې له خندا هيڅ هم ونۀ وئيلے شو. او دغه يقيناً لکه چې هغې پخپله هم ومنله، چې د دومره لوړو ادبي، علمي هستو ورته په مخکښې خبرې کول مشکل وو.

زۀ د پروګرام په اختتام کښې د خپل ملګري دلاور خان وقار څوک چې زما په درخواست راغلے وو. او د ظفر خان ظفر او متعليم اظهار سره راووتلم او خپلو کورونو ته په سخت باران کښې روان شو.

خېبر ګرلز مېډيکل کالج کښې د پښتو ورځ ۰۹/٤/١٦:

په شپاړسم اپرېل ۲۰۰۹ء ملګري اباسين يوسفزي د ځان سره خېبر ګرلز مېډيکل کالج حيات آباد کښې د پښتو ورځ د نمانځلو په غرض بوتلم.

په دغه دستوره کښې زۀ، ظفر خان ظفر او ډاکټر احمد علي عاجز جچان (منصفان) وو.

پروفېسر اباسين يوسفزى مشر مېلمه وو.

د ورځې په يوولس بجې پروګرام شروع شو، او بيا تر ماسپخين پورې جاري وو. په دغه دستوره کښې د کالج انجونو ډېر د خوند رنګ ډک مزاحيه تقريرونه په سنجيده موضوعاتو او په شعروشاعرئ باندې پروګرام وړاندې کړو. چې يقيناً ښۀ خواري ئې کړې ده.

په دغه موقع مونږ مستحق انجونو په اولنۍ، دوېمې او درېمې جائزې ونمانځلې. په پائې کښې ما خپلې خبرې وکړې او یو نظم پښتنه پېغله ملاله مې واورولو. اباسین یوسفزي صېب او نورو ګډون کونکو هم خپل خپل کلامونه او خبرې اترې وکړې.

په پائې کښې په دغه دستوره کښې برخه اخستونکو انځورونه واخستل او د مېلمنو ئې په چائې خاطر مدارت وکړو.

اهل قلم امن کانفرنس اکادمي ادبيات، ۱۸ اپرېل ۲۰۰۹:

د اهل قلم امن کانفرنس په حقله زۀ ملګري اباسين يوسفزي د وړاندې نه خبر کړے ووم. په شپاړسم اپرېل ئې راته د خېبر ګرلز مېډيکل کالج د پښتو ورځ د نمانځلو په موقع د دغه پروګرام کارډ هم راکړے وو. او راته ئې وئيلي وو چې که د اورسيز ليکوالانو د نمائندګۍ په طور څۀ تاثرات وړاندې کول غواړې نو درې څلور منټه خبرې کولے شې.

د جينکو د مېډيکل کالج دغه پروګرام وروستو په ماښام د پښتو ژبې لوئې عالم، دانشور، محقق، تاريخ دان او بې مثاله مقرر ښاغلے پرېشان خټک صېب هم وفات شو. چې يقيناً په پښتنو ليکوالانو ئې ډېر خفګان خور کړو. په سبا ۱۷ اپرېل ئې هم په حيات آباد کښې خاورو ته وسپارلو. په وړومبۍ ورځ زۀ جنازې ته په څۀ وجه حاضر نۀ شوم. خو بيا وروستو په نولسم او پنځويشم اپرېل د هغوئ کور ته لاړم او د مشر اروا ښاد خټک صېب مو پروفېسر پردل خټک صېب او د کورنۍ نورو غړو ته وکړه.

په اوولسم اپرېل اعظم صېب راته په اهل قلم کانفرنس کښې د څو دقيقو خبرو کولو دعوت راکړو. ما د نني حالاتو په تناظر کښې د وطن نه لرې اديبانو شاعرانو انديښنې څرګندې کړې. او د مذهب په نوم دغه راتپلې جنګ کښې د وطن د تباهۍ او د قلم د خاوندانو د ذمه وارۍ په حقله خپل تاثرات وليکل.

د غونډې دستوره په لس نيمې بجې شروع شوه د سټېج نظامت ئې پروفېسر اباسين يوسفزي صېب کولو.

په اولني نشست کښې د اکادمي ادبيات چيئرمېن فخر زمان صدارت کولو. د خصوصي مېلمه چوکۍ ميان عاقل شاه وزير سياحت ته سپارلې شوې وه.

په دغه موقع ډاکټر راج ولي شاه خټک صېب او د چترال يو پروفېسر اسرار الدين صېب خپلې مقالې واورولې. چې متسفانه د سامعينو تر غوږه په په صحيح توګه د متنظمينو له خوا د وخت د کمي له کبله ونۀ رسېدلې. زۀ ډېر په افسوس سره ددې خبرې تکرار کوم چې د داسې لوئې غونډې دپاره د مياشتو راسې تياري او خواري کيږي، خلق ورته د لرې لرې نه رابلل کيږي بيا مقاله ليکونکي په ډېر کړاؤ خپله مقاله وليکي او چې کله غونډه نمانځلے کيږي نو د حکومتي مشرانو په وخت د نۀ راتلو له کبله دومره بيا بيړه جوړه شي. چې دغه مقررين نه څۀ اووئيلے شي او نۀ سامعين دا مقالې او د کار خبرې واورېدلے شي. زما که واک اختيار وے نو په داسې قسم علمي او ادبي غونډو کښې به ما يو حکومتي چارواکے هم نۀ رابللو. چې په راتلو ئې د خلقو وخت هم ضائع شي. او د کوم مقصد دپاره چې غونډه جوړه وي هغه هم سر ته ونۀ رسيږي.

په دغه موقع د لاهور نه راغلي سليم اختر صېب، پروفېسر همايون هما صېب، محترمه سلمٰی شاهين صاحبې، راقم الحروف، او ګڼ شمېر اديبانو شاعرانو خپل خپل تاثرات وړاندې کړل.

دویم نشست د غرمې د ډوډۍ وروستو پېل شو خو مونږه ډېر وخت ایسار نهٔ شو زهٔ او راج ولي شاه خټک صېب په ټیکسي کښې یونیورسټۍ ته راغلو.

اباسین یوسفزے صېب د ارو اښاد پروفېسر پرېشان خټک صېب په پي ټي وي پېښور مرکز کښې د پروګرام په نېټ د مخکښې نه رخصت شوے وو. په دغه ورځ محترم اعجاز نیازي څوک چې د اردو ډېر ښهٔ شاعر هم دے او د پي ټي وي پېښور مرکز سینئر پروډیوسر دے، د پروفېسر پرېشان خټک په حقله د نومونړو ادیبانو شاعرانو تاثرات تبت کول. نهٔ پوهېږم چې ملګري اباسین صېب ورته وئیلي وو او که پخپله ئې زما انتخاب کړے وو، خو په دغه نومونړو ادیبانو شاعرانو کښې ئې زهٔ د ادب چنړے هم د انټرویو یا تاثراتو ثبتولو دپاره د کېمرې مخې ته ودرولم. او زما ماتې ګوډې جملې ئې هم په اردو کښې رېکارډ کړې چې زهٔ ئې مننه کوم.

د اجمل بابا سره لیدل او د هغهٔ په اعزاز کښې په مصري بانډه کښې مشاعره:

د اجمل بابا سره د لیدلو او هم په هغه ورځ د بابا په اعزاز کښې په مصري بانډه کښې په مشاعره کښې برخه اخستلو دپاره ۱۹ اپرېل ۲۰۰۹ء تاکلے شوې وه.

د مقرره تاریخ نه څو ورځې وړاندې ملګري اباسین یوسفزي صېب او لائق زاده لائق صېب په دغه ټاکلي شوي پروګرام کښې د برخه اخستلو وېنا کړې وه. په اتلسم اپرېل د مصري بانډې پښتو ادبي جرګې مشر سېکټر زاهد خان او زما د دوبۍ ملګري نیاز

افريدي ټيليفونونه وکړل چې په سبا له جوړه مشاعره کښې به خامخا ګډون کوئ.

ما هغوئ ته تسلي ورکړه چې تاسو بې غمه شئ. د اجمل بابا سره ليدل کتل په ما هسې هم پور دي. په دغه دستوره کښې به اړو مرو شرکت کووم. سبا له په ما پسې لائق زاده لائق صېب او بصير ستوري صېب موټر راوستو. په وړومبي فرصت کښې د پروفېسر پرېشان خټک صېب درېمې ته تلل وو. هلته مونږ د خټک صېب د خاندان او په تېره پردل خټک صېب سره ليد لکتل او فاتحه وکړه.

څۀ شېبه ناسته مو هم ورسره وکړه او بيا مو ترې رخصت واخستو. پرېشان خټک په شپاړسم اپريل ۲۰۰۹ء په اسلام آباد کښې د خپل کشر مرحوم ورور په کور کښې وفات شوے وو.

په اولسم اپريل ئې خاورو ته وسپارلو، زۀ او لائق زاده په وړومبۍ ورځ د هغۀ د جنازې رسمو ته د تللو دپاره جوړ نۀ شو. حالانکې ملګري اباسين يوسفزي صېب راته په وخت خبر هم کړے وو.

په درېمه ورځ مونږ د فاتحې دپاره لاړو. او چې د حيات آباد نه راستانۀ شو نو نېغ اکوړي ته ورسېدو. په لاره کښې مو پروفېسر راج ولي شاه خټک صېب، پروفېسر اباسين يوسفزے صېب او د هغوئ ملګرے فېض الله هم وليدل.

څۀ دپاسه يوه بجه نېغ اکوړي ته ورسېدو. او د اجمل بابا دېرې ته وردننه شو. هلته د اجمل بابا ځوئے ايمل خان خټک، شعېب صادق او نور ګڼ شمېر ملګري د مخکښې نه

په انتظار ناست وو. د پېښور ټیلیوزیون پروډیوسر فاروق مهمند او د هغهٔ سټاف د ریډیو پاکستان ډپټي کنټرولر لائق زاده لائق پرته پروډیوسران د خپلو الا تو سره رارسېدلي وو.

د دوئ سره د شمشاد د ټیلیوزیون افغانستان پروډیوسر محمد اسرار اتل او د هغهٔ د کېمرو ملګري هم رارسېدلي وو. زهٔ، اباسین صېب، راج ولي شاه خټک صېب او ملګرے لائق زاده لائق د بابا په ډیوډئ کښې پرتو کټونو باندې کښېناستو. لږه شېبه وروستو بابا هم په وهیل چیئر کښې دغه ډیوډئ ته راورسولے شو. د ټولو سره ئې لیدل کتل او ستړي مشي وکړل. د ټي وي کېمرې ورته نیغې کړے شوې او د سوالونو لړئ پئېل شوه.

بابا ډېر ضعیف شوے دے. په ارام ارام ئې خبرې شروع کړې. د کمال خبره دا ده چې حوش او حواس ئې لکه د زلمي بېدار دي. هیڅ خبره ترې نهٔ خطا کیږي. په وجود ئې لږهٔ یخني رادرومي او اکثر د ساړهٔ شکایت کوي. په پښتونخوا کښې د امن په حقله د ډاکټر راج ولي شاه خټک د یو سوال په ځواب کښې دردوند مشر اجمل بابا وفرمائیل چې:

داسې امن غواړم چې زما د خاورې پت وي
د بم او ډالر نه وي د ایمان او د غېرت وي

د یو بل سوال په ځواب کښې چې ډاکټر صېب

ترې وکړو چې تاسو باندې د قوم پرستو او ترقي پسندو دا جګړه ده چې هغوئ ستاسو ادبي حېثيت بېل بېل ګڼي.

په ځواب کښې ستر مشر وفرمائيل چې څوک قوم پرست وي او ترقي پسند نۀ وي نو هغه هډو قام پرست جوړېدلے نۀ شي. مطلب ئې دا وو چې قام پرست او ترقي پسند دواړه يو شے دے. بيا بابا زياته کړه چې تاسو زما سپينه کونتره نظم وګورئ نو تاسو ته به اندازه وشي.

د پښتنو د ادب دپاره د کار په حقله تاسو مطمئين يئ؟

د يو ملګري د سوال په ځواب کښې بابا ووئيل چې پښتانۀ اديبان شاعران ډېر کار کوي. او زۀ د دوئ د کار نه مطمئين يم. خو افسوس په دې رادرومي چې په دوئ کښې اتفاق نشته. او ډلې پرې جنبې جوړوي. بابا زياته کړه چې دا دے فېروز ناست دے. زۀ د قطر ادبي ملګرو ته سلام کووم. دوئ ډېر په مينه او پښتنه جذبه کار کوي خو افسوس چې په دوئ کښې هم بې اتفاقي ده. زۀ په پښتنو اديبانو شاعرانو کښې يووالے او اتفاق غواړم.

بابا زياته کړه چې مونږ کومې غلطئ کړې دي هغه تاسو مۀ کوئ. په خپلو کښې مخالفتونه مۀ کوئ. او په حکومتي ادارو او نشرياتي ادارو کښې ځانونه ځائے کړئ. چې په دغه وسيلو د پښتون قام دپاره صحيح کار کېدلے شي. د يو بل سوال په ځواب کښې چې پښتنو ليکوالانو کښې کوم کسان داسې دي چې تاسو د هغوئ د کار نه خوشحاله يئ. که تاسو ئې نومونه اخستل غواړې؟

بابا وفرمائيل چې ګل مې: نومونه راباندې مهٔ اخله، خلق به رانه خفه شي. کار کول پکار دي. مونږ ډېر پسمانده پاتې شوي يو. د پښتو ژبې ا اولس دپاره کار کول ډېر ضروري دي.

بابا يو ځل بيا زما نوم واخست او زما د ملګرو ئې ډېر تعريف وکړ، پروفېسر اباسين يوسفزي صېب د غني خان په حقله تپوس وکړو. نو بابا وفرمائيل چې غني خان نهٔ يواځې د پښتنو بلکې د دې خاورې او منطقې لوئې لېونے فلسفي شاعر دے. بابا د غني خان شعر هم اووئيلو چې:

يا به دا بې ننګه ملک باغ عدن کړم
يا به کړم د پښتنو کوځې ويجاړې

هغوئ د غني خان په کلام کښې د پښتون قام د رابېدارولو توانا هڅه وستائيله.

هغهٔ اووئيل چې کله کله به چې ما نظم اووئيل خو ځينې خلق به رانه خفه شو. هغه د يو نظم يوه مصرعه ووئيله "چې خوار خټک ته ګوره چې نظمونه په اوبو ليکي". په دا موقع بابا د "غرۀ چينه" نومې نظم ذکر هم وکړو.

د اباسين يوسفزي صېب د يو بل سوال په ځواب کښې چې ستاسو په شاعرئ کښې دا د جذبې او جوش مالګه ولې زياته ده؟

بابا وفرمائيل چې ژړه وه مې مه، په مازغو مې بوج راځي.

زما مور ما پسې ړنده شوې وه. زما مور ئې ژړولې وه.

د سي آئي ډي والا زما د مور سره ډېرې سختۍ کړې وې. هغه ئې د ځنو راشکلې وۀ. ما شاعري د تاؤ نه کړې ده.

بابا زیاته کړه چې زما شاعري د تاؤ او مینې په وجه انقلابي شوې ده. بابا زیاته کړه چې ما شاعري د انعام اکرام او داد، تحسین او نوم دپاره نۀ ده کړې. هغۀ وفرمائیل چې دغه دے د اکادمي ادبیات اداري پنځه لاکهه روپۍ انعام راکړو، او ما واپس کړو. زما شاعري د انعامونو دپاره نۀ ده، دا د تاؤ او د مینې د جوش په نتیجه کښې شوې ده.

د کبیر ستوري مرحوم زوئي بصیر ستوري په حقله چا اشاره وکړه او د کبیر ستوري د هلو ځلو په حقله د یو تپوس په ځواب کښې اجمل بابا اووئیل چې کبیر ستوري ډېر لوئے خدمت کړې دے. هغه په جرمني کښې د پښتو دپاره او د پښتنو دپاره منډې تررې کړې دي. او دا خلق ډېر مخلصه دي. د قطر او بهر هېوادونو کښې مېشته پښتانۀ ډېر په اخلاص د پښتنو او پښتو دپاره کار کوي. دا فېروز ناست دے او زۀ وایم چې دوئ ټول ډېر ښۀ کارونه کوي خو چې په خپلو کښې یو موټے اومتفق وي نو دا به د قام دپاره ډېره فائده وکړي.

د لائق زاده لائق په طرف بابا وکتل او یو ځل بیا ئې د ښاپېرۍ ذکر شروع کړو. چې زما ښاپېرۍ به ما له رارسوې. زۀ په دغه خبره ونۀ رسېدم چې بابا د څۀ ښاپېرۍ یادوي.

اباسین یوسفزي صېب د بابا نه د دنیا د نورو ثقافتونوپوښتنه وکړه.

په ځواب کښې بابا اووئیل چې زۀ یو ځل چین ته تللے ووم هلته کښې هغوئ چې ما ولیدل او د هغوئ د رقص او موسیقی د فن مظاهره مې ولیدله نو ډېر متاثره شوم. بیا زۀ کراچۍ ته راغلم هلته طوفان او افراسیاب خټک هم وو. مونږ ووئیل چې د پښتنو په لاره وطن ته ځو.

د رحمان بابا په باره کښې فاروق مومند ورته په اردو کښې د خپلو تاثراتو ثبت کولو خواست وکړو.

اجمل بابا د رحمان باباد انسانیت سره د مینې او عشق په حقله د هغوئ د شعر او هنر خبره وکړه. ورپسې ئې د ایراني تورو او بیا په هند د احمدشاه بابا د یرغل او تاریخي کارنامو ذکر وکړو.

د پېښور ټي وي نوي سټېشن ډائریکټر مجید الله خلیل په حقله بابا اووئیل چې مجید الله ته اووایه چې امبارک شته اوس چې اختیار دې زیات شو نو چې کار اوکړې. ما ته معلوم دے مجیدالله د کار سړے دے.

د شمشاد ټي وي اسرار اتل بابا ته اووئیل چې د مینې ذکر اوکړه

بابا ورته په ځواب کښې ووئیل.

زما نوے کتاب "د سپین غرۀ د سره" زما د زلمیتوب شاعري ده هغه ولوله چې زما د هلکوالي شاعري درته معلومه شي.

بابا په ۱۹۵۱ء کښې په اتمانزو کښې د شاعرۍ او بیا د سټېج نه د راکوزېدو او بیا د یو ډي ایس پي خبره هم وکړه چې ما پوره وانۀورېدے شوه.

د چائیو بسکټو نه وروستو بیا مونږ د

بابا نه اجازت واخستو. او په تلو تلو کښې مې بابا ته اووئيل چې زۀ به يو ځل بيا ستاسو ديدن له حاضرېږم.

مونږ مصري باندې ته په سيند دپاسه جوړې ډولۍ نما غوندې لفټ چيئر کښې پورې وتلو او څۀ دپاسه درې بجې خواوشا مشاعره د نياز افريدي په نظامت کښې پيئل شوه. د هغې نه وړاندې د مشاعرې کوربانو په مېلمنو ډوډۍ وخوړه.

زۀ ډاکټر راج ولي شاه خټک صېب او فاروق مهمند صېب پاتې شو. او د چائيو سره مو وچه ډوډۍ وخوړه. باقي ملګري د ډوډۍ ځائے ته لاړل.

خلق د يو هائي سکول بلډنګ په چمن کښې د لوئے خېمو د څپرونو لاندې راجمع شوي وو. د غونډې نه وړاندې جيو ټي وي زمونږ تاثرات ثبت کړل. په سټېج باندې ډاکټر راج ولي شاه خټک صدر محفل، پروفېسر اباسين يوسفزے مشر مېلمه، راقم الحروف د دويم نشست صدر، لائق زاده لائق، فاروق مهمند، ايمل خان خټک، ايوب خټک، بصير ستوري او کوربه زاهد خان ناست وو.

په وړومبي نشست کښې ماصل خان اتش نظم واورولو،او عرفان خټک او پروفېسر اباسين يوسفزي صېب مقالې واورولې.

په اغاز کښې د بابا رېکارډ شوے تقرير هم واورولے شو د دې نه وروستو بيا راقم الحروف، لائق زاده لائق اوګڼ شمېر شاعرانو اديبانو خپل تاثرات په شعر او نثر کښې وړاندې کړل.

مشاعره تر ډېره وخته پورې جاري وه. د ماښام نه لږ وړاندې زۀ او لائق زاده لائق

صېب د کوربانو په اجازت رخصت شو. او تېر ماسخوتن پېښور ته راورسېدو. په لاره کښې د بصير ستوري د ګاډي ټائر پنکچر هم لږ ډېر وخت واخستو. خو د مزې خبره دا وه چې بصير ستوري ګنګس شوے وو. او د اکوړي سره د راوتلو په موقع د مشرق او مغرب په سمت نۀ پوهېدو. تر نوښاره پورې به ئې وئيل چې يا خلقه زۀ اسلام آباد ته روان يم. مونږ به هم ورته اووئيل چې او کېدے شي. چې سر دربانديٍ ګرځېدلے وي. اخر زمونږ په بيابيا وينا هم د هغۀ تسلي نۀ کېده او د نوښار سره نزدې د يو لاروي نه ئې پوښتنه وکړه چې پېښور کوم طرف ته دے؟ هغۀ ورته اشاره وکړه چې دغه روډ چې تۀ پرې روان ئې نېغ پېښور ته تللے دے. بصير ستوري سوړ اسوېلے اويستلو او په تسلی روان شو.

پي ټي وي ته تلل او مجيد الله خليل سره ليدل ۲۳ اپريل ۲۰۰۹ء:

په درويشتم تاريخ زما کور ته زما فنکار ملګرے ماسټر رحيم ګل تشريف راوړے وو. رحيم ګل زما په قطر کښې ملګرے شوے دے. او زما يو نظم ئې هم وئيلے دے چې نن سبا ډېر مشهور شوےدے.

کوهاټ کښې مې زړګے دے په هنګو کښې مې ځيګر دے
هډو نۀ مې د کورمې تيراه مې د زړۀ سر دے

دا نظم په کوهاټ او قبائیلو سیمو کښې ډېر شهرت لري د دې نظم ویډیو په youtube.com باندې په بهرني هېوادونو مېشتو پښتنو کښې ډېره مشهوره ده. د څۀ وجې له کبله تر اوسه دغه ویډیو په ټیلویژیون خپره شوې نۀ ده.

دا سندره په خېبر ټي وي، کوهاټ ریډیو، پېښور ریډیو او خبر ریډیو باندې خپرولے کیږي. خو په ویډیوي شکل کښې په کوم ټیلویژیون لا تر اوسه خپره شوې نۀ ده.

د دې پرته هم زما یو بل نظم یا قربان په ټي وي د رحیم شاه په اواز کښې خپور شوے دے. چې د پښتون سندره په نوم ئې خلق پېژني. او په youtube.com کښې د پښتو په ټولو سندرو کښې تر ټولو زیاته اورېدلے شوے او لیدلے شوې ویډیو ده. عجیبه خبره دا ده چې ټي وي زما دغه نظم خو خپروي ولې ریډیو ئې نۀ خپروي، علت ئې دا دے چې په دې کښې د پښتنو او افغانستان ذکر شوے دے.

ما ښاغلي لائق زاده صېب ته ټیلیفون وکړو چې که ستا خوښه وے. ادیب و شاعر ملګرے مجید الله خلیل صېب د پېښور ټي وي مرکز د جنرل منیجر په چوکۍ ترقي شوې ده چې امبارکۍ دپاره لاړ شو.

زۀ، ماسټر رحیم ګل او لائق زاده لائق درې واړه د پېښور ټیلویژیون مرکز له ورغلو. هلته مو د مجید الله خلیل صېب سره لیدل وشول هغوئ له مو امبارکي ورکړه. او په ادب او موجوده حالاتو مو خبرې اترې وکړې. بیا وروستو په ملګري فاروق مهمند پسې د هغۀ کمرې ته هم ورغلو. هلته مو د نوموړي

سندرغاړي اروا ښاد احمدخان پروډيوسر زوئے نواب علي سره ليدل کتل وشول. او د فاروق مهمند نائب جميل يوسفزي صېب سره هم وليدل. او هغه ته مو د فاروق مهمند صېب دپاره پېغام پرېښودو. بيا وروستو مونږ درې واړه ريډيو سټېشن او بيا کابلۍ بازار ته لاړو هلته ماسټر علي حېدر په حضابو خپل اوږدۀ وېښتان تور کړي ولاړ وو. او د نورو ملګرو سره ئې ټوقې ټقالې کولې. د دنيا دروغ رشتيا ئې سره يوکړي وو.

د مازيګر مونځ مو د صادق خان افريدي هنرمند په ډېره کښې وکړو. لائق زاده د اسلم خان سره د يو پروګرام ثبتولو دپاره شاليمار سټوډيو ته ننوتو.

په دغه دوران کښې ما ته معلومه شوه چې په کابلۍ کښې درې سنېماګانو کښې يوه سنېما چې ناولټۍ نوم ئې وو د بېخه نړولې شوې وه. او د مارکيټ پلازې کار پکښې روان وو. ما فکر وکړو د طالبانائزېشن اثر په ټوله پښتونخوا ډېر ژور پرېوتلے دے. چې په نتيجه کښې ئې ګڼ شمېر هنرمندانو د دې سيمې څخه کډه کړې ده. او دغه شان د خلقو روان روزګار ته زيان رسېدلے دے. چې په هغې کښې د سي ډي، فلمونو او ورسره سنېماګانې هم بندې شوې دي. زۀ دې ته څۀ اوويم؟ ښۀ او که بد؟ خو يو سوچ ضرور زما مخې ته رادرومي چې نور خلق د وطن سوکالۍ او خوشحالۍ دپاره قسم قسم صنعتونه، مېلې او داسې په ټاکلو ورځو او نېټو تهوارونه او لوبې جوړوي چې د نورو سيمو نه ورته خلق راشي. او د وطن اقتصاد په دغه موقع دبيع او شراء په نتيجه کښې ښۀ شي. لرې

به نۀ ځو د لاهور ښار مثال زمونږ د ورانډې دے. چې د نورو قيصو سره په دغه ښار کښې په کال کښې درې څلور غټې غټې مېلې او اجتماګانې کيږي. او د پنجاب خلق په دغه مېلو او اجتماګانو کښې د خپل صنعتي پېداوار خرڅول کوي.

لکه د مثال په توګه تبليغي اجتماع چرته چې د پنځلس نه واخله تر شلو لکهه پورې خلق راجمع کيږي. دلته هر يو شے په درې ورځو کښې خرڅ شي. تېل، صابون، توليه، ډوډۍ، لوټې او کپړا څادر نو چې لس لکهه خلق د ۵۰۰ سو روپو پورې سودا وکړي او دا نور لس لکهه فقط درې ورځې ډوډۍ وخوري نو هم د پنجاب د تاجرانو تجورۍ به ډکيږي.

دغه رنګ د دوئ بسنت مېله، مېله موېشان، سنډېما انډسټري او بازار حُسن هم د ذريعه امدن لوئے وسيلې دي.

پښتون په خپل وطن کښې روانې کارخانې بندې کړې. د سنګ مرمرو او نورو معدنياتو عظيمې خزانې د بجلۍ د نشت والي او پخپلو کښې د جنګونو په سبب ه هغسې دفن پرتې دي. سکولونه او مدرسې بندې دي. او د نسل کشۍ مېدان ګرم دے. د وينو سېلابونه بهيږي او د اور لمبو دا جنت وطن په مخه راخستے دے. زۀ نۀ پوهېږم چې دغه کارونو ته پښتون چا لمسه ولے دے؟ او پخپله ګټه او تاوان ولې نۀ پوهيږي؟

د حاجي صېب شېراکبر دوېمه ډوډۍ ۲۴ اپرېل ۲۰۰۹ء:

زما خوږ ملګرے حاجي صېب شېراکبر زما په هره رخصتۍ کښې دوه درې ځله په ما ښۀ غوړه او ماړه ډوډۍ خوروي. ما خو دا ځل

ځان ترې د پرهېز په بهانه ډېر بچ کړو خو زما رخصتي اوږده وه نو د حاجي صېب هغه کوټه پکښې پوره شوه.

په ۲٤ اپرېل ئې يو ځل بيا زۀ، زما ورور مير عالم خان او د کور فاميل د نورو غړو سره مېلمانۀ کړو. په دا موقع د هغۀ ورور حاجي ګل اکبر صېب او ګران ملګرے لائق زاده لائق هم په خصوصي توګه مېلمانۀ کړے شوي وو.

د جمعې ورځ وه ډوډۍ مو وخوړه او د جمعې مونځ مو د PCSIR په جماعت کښې ادا کړو. وروستو بيا د حاجي صېب نه رخصت شو.

باړې ته زما تګ ۲٦ اپرېل ۲۰۰۹:

زۀ چې د کله نه راغلے يم نو باړې ته زما دوه ځل تلل شوي دي. يو ځل د مارچ په اوله نيمائي کښې په پټه خله زما تلل وو. چې په موټر کښې وروستو ناست ووم. او د مخ نه مې څادر تاؤ کړے وو ځکه چې زما په مخ ږيره نشته. کور ته په پټه خله ورسېدم. او ماښام بېرته پېښور ته په پټه خله راستون شوم. دکور سره نزدې د لشکر اسلام مرکز دے. ورسره خوا کښې زمونږ دمړو هديره ده. په هغې کښې زما پلار، ورونه، نيا ابۍ او ګڼ شمېر خپلوان ښخ دي. او کله چې زۀ وطن ته راځم نو دغه هديره کښې د مړو دعا دپاره څو شېبې ايساريږم.

سږ کال د لشکر اسلام د شريعت او د ږيرې د اعلان د وجې زۀ خپلو مړو ته د دعا دپاره دغه هديرې ته کوز نۀ شوم. او نۀ مې د نزدې نه دوئ ته دعا وکړے شوه. رحمان بابا څۀ ښۀ وئيلي دي.

په سبب د ظالمانو حاکمانو
کور او ګور او پېښور درې واړه يو د

اوس لکه د نورو پښتنو زۀ هم په دې خبره ګنګس يم چې اخر د شريعت دغه روپ او شکل خالصتاً د پښتنو په خاوره ولې دے؟ او زمونږ شريعت د نورې اسلامي نړۍ نه توپير ولې لري؟

زۀ د عربو په ټولو هېوادونو ګرځېدلے يم. سعودي عرب ته هم څو کرته د حج او عمرې دپاره تللے يم او د عمر پنځويشت کاله مې په قطر عربستان کښې تېر شول، خو د شريعت دومره سختي ما په سعودي عرب کښې هم ليدلې نۀ ده. چرته چې خالصتاً شرعي نظام دے. قصاص دپاره قصاص او د پردې حکم، برقعې اچول، غلا، زنا حدود مقرر دي، او باقاعده سزاګانې ورکولے شي. ولې زۀ په دې خبره حېران يم چې هلته خو نه په زيره پورې څوک سزا ورکوي او نۀ ئې ورته څۀ حدود يا سزا ټړلې ده. هم دغه رنګ د مانځه په وخت کښې د کاروبار بندولو شرائط رائج دي او د مانځه په وخت کښې به د دکان ور تړلے کيږي خو په بازار کښې روان خلق ئې کله هم په زور جماعتونو ته دنه کړي نۀ دي.

په سعودي کښې دغه نظام هم د عبدالوهاب نجدي له خوا کم زيات يوه صدۍ وړاندې نافذ کړے شوے وو. څوک چې د موجوده حکمرانانو د مذهبي امور وزير وو. او په هغه وخت د ترکو د خلافت د زمانې بدعتونه او رسمونه ډېر بد شکل اختيار کړے وو.

دغه شان د پښتنو په خاوره هم د شرک او بدعت شکلونه رائج دي. په پنجاب او نورو سيمو کښې د پښتنو نه هم زيات د شرک او بدعت رسمونه او رواجونه دي. چې د اصلاح پامته دار دي

خو د شريعت او اسلامي نظام مطلب د امن او مينې فضا قائمول د حقوق العباد او حقوق الله په معاملاتو ځان خبرول او بيا د هغه اصولو په رڼا کښې ژوند تېرول دي.

په اسلام کښې د هرې ګناه دپاره حدود مقرر دي. او په دغه حدود کښې چې څوک راګېر شي نو بيا يوه ټاکلې سزا ورته مقرره ده. خو د حدود قائمولو دپاره شرطونه دي. او دغه شرطونه دومره په اسانه هيڅوک هم نشي پوره کولے. نو په داسې صورت کښې تهمتي د شريعت د سزاګانو او حدود نه اکثر بري شي. او د شک فائده ملزم ته ورسيږي. اسلام په شهادتونو او ثبوتونو اړه لري. په سوګندونو او قسمونو چې تا دا کړي دي او تا دا نهٔ دي کړي. هيڅ کله هم بنده سزا ته نهٔ جوړوي.

زمونږ بدقسمتي دا ده چې کله په دنيا کښې د پروپېګنډا په طور او د شرارت خبره خوره شي نو بې له څهٔ ثبوتونو او شهادتونو مونږ د وينو بهولو رودونه روان کړي وي. او خپلو املاکو او خلقو ته زيان او تاوان رسولو هڅې مو پېل کړي وي.

تېر کال د بدعت او بدو رسمونو ورکولو دپاره مختلف کوډګر، دم ګري او تعويذ ګر وتښتول شول او توبه ګار کړے شول هم دغه شان د پيرپرستۍ لړه کومه چې د پښتنو په سيمه د پير روښان او بيا د هغهٔ معاصرو

او پېروکارانو اخونانو او تش په نامه ستانه دارو د وخته راخوره وه او د شرک او بدعت تر بدترين شکل رارسېدلې وه بيا د بې له څۀ سرمايې دا کاروبار ښۀ په زور شور شروع وو. تر دې چې د غريبانانو مريضانو به د ډاکتر، طبيب د علاج وس نۀ کېدلو خو د پير او ملا د تعويذ او دم دپاره به تر سخي صېب او ډولکي مار بابا پورې درسېدلو کوشش او هڅه کوله. او خپل، پټې به ئې ګانه کړل يا غوا غوائے به ئې خرڅ کړل او د دم ګرې د خېټې به ئې ځار کړل.

مريض به څه ښۀ کېدو؟ خو چې د هر څۀ نه به خلاص شو. نو د الله نوم به پاتې وو. باقي مريض به په خپله حقه لاره تلے وو.

د دغه خېټه ورو پيرانو او دم ګرو کوډګرو، پال نيونکو، بدمعاشانو دپاره د لشکر اسلام مجاهدين لکه په دغه وطن د الله يو رحمت راتلل وو خو د افسوس خبره دا ده چې بيا وروستو دغه رحمت د خلقو دپاره د زحمت سبب جوړ شو. ځکه چې کله به د دوئ په نامه نور غلطو، ډاکوانو، د سفېدپوشو خلقو ژوند په اور پورې کړو. تېښتې او برامتې شروع شوې. په خپلو کښې ملکي جنګونو او د يو بل سرونو او املاکو ته زيان رسول کوم د اسلام کار دے؟ اسلام خو د امن او مينې پېغام ورکوي. په خپلو کښې د جنګونو او وينو بهولو کار د مسلمانانو نۀ دے. بايد چې زمونږ خلق په دغه نکته ځان خبر کړي.

يوه ورځ ما په ټيلوژيون وليدل چې د پښتنو په سيمه په لس دولس ځايونو کښې جنګ روان دے. په تيراه کښې د دوو ډلو تر

مېنځه په پاړه چنار، کرمه، وزيرستان، مهمند، سوات، باجوړ او نورو ډېرو سيمو کښې د پښتنو وينه لا تر نن پورې بهيږي. په دغه اړه ما يو نظم هم ليکلے وو. چې يو څو شعرونه ئې داسې وو.

بيا په خپلو کښې جنګيږي پښتانهٔ
بيا په سرو وينو لمبيږي پښتانهٔ
څنګه جنګ دے چې انجام ته نهٔ رسيږي؟
خدايه څومره به قتليږي پښتانهٔ
اور په هر ځائے د نړئ دے لګېدلے
که سوزيږي نو سوزيږي پښتانهٔ
نهٔ ئې ګټه د ايمان شته نهٔ د خاورې
هيڅ بې هيڅهٔ خاورې کيږي پښتانهٔ
د نړئ قامونه وختل اسمان ته
ورځ تر ورځې لاندې کيږي پښتانهٔ
نهٔ ئې پوهه شته نهٔ عقل او نهٔ علم
خدايه کله به سميږي پښتانهٔ
ناپوهي فېروزه لويه المیه ده
خدايه کله به پوهيږي پښتانهٔ

په ۲۶ اپريل زهٔ يو ځل بيا بارې سپين قبر ته لاړم. او نېغ خپل کور ته ننوتم. په دغه ورځ زما د ورارهٔ جمعه خان وادهٔ هم

وو.

په باړه او قبائيلي سيمو کښې اوس وادهٔ ځهٔ خاص خبره نهٔ ده څوک خبر هم نهٔ وي او ناوې ئې کور ته راوړې وي.

نهٔ جنج غوبل شته، نهٔ ډزې او نهٔ ډهول سرنا څوک غړولے شي. بس که د چا وس کيږي نو دېګ دوه وريژې د وليمې په طور پخوي ګنې بانه ئې جوړه ده چې ډاريږو چرته خلاف ورزي ونشي. او د سزا حقداره نهٔ شو.

هم دغه شان د جمعه خان وادهٔ هم تېر شو. د کوره وتلے نهٔ ووم. د هغوئ تر کوره هم د ډاره نشوم تللے چې امبارکي خو مې ورکړے وے. مازيګر کښې ئې مور راغله او امبارکي مې ورکړه. او بس قيصه خلاصه شوه.

د ماښام د سپين قبر کور نه بېرته پېښور ته راستون شوم. چې يو خو په سبا د پښتو عالمي کنونشن د ملګرو له اړخه زما په اعزاز کښې پروګرام هم وو. او بل د خوف او ډار د ماحول نه ځان راتېرول هم وو. د ماښام مونځونو ته مو پېښور ته ځان راورسولو. او د شکر کليمې مو اوئيلې خپلو ورونو خوېندو ته هم په خېر سره د رسېدو خبر ورکړو.

د جهانزيب نياز لالا سره ليدل ۲۸ اپريل ۲۰۰۹ء:

اوويشتم تاريخ د پښتوعالمي کنونشن د ملګرو سره په پروګرام کښې تېر شو. په اتويشتم اپريل زما خوږ مشر پروفېسر جهانزيب نياز صېب له اړخه ټيليفون راغلو چې وروره تهٔ زما نه خفه ئې. او زهٔ ستا

نه مشر يم او ستا خفګان ه په خپل ځائے صحيح دے. خو زما مجبوري وه،نو بس د هغې مجبورئ له کبله زما نه داسې کار وشو. چې تهٔ پرې خفه شوې. او زهٔ هم ډېر خفه يم. او ستا خفګان په دا زړهٔ يو بوج ګڼم.

د ژوند هيڅ پته نهٔ لګي. چې ليدل کتل وشي نو ښهٔ به وي. زهٔ د لا لا نه په ډېره معمولي خبره خفه شوے ووم خو چې کله هغهٔ ټيليفون وکړو نو زما په زړهٔ يخې اوبهٔ توئے شوې او ما ورته اووئيل چې لالا تهٔ زما مشر ئې او ستا پوښتنې او ليدلو له به اوس زهٔ درځم. ماښام نه وړاندې زهٔ او حاجي شېراکبر صېب د لا لا کور حيات آباد ته لاړو. هلته مو ښهٔ ګپ ګرم کړو. او د لالا چاپ شوي کتابونه مو هم تر لاسه کړل.

لالا زما د دستار مجلې ملګرے دے. او زمونږ په دعوت د قطر په دوره هم راغلے وو. زمونږ پخپلو کښې ډېره تاؤده مينه ده. دا يو کال خاموشي زمونږ په مينه کښې څهٔ فرق نهٔ دے راوستلے او زهٔ خوشحاله يم چې لالا سره مې په ژوند ليدل وشول. دغه د خېر په کار کښې زما د خوږ ملګري لائق زاده لائق منڼا ترړه وه په دغه نېک کار ئې زهٔ نور هم د احسانونو لاندې کړم.

د پښتو عالمي کنونشن زما په اعزاز کښې غونډه ۲۷ اپريل ۲۰۰۹ء:

درې څلور ورځې وړاندې ملګري اسير منګل ټيليفون وکړو چې ستاسو په اعزاز کښې د کومې غونډې چې مونږ د ډېرو ورځو راسې رابللو تابيا کوله د هغې تاريخ مونږ ۲۷ اپريل ټاکلے دے.

دغه غونډه به د پښتو عالمي کنونشن په نوي دفتر نويد پلازه شينواري سرائے سلطان کالوني دلازاک روډ پېښور کښې کيږي.

زۀ په مقرره وخت او تاريخ د خپل درونډ ملګري حاجي شېر اکبر صېب سره د هغوئ په موټر کښې د غونډې ځائے ته ورسېدم.

په لاره کښې مونږ د سليم بنګش صېب خبرې کولې چې د روډ په غاړه هه هم راته خدائے پاک په لاس راکړو. مونږ ځان سره په موټر کښې کېښنولو او د غونډې تر هغه ځايه بې له څۀ زحمته او تکليف ورسيدو.

ما ځان سره اوس چاپ شوے کتاب د "روښانه سباؤن" څو دانې هم وړې وې. چې هم هلته مې په ملګرو تقسيم کړې. لږه شېبه پس دغه غونډې ته پروفېسر اباسين يوسفزے صېب او ډاکټر راج ولي شاه خټک صېب هم راورسېدل.

زمونږ د راتګ نه وړاندې د اکادمي ادبيات پخوانے ريذيډنټ ډائرکټر سيد ولي خيال صېب هم رارسېدلے وو. د هغوئ سره زما نظر په ازاد هشت نغري صېب هم پرېوتو چې ډېره موده پس په نظر راغلے وو. هغوئ ما ته د طلوع سحر اردو يو نوے چاپ شوے کتاب هم راپېرزو کړو. ما هم په بدل کښې د روښانه سباؤن يوه کاپي د هغوئ په خدمت کښې پېش کړه. دغه شان پروفېسر اسير منګل صېب ته، محترم سليم بنګش صېب ته، معراج الدين ځلند صېب ته، محترم الياس ټلوال صېب ته، محترم نواز خټک صېب ته او محترم سيد ولي خيال صېب ته مې هم يو يو کتاب پېرزو کړو.

څو لحظې کم پنځه بجې د غونډې اغاز ښاغلي پروفېسر اسير منګل صېب په خپلو ابتدائي

کلماتو او مېلمنو ته په ستړي مشي وکړو. د غونډې د صدارت دپاره ئې پروفېسر راج ولي شاه خټک صېب ته درخواست وکړو.

زما سره جوړه کړې په دغه غونډه کښې ئې د دوبۍ نه راغلے ملګرے فضل الرحيم بنګش صېب هم دروند کړو. او د هغوئ خدمات ئې وستائل. پروفېسر اسير منګل صېب، څوک چې تېر کال د پاک پښتو ادبي ټولنې دوحه قطر په خصوصي بلنه د نوموړي شاعر اکمل لېوني په ملګرتيا کښې راغلے وو. او مونږ ټول ملګري ورسره بلد شوي وو. او د هغۀ د موجودګۍ فائده مو اخستې وه. هغه زما او د ټولنې په کار او زيار ډېر خبرې اوکړې او زما او زما د ملګرو ستائنه ئې وکړه. هم دغه شان د دوبۍ نه راغلي ملګري فضل الرحيم بنګش په ادبي او شخصي حېثيت ئې هم رڼا واچوله.

د خپلو خبرو نه پس ئې ښاغلي معراج الدين ځلند ته د نظم اورولو خواست وکړو. معراج الدين ځلند د افغانستان د اريوب ځاځي پکتيا اوسېدونکے دے او نن سبا په ارباب لنډۍ کښې د ژوند ورځې شپې تېروي. ځلند صېب په ما نظم ليکلے وو. زۀ ئې مشکور يم. هم دغه رنګ ملګري نواز خټک، ملګري اکرام هم زۀ په خپلو شعرونو کښې دروند کړم او بيا دوبۍ نه راغلي دروند ملګري او محمدين مقيد صېب زوئے ښاغلے الياس ټلوال صېب په ما او فضل الرحيم بنګش صېب دوه اوږدۀ اوږدۀ نظمونه واورول. چې په خپل وار ئې مونږ شکريه ادا کړه.

په دغه ښاغلو پسې، نصرت بنګش، اشرف صابر، ازاد هشتنغري، سيد ولي خيال صېب، ظفر خان ظفر خپل خپل کلامونه واورول. او

د غونډې خوند رنګ ئې سېوا کړو.

ښاغلي سيد ولي خيال مومند صېب زمونږ د ادب دپاره خدمات وستائيل، او په ډېرو ښو تورو ټکو ئې زما تعريف او ستائينه وکړه چې زۀ ئې مشکور يم.

هم دغه شان دکتور بصير ستوري زما په حقله د ميني او پېرزوئنو څو جملې ادا کړې، او ما سره ئې د ځان او د هغۀ د کورنۍ د افرادو ذکر وکړو. بصير ستوري صېب مشر زوئے دے. چې ډېر لائق او ذهين فطين شاعر او اديب دے. د بصير ستوري ورونه هم د خپل ارواښاد پلار کبير ستوري په نقش قدم روان دي. او د خپل پلار اوچت کړے بېرغ ئې کلک نيولے دے. ښاغلے نسيم ستوري، ايمل ستوري، امير کروړ ستوري په جرمني کښې د پښتو ادب او فرهنګ دپاره هلې ځلې کوي. او د www.pashtoonkhwa.com وېبپاڼې او ستوري مجلې په وسيله د پښتو ژبې او فرهنګ خدمت کوي. چې د ډېرې ستائينې وړ دي.

ښاغلي سليم بنګش هم په خپلو خبرو کښې زمونږ د ملګرو ډېره ستائنه وکړه. هغه شل کاله وړاندې د پاک پښتو ادبي ټولنې په بلنه د پروفېسر ډاکټر محمد اعظم اعظم او ظاهر شاه ختک سره په شريکه راغلے وو. هغۀ په خپلو خبرو کښې د قطر ادبي ملګرو يادداشتونه رابرڅېره کړل.

هغۀ زياته کړه چې په هغه وخت کښې د قطر ملګرو باريکه شاعري کوله. او مونږ ورته حېران وو چې دا خلق چې استاذ هم نۀ لري څومره تکړه دي. د سليم بنګش نه پس درونډ ملګري ښاغلي لائق زاده لائق صېب هم زما په

کار او زيار او د قطر ادبي ملګرو په مينه او خلوص ډېرې ګټورې خبرې وکړې.

لائق زاده صېب ووئيل چې د فېرز افريدي کمال دا دے چې دا يو نۀ ستړېدونکے انسان دے. لائق صېب ووئيل چې فېروز په يواځې ځان د ټولنې ملګري راغونډوي او بيا د هغوئ او د ټولنې د کارونو يوه لړۍ ئې د انټرنېټ په وسيله د نړۍ نورو ادبي دوستانو سره شريکه کړې ده.

هغوئ زياته کړه چې فېروز د پښتنو اديبانو او شاعرانو پرته د اردو دانو سره هم ژورې رابطې لري.

نن چې پښتون په کوم حال دے، وجود ئې ختميږي. په دې څوک خبر نۀ دي چې سبا له به څۀ کيږي. په داسې حال کښې د فېروز غونډې کسان د خپل قام او ملت د ډاډ او حوصلې دپاره د اميد يو بڅرے دے. هغۀ يوه قطعه اووئيله چې شعرونه ئې داسې وو.

چې زړګے مې پرې ودان دے
يو سړے دے په ما ګران دے

په دغه غونډه کښې د پروفېسر پرېشان خټک او محمد اقبال دايصال ثواب دپاره دعا هم وغوښتلې شوه. د دعا نه وروستو پروفېسر اباسين يوسفزي صېب ته د وينا دپاره خواست وکړے شو.

پروفېسر اباسين صېب ووئيل چې په ديارنمير کښې د پاک پښتو ادبي ټولنې د ملګرو کردار د ډېرې ستائنې وړ دے. دوئ په شعوري توګه دا کوشش کړے دے چې خپل پښتون ورور کلچرډ کړي. د سفارتخانې درشل ته د يو سپېڅلي او سوچه پښتون په توګه

ئې راولي. د دنيا قامونه ته ئې د يو پُرامن او مينه ويشونکې انسان په شکل کښې معارفي کړي. ذهني سطح ورله اوچته کړي، او پالش ئې کړي. اباسين صېب ووئيل چې د فېروز ليکنې د ادبي معيار مطابق دي. د دوئ ټوله شاعري او نثر د خپلې خاورې او قام ولې نه چاپېره چورلي. په قام او خاوره کله کله دومره مينه ورزياته کړي چې خپلې نغمې ترې هېرې شي. اباسين صېب ووئيل چې د فېروز او د هغهٔ د ملګرو کمال دا دے چې هغوئ د نورو قامونو او ژبو وئيونکو سره هم خپله ژوره رابطه ساتي. په اخر کښې پروفېسر اباسين صېب په خپله قطعه او غزل د خپلو خبرو اختتام وکړو. چې ملګرو ترې ډېر خوند واخستو.

د پروفېسر اباسين يوسفزي نه پس د غونډې په اخري برخه کښې پروفېسر اسير منګل صېب، فضل رحيم بنګش صېب ته د خبرو او کلام اورولو خواست وکړو. فضل الرحيم بنګش صېب خپلې خبرې اوکړې. او يو ډېر دردېدلے نظم ئې واورولو چې د غونډې برخه اخستونکي ئې ډېر زيات محظوظه کړل.

په دې کښې هيڅ شک نشته چې د ټل ادبي چمن نال کړي شوي بوټي نن سبا د ګورو ونو په شکل کښې د ادب مينه والو ته د سوړ سوري او دمې ځائے ورکړے دے.

په دغه ملګرو کښې الياس ټلوال، اسير منګل، سليم بنګش او فضل رحيم بنګش په شان ادبي شخصيات زمونږ د مخې دي. څومره چې سليم بنګش منفرد غزل ليکي دغه شان فضل رحيم بنګش هم ښکلے غزل ليکي. د رحيم بنګش بل کمال دا دے چې يو ډېر خوږ اواز لري او د موسيقئ په هنر پوهيږي. خو ځان

ئې ښکاره نۀ کړو. هغه د جوش مليح ابادي خبره چې اقبال ايک سمندر تها مگر ندی میں بهه گيا.

رحيم بنګش د خپل فطرت له کبله د ځان ښونې د هنرونو نه ډېر لرې دے. او په خپله دنيا کښې مست لېونے دے. نۀ د چا په داد دے او نۀ د ځان بې ځايه تعريف خوښوي. په لنډو ټکو کښې به دا وو وايو چې رحيم بنګش يو اوريجنل فنکار شاعر دے.

د رحيم بنګش نه وروستو پروفېسر اسير منګل صېب ما ته د څو خبرو وويل. ما د عالمي پښتو کنونشن د ملګرو شکريه ادا کړه چې زما په اعزاز کښې ئې د نن دا غونډه راوبلله، او بيا په تېره د دومره درنو او لويو شخصياتو شريکېدل مې د ځان دپاره ډېر لوئے اعزاز وګڼلو.

ما ووئيل چې زۀ په دې خبره فخر کوم چې زما او زما د ملګرو کار او زيار ته د پښتو درنې څټې په دروند نظر ګوري. ما ووئيل چې زۀ په دې خبره هم وياړ کوم چې زۀ د خپلو مشرانو په نقش قدم روان يم. او د ادب لاره مې ځان له خوښه کړې ده.

ما په خصوصي توګه د منتظيمونو پرته د پروفېسر اباسين يوسفزي صېب، ډاکټر راج ولي شاه خټک صېب، ښاغلي لائق زاده لائق صېب، سيد ولي خيال مومند صېب، دکتور بصير ستوري، حاجي شېر اکبر او د ټولو ملګرو شکريه ادا کړه. په اخر کښې مې يو وړوکے غزل هم واورولو.

زما د خبرو نه پس صدر محفل پروفېسر ډاکټر راج ولي شاه خټک صېب ته د صدارتي خطبې خواست وکړے شو.

خټک صېب په خپله صدارتي خطبه کښې وفرمائیل چې دا ډېره د خوشحالۍ خبره ده چې د پښتو عالمي کنونشن په دې نوي دفتر کښې شروعات مونږ د دغه ادبي غونډې سره کوو. هغۀ وفرمائیل چې صدارت ګران کار دے. یو خو به د ټولو وروستو خبرې کول وي. بل کومې خبرې چې صدر ئې کول غواړي هغه ټولې خبرې نور مقررین وکړي او صدر ته د وئیلو څۀ پاتې نۀ شي.

خو ښۀ کار دا دے چې د ټولو خبرې واوري نو په اخر کښې صدر محفل په دغه ټولو خبرو کښې غوره خبرې وکړي اګرچې خلق دومره ستړي شوي وي چې څوک ورته غوږ نۀ ږدي.

هغۀ زما په حقله ووئیل چې فېروز افریدي د کار، زیار، ادب، تخلیق په حقله خبرې کول د څو لحظو یا څو دقیقو خبره نۀ ده بلکې د دوئ دومره د لوئے مودې دا بې لوثه خدمت باندې ډېرې خبرې کېدلے شي.

صدر صېب ووئیل چې فېروز افریدي او د هغۀ ملګري یا څوک هم چې د ژبې ادب خدمت په بهرني هېواد کښې کوي هغوئ د وطن اصلي سفیران دي. او د خپل وطن د ادب، کلتور او ژبې او فرهنګ خدمت کوي.

هغۀ ووئیل چې په افغانستان او پښتونخوا کښې د ژبې کار کوونکې ادارې د حکومتي پالیسۍ پابندې دي. په دغه وجه ئې ادیبان او شاعران هم د ملک او حکومت د پالیسۍ په وجه د خپل کلتور او ژبې صحیح رنګونه نۀ ښائي. او په دغه وجه د دې ملکونو سفارتخانې هم د کنفیوژن ښکار دي. ولې په داسې حال کښې د فېروز افریدي غونډې کسان

د ملک او قام حقيقي رنګونه دنيا نورو قامونو ته ښکاره کوي.

ډاکټر صېب ووئيل چې دا کسان ډېر په صداقت سره د خپل کلتور، پټکي، حجرې او دود دستور روزنه او پالنه کوي. او د نورو قامونو په مخکښې ډېر په فخر د خپل قام د مينې، محبت، شعر و ادب خبرې کوي. صدر صېب ووئيل چې د پښتون قام په حقله د تاريخ کتاب "دي پټهان" ليکونکے سر اولف کيرو ليکي چې دا زمکه قدرت د پښتنو دپاره پېدا کړې ده خو پښتانۀ ئې د دې زمکې دپاره نۀ دي پېدا کړي.

هغۀ ووئيل چې زۀ کله کله ټپې واورم نو جذباتي شم لکه د پښتو دا ټپه چې:

ما ننۍ لوبې ته پرېږده بيا
زولنې راوړه چې لاس ته ئې واچومه

صدر صېب ووئيل چې په داسې حال کښې چې مونږ ټول د راتپلو جنګونو ښکار شوي يو. او په هيڅ چل نۀ پوهيږو. په داسې حال کښې د فېروز افريدي د منډو تړړو او د وطن سره د مينې د جذبو په برکت مونږ ډاډ اخلو او مونږ د خپلو ورانو ويجاړو په دې حال کښې هم د سکون او اطمينان ساه اخلو.

صدر صېب ووئيل چې مونږ په هر ځائے د فېروز افريدي د خدماتو اعتراف کوو. او هيله لرو چې د مستقبل مورخ به د دوئ د دې کار او زيار نه سترګې نۀ پټوي.

صدر صېب زياته کړه چې مونږ غواړو او ما خو ځله د اباسين يوسفزي صېب سره هم د غه خبره کړې ده چې زمونږ د اديبانو شاعرانو يو داسې ځائے او مرکز وي چې د بهر نه مېلمانۀ راځي که د کابل وي که د کوئېټې

يا د قطر، سعودي عرب شاعران اديبان وي چې هغوئ سره داسې غونډې پکښې وکړے شي. او هغوئ وقدرول شي. او د خپلو اديبانو شاعرانو سره د هغوئ پېژندګلو وکړے شي.

هغۀ ووئيل چې د پښتو عالمي کانفرنس دا نوے دفتر يقيناً چې د داسې قسم غونډو او پروګرامونو دپاره غوره ځائے دے. په اخره کښې د چائيو اهتمام شوے وو.

مونږ د مازيګر او ماښام مونځونه هم په دغه ځائے کښې وکړل او بيا خپلو خپلو کورونو ته په ستنه شو.

په لاره کښې مو ظفر خان ظفر او د هغۀ زوئے د چرګانو چوک کښې کوز کړل او زۀ او حاجي شېر اکبر يونيورسټۍ ته راستانۀ شو.

په ګورنر هاؤس کښې دستوره تاريخ ۲ مئی ۲۰۰۹ء:

تېر کال چې کله د فرنټيئر فاونډېشن مشر صاحبزاده محمد حليم قطر ته د تهيلسميا د مريضانو دپاره د چندې غونډولو په نېت راغلے وو نو هم په هغه ورځو کښې د حمزه فاونډېشن يو دستاويزي فلم په خېبر ټي وي چلېدو. د دغه فلم په ليدو مونږ ټول د وطن د ګلالو ماشومانو په دغه ژړيدونکي حال ډېر ودړېدو. د فرنټيئر فاونډېشن، فاطميد او حمزه فاونډېشن ايکي يو مقصد دے د وينې په رنځ اخته د کينسر مريضانو ماشومانو بچو، د چا په هډوکو کښې چې پېدا ئشي وينه نۀ جوړيږي دپاره په مياشت کښې يو ځل دوه ځله ويړيا وينه ورکول دي. دغه شان د دوئ ژوند په دغه وينه مرغيجن مرغيجن روان وي.

زۀ داسې قسم بچي نۀ شم ليدے. زما يقين دے چې په مرګ به هر سړے مري خو دا بچي د وينې له کبله بې وخته مړۀ شي. او چې تر څو ژوندي وي د مور پلار او خپلو خپلوانو دپاره يو مستقل عذاب وي. دا بيماري چې کله معلومه نۀ وه نو خلقو به ماشومان دم کړو، مليانو او اخونانو له بوتلل. چا به وئيل چې په دغه ماشوم سورے شوے دے. چا به وئيل چې پېريان دي. دغه رنګ هر سړي به خپل دليل او تا ويل وړاندې کولو.

کله چې د دې بيمارئ معلومات وشول نو يو څو فلاحي ادارې راوړاندې شوې او د دې قسم مريضانو دپاره ئې ويړيا وينه ورکول پئيل کړل. دغه ادارو به د حکومتي او خېراتي ادارو پرته د ښار تجارت پېشه او سماجي شخصياتو نه چندې راغونډولې. او دغه کار خېر به روان وو. په اول اول کښې فاطميد فاونډېشن دا کار په کراچې کښې روان کړو. ما ته ياد شي چې د فاطميد فاونډېشن د ادارې پرانستلو په دستوره کښې د برصغير نامتو فلمي ستورے يوسف خان المعروف دليپ کمار د پارټشن نه پس هند ته د تللو وروستو په اول ځل پاکستان او بيا په اخره کښې پېښور ته تشريف راوړے وو. دا د اتيايم لسيزه وه. په ګورنر هاؤس کښې په جوړه يوه دستوره کښې دليپ کمار د خپلې اردو دانئ جوهر ښائيلے وو او يو پُراثر تقرير ئې کړے وو. چې نن هم د مشرانو اديبانو او صحافيانو په دماغو کښې محفوظ دے.

د فاطميد مشر ښاغلي ناظم جيوا څوک چې يو هندوستانے نژاد مهاجر برطانوي پاسپورټ لرونکے وو. ډېر وروستو ما سره هم تماس

ونيو. او پيا مونږ هغه قطر ته راوبللو. په هغه وخت د پي پي پي حکومت وو. او ناظم جيوا د شهناز وزير علي خط د سفير پاکستان په نوم راوړے وو. او د راتللو مخکښې ئې فېکس هم رالېږلے وو. ما د سفير صېب سره ملاقات اوکړو او د ايمبيسي ايډيټوريم په هال کښې مې ورته يوه دستوره ټاکلې او جوړه کړې وه. ناظم جيوا د وينې په مرض اخته مريضانو ته يو دستاويزي فلم په ايمبيسي هال کښې وښائيلو او په هال کښې ناستو خلقو د زړۀ د اخلاصه چنده ورکړه.

ناظم جيوا صېب خلقو ته ووئيل چې دا مرض اکثر د کورني ودونو په نتيجه کښې مېنځ ته راځي. هغۀ ووئيل چې د تهيلسميا مائنر پهر رنځ اخته دوه کسان نر او ښځه چې کله وادۀ وکړي نو د هغې په نتيجه کښې اکثر چې اولاد پېدا کيږي هغه بيا په پوخ او ستر رنځ اخته وي چې ورته مېجر تهيلسميا وئيلے شي.

معمولي تهيلسميا ته مائينر يعنې وړوکے رنځ وائي. او چې کله پوخ مرض لرونکي بچے پېدا شي نو هغه بيا مېجر تهيلسميا پېښنټ بلل شي. په نورو هېوادونو کښې دا مريضان تر پنځوسو کالو پورې ژوندي وي. د بده شامته د ناپوهئ او د عدم سهولت له کبله په پاکستان کښې د شلو پنځويشتو کالو نه زيات عمر ته نۀ رسي. او دغه شان د ځوانئ په عمر کښې د خاورو لاندې شي.

د فاطميد فاونډېشن مشر د مرګ نه يو کال وړاندې يو ځل بيا د قطر په دوره د راتللو هځه وکړه او ما سره ئې تماس وينو. خو دا ځلې د هغۀ برټش پاسپورټ کار

ونکړو. او د دوحه قطر د ائيرپورټ نه په ستنه ولېږلے شو. اول به د برطانيې پاسپورټ لرونکو ويزې نۀ لګېدلې او نېغ به د عربو او اسياوي ملکونو ته د خپل پاسپورټ په زور رانوتل. خو اوس د خليج جنګ وروستو ويزه اخستل لازمي کړې شوې ده.

د ناظم جيوا د مرګ نه پس فاطميد فاونډېشن د ټرسټ نوړو غړو ته پاتې شو. او د هغوئ کارکردګی په صوبه پښتونخوا کښې کمه شوه. چې په نتيجه کښې ئې فرنټيئر فاونډېشن اداره پرانستلے شوه.

فطر ته د فرنټيئر فاونډېشن مشر او ورسره يو ملګرے زما په دعوت او ويزه راغلل، او نن هغوئ داسې ملګري پېدا کړي دي چې هر کال راځي او ښۀ کافي مالي امداد د عربو په خاوره ميشتۀ پاکستانيانو او عربانو نه راوړي. مونږ هم د خپل وس مطابق ونډه اچوو او منډا تړړه ورسره کوو.

تېر کال ما يو ډېر معمولي او وړوکے غوندې چيک د صاحبزاده حليم په لاس بې له څۀ تعلقه او پېژندګلو تش د وطن د غريبانو ماشومانو مريضانو د امداد په خيال بمصداق مشک از خروار حمزه فاونډېشن ته راولېږلو. او هغوئ وصول کړو. سږ کال زۀ د ګران ملګري اباسين يوسفزي صېب په دفتر کښې ناست ووم چې يو ځوان سوټيډ بوټيډ هلک راغلو او ما سره ئې خپل تعارف وکړو وئيل چې زۀ ملک اشفاق اعوان يم او د حمزه فاونډېشن نمائنده يم. په دويم تاريخ د مئی مياشتې په ګورنر هاؤس کښې زمونږ يوه دستوره ده که تاسو پاتې کېږئ نو چې مونږ سره لاړ شئ.

ما ورته ووئيل چې کېدلے شي زۀ تر دغه وخت پاتې نۀ شم او قطر ته ستون شم خو که پاتې شوم نو ارو مرو به په دې خدمت کښې درسره لاړ شم.

بيا وروستو د دې ادارې مشر ښاغلي اعجاز علي شاه صېب څو کرته ټيليفونونه وکړل او ما ته ئې دعوت راکړو. چې مونږ سره خامخا په ګورنر هاؤس کښې جوړې دستورې ته لاړ شه.

د سحر نوي وخت لس نيمې بجې زۀ د اباسين صېب کور ته لاړم. اباسين صېب په يوه دقيقه کښې راوتلو. د وړې ماشومې په لاس کښې جوس زما زړۀ يخ کړو. او بچۍ ته مې د زړۀ د اخلاصه دعاګانې وکړې. مونږ دواړه د اباسين صېب په موټر کښې ګورنر هاؤس ته ورسېدو. معلومه شوه چې ګورنر صېب پخپله نشته خو د هغۀ کوردانۍ به موجوده وي. زۀ د دې دستورې په حقله معلوم نۀ ووم چې دا په څۀ موضوع جوړه شوې ده. خو د ماشومانو له خاطره روان ووم. په لاره کښې اباسين صېب مختصراً راته ووئيل چې څو د خېر ښېګړې کسان او مريضان ماشومان او د هغوئ لواحقين به راځي او وړوکې غوندې دستوره به نمانځلې کيږي.

مونږ ډېر په اسانه ګورنر هاؤس ته دننه شو. زمونږ نومونه د اول نه تللي وو.

چې هلته اورسېدو نو ماشومان مريضان هم رارسېدلي وو. ورسره مئيندې پلاران هم ناست وو. لږه شېبه پس پخوانے ناظم اعظم افريدي هم راغلو. د هغۀ نه لږ وړاندې نامتو فلم ايکټر عجب ګل صېب هم راغلے وو.

ما سره لګېدلې کرسو کښې دا درې کسان ناست وو. اعظم افريدي په اول نظر زۀ ونۀ پېژندم. بيا مې چې تعارف ورسره وکړو نو هم داسې معلومه شوه چې زۀ ئې د فکر او نظر نه وتلے ووم. ما ته افسوس په دې خبره وشو چې يو خو اعظم افريدے زما د قوم او تپې عزيز دے. بل د هغۀ پلار زمونږ د قوم ملک وو. او د هغۀ سره زما د مرحوم پلار ډېره زياته نزدې دوستي وه. او د خپل ژوند يوه لويه حصه ئې د هغۀ سره په هره موقع د جنګ او امن په حالت کښې تېره کړې وه. زما پلار د دوئ دپاره د ټول قام بدي په خپل سر اخستې وه. د افريدو ملکانو دغه خامي د کرکې تر حده خرابه ده. چې د دوئ سره هر څومره ښېګړه څوک وکړي دوئ ئې هيڅ احسان نۀ مني. او نۀ ورسره په بدل کښې راشه درشه کوي. د انګرېزانو د وختو راروان د کولونيئل نظام ملکانان/خانان او اربابان نن هم د عام اولس نه ځانونه اوچت ګڼي.

حالانکې عام اولس ته د دوئ د ذات نه هيڅ فائده رسېدلې نۀ ده. اونۀ دا چا سره ښۀ کولے شي. هم د دوئ په وجه د حکومت نه پرمټونه، دسترخوانونه او مواجبونه خوري. په عوامو کښې د دوئ مقبوليت يا خوښۍ اندازه د دې خبرې نه لګولے شي چې په عامو انتخاباتو کښې ئې ضمانتونه ضبط کيږي.

اعظم افريدي له دې کبله په پېښور مېشته دے چې د پېښور د خلقو په ووټ کله کله غالباً صوبائي اسمبلۍ ته ورسيږي. څو کاله وړاندې د پېښور ناظم هم ټاکلے شوے وو. زۀ ډېر په خواشينۍ سره د دې خبرې تکرار

کوم چې اعظم افریدي د خپل اصل وطن د خلقو بارې په هیڅ کار نۀ دے راغلے. د دۀ نه زیات د دوئ بل ورور څوک چې نن سبا سفیر پاکستان دے او په قطر کښې سفارتکاري کوي په راشه درشه کښې ښۀ دے. اګرچې ددوئ ټولو د ذات نه د ښېګړې اُمید څوک کولے نشي. خو بیا هم په خوږه خبره باندې د سړي زړۀ ښۀ کیږي. اصغر افریدے په ژبه خوږ دے او یاداشت ئې ډېر تېز دي.

په مقرره وخت د پروګرام اغاز نوموړي شاعر پروفېسر اباسین یوسفزي په خپلو دعائیه شعرونه وکړو. او د باقاعده اغاز دپاره ئې د تلاوت کلام پاک دپاره قاري احسان الله صېب ته بلنه ورکړه. د ګورنر اوېس احمد غني بېګم صېب څوک چې یوه اعلٰی تعلیم یافته او زړۀ سواندې مېرمن ده د خپلې سېکرټري سره په پریذډیم کښې پرتو صوفو کښې تشریف اېښے وو.

د تلاوت نه پس د حمزه فاونډېشن مشر اعجاز علي شاه صېب ته بلنه ورکړے شوه چې د حمزه فاونډېشن په حقله خبرې وکړي. هغوئ د دې تنظیم اغراض او مقاصد په تفصیل سره وړاندې کړل او د ګورنر صېب نه ئې د دې ادارې دپاره څو مطالبې هم وکړې.

د اعجاز صېب نه وروستو یو ځل بیا اباسین یوسفزي صېب روسټرم ته لاړو او د دې تنظیم سره چې چا هم څۀ لږ ډېر مالي، فکري یا فزیکي امداد کړے وو. د ګورنر د مېرمن په لاس د اېوارډونو ورکولو اعلان وکړو. د ټولو نه وړاندې بېګم ګورنر ته سوئېنر ورکړے شو بیا د ادارې له خوا تحفې وړاندې کړے شوې بیا وروسته نورو کسانو ته اېوارډونه ورکړے شول. په دغه اېوارډ

اخستونکو کښې اعظم افريدے، فلمستار عجب ګل، پروفېسر اباسين يوسفزے او ګڼ شمېر کسانو کښې راقم الحروف، د اخبارونو ايډيټران او سماجي کار کوونکي شامل دي.

د غونډې په اختتام کښې د ګورنر مېرمن تقرر اوکړو او د خپله اړخه ئې د يو لاکهه روپو اعلان هم وکړو. چې شېبه وروستو ئې اعجاز علي شاه صېب ته دغه چېک ورکړو. پيا وروستو د هر يو مريض او د هغۀ د مور سره څو شېبې کښېناسته. او هغوئ ته ئې طبع تسلي ورکړه. ديو ماشوم مور د فرط جذبات نه په ژړا شوه. او ماحول ئې غمګين کړو چې زما په سترګو کښې ئې اوښکې راوستې. د مېلمنو دپاره د چائيو بسکټو انتظام شوے وو.

مېلمانۀ بل هال ته لاړل. لږه شېبه پس مونږ هم د ګورنر هاؤس نه رارون شو. اعظم افريدي خپل شيلډ په هال کښې پرېښودے وو. چې بيا ما د حمزه فاؤنډېشن نمائنده ملک اشفاق اعوان ته وسپارلو.

۷ مئی ۲۰۰۹ء د ريډيو خېبر سالګره:

د شپې په شپږم مئی ملګري سيد نذير افريدي پروډيوسر د خېبر ريډيو ما ته ټيليفون کړےوو چې د هغوئ د ريډيو خېبر درېمه کليزه کښې برخه واخلم. کومه چې په يونيورسټي ټاون کښې په کونټينېنټل ګيسټ هاوس کښې نمانځل کيږي. او د فاټا ميډيا سيل ډائرېکټر او د خېبر ايجنسۍ پوليټيکل ايجنټ ريټائرډ کېپټن طارق حيات هم پکښې ګډون کوي.د دې پرته د جمرود باړې او لواړګي اديبان شاعران او سماجي شخصيات هم رابلل شوي دي.

زۀ په درې نيمې بجې د غونډې ځائے ته ورسېدم. مقصد مې د اديبانو شاعرانو سره ليدل کتل وو. هلته دوئ غېر رسمي مشاعره شروع کړې وه پروفېسر اسلم تاثري افريدے. طلبګار افريدے، قېس افريدے، فلک نازتيراه وال، لحاظ احمد، علي رضا، اميد افريدے او نور ګڼ شمېر اديبانو شاعرانو خپل کلامونه واورول. او مونږ ئې محظوظه کړو. په څلور بجې پوليټيکل ايجنټ صېب راغلو. د تلاوت کلام پاک په اياتونو د غونډې پېژندګلو وشو. يو څو قامي مشرانو د خېبر ريډيو په افاديت خبرې وکړې بيا ئې ما ته دعوت راکړو. چې خپل کلام واوروم. ما د خپل ژوند د اوږد سفر ذکر او بيا د سفر په حواله يو څو شعرونه واورول. په دغه شعرونو پسې مې په امن د ساحر لدهيانوي اردو نظم په پښتو ژباړه کړے واورولو. چې په ملګرو ئې ژور اثر پرېښو. د غونډې په اختتام کښې زۀ او ورور ګل محمد خپلو کورونو ته راستنۀ شو. په زړۀ کښې مې کرل ريبل چې د پوليټيکل ايجنټ خلاف په هيرالډ مجله او فرنټئير پوسټ کښې زما ليکونه خپارۀ شوي وو. چې د دوئ نه مې د افريدي قوم سپاء ته په سپک وئيلو د معافئ غوښتنه کړې وه. زما يقين دےچې موصوف به دغه ليکونه لوستي وي. او کېدلے شي چې زما په نامه اورېدو ئې هغه غوښتنې هم ذهن ته راغلې وي. په خپل تقرير کښې جذباتي هم شو، وروستو ئې بيا بخښنه هم وغوښته خو زما سره ئې يواځې ليدل کتل ونۀ شول. البته د ميډيا سيل ډائرېکټر په خپل تقرير کښې زما د نظم ستائنه وکړه او د ريډيو چارواکو ته ئې د داسې نظمونو خپرولو تاکيد هم وکړو.

۸ مئی ۲۰۰۹ء د ظهير پښتو ادبي جرګې زما په اعزاز کښې غونډه:

په ٦ تاريخ د پنځمې مياشتې د ظهير پښتو ادبي جرګې پېښور مشر سېکټر زاهد شېدا او ګران ملګري اختر حسېن ننګيال زما ځائے ته راغلل او زما په اعزاز کښې رابللې غونډې ته دراتلو باقاعده دعوت ئې راکړو. کومه چې په اتم د مئی مياشتې کېدونکې وه.

زۀ په دغه ورځ ډېر مصروف ووم. په اتم تاريخ زما د حجرې د يوې برخې کنکريټ هم وو. په يوولس بجې د حمزه فاونډېشن په پرېس کلب کښې غونډه او بيا په يو "واک" کښې شريکېدل هم وو.

کنکريټ چې دلته ورته خلق لينټر هم وائي په يوولس نيمې بجې خلاص شو. د حمزه فاونډېشن غونډې ته جوړ نۀ شوم.

البته په درې بجې د ظهير پښتو ادبي جرګې غونډې ته ورسېدم.

غونډه څلور بجې پځېل شوه او تر پنځه نيمو بجو پورې ئې دوام لرو. په دغه غونډه کښې چې د صدارت چوکۍ ئې ماته رابخښلې وه. لاندينو ښاغلو شاعرانو صاحبانو برخه واخسته.

ښاغلي ګل محمود ظهير، جاويد درد، اختر حسېن ننګيال، زاهد شېدا، دلاور وقار، محمد امين، جمال حسېن اکبر، بخاري صېب او نورو ګڼ شمېر ملګرو شاعرانو اديبانو چې اوس ئې نومونه زما د ذهن نه وتلي دي.

مازيګر مونږ کور ته راورسېدو. په ۱۰ تاريخ د تهکال ادبي ټولنې پېښور ملګرو

زما په اعزاز کښې غونډه رابللې وه. زۀ د ځۀ ضروري کارنو له کبله تللے نۀ شوم ملګري اختر حسېن مې په ټيليفون خبر کړو. چې نصيرالله ناشاد صېب ته زما معذرت وړاندې کړي. د ملګري رحيم ګل ماسټر د دفتر افتتاح او د شمشاد ټيلويژيون پروډيوسر ملګري محمد اسرار اتل دعوت نامې هم رارسېدلې دي.

الله دې وکړي چې هغوئ ته وخت اوباسم او ورسره په ښۀ وخت ليدل کتل وکړم. زما اراده ده چې تر شلم مئى پورې قطر ته ستون شم. په دغه وخت کښې به ضروري طبي ټسټونه هم خلاص شي. او کارونه به هم راغونډ شي. د دغه رپورتاژ کتابت او کمپوزنګ به هم سر ته رسول وي. او که الله پاک ته منظوره وه نو د چاپ کار به ئې هم سر ته ورسوم.

نن نهم تاريخ دے، او رپورتاژ رانه نور هم اوږديږي. غوره به دا وي چې دغه رپورتاژ هم په دغه ځائے پائې ته ورسوم. که ژوند وو. نو انشاء الله راروان کال به بيا د خپلو ملګرو اديبانو او شاعرانو ليکوالانو سره د ليدلو کتلو او جرګو سرګرمو احوال وليکم. خو شرط ئې دا دے چې که د قلم د خاوندانوزما دغه مات ګوډ تحرير ته شرف قبوليت وبخښلو.

په دغه دعا اجازت غواړم.

چې الله تعالٰى دې د پښتنو په وطن دامن سيوري خوارۀ کړي. آمين

فېروز افريدي

۹ مئى ۲۰۰۹ء

خلق لـه ځانـه هـم د خپـل ماضـي تيَـرې پټـوي
مونږ په محفل کښې زړونه ښايو هيڅ پروا نۀ لرو
(اباسين)

زمونږ بې رويه بې ريا او دروند پښتون ملګرے فېروز افريدے الله پاک د پښتو په مينه داسې مست کړے دے چې د خپل امدن کافي برخه او د خپلو صلاحيتونو پوره خزانه په ډېر اخلاص د پښتو جولۍ ته اچوي. په دغه رپورتاژونو کښې ډېر په معصوميت د خپل زړۀ ورې ورې او ګټورې خبرې په داسې سادګۍ او روانۍ بيانوي چې لوستونکے کله د چاپېرچل، کله د قيصې او کله د منظر کشۍ په مستو مستو چپو کښې ورلاهو کړي. په ظاهره عامه او معمولي خبره کښې دوه څلور جُملې دومره د کار واچوي چې غېرضروري شے هم ډېر ضروري او د کار شي. او غالباً چې دغه د ليکوال فېروز نه زيات د انسان فېروز د صداقت او قامولۍ د جذبو بُخار دے.

مسافرۍ دا ښاغلے لکه د سندان کلک کړے دے او لکه د رېښمو ئې نرم کړے دے. د ژبې، خاورې او وطن د مينې نه جوړ فېروز افريدے که نثر ليکي او که شعر هم په دغه مينه، درد او خړيکو کښې انغښتے وي ځکه د اطمينان، سکون او قراري سره د پرمختګ جذبو له هم وده ورکوي.

الله دې ساده او صادق ليکونکے نور هم وځلوي.

مننه

نېټه: ۲۵ اپرېل ۲۰۰۹ء

اباسين يوسفزے
چيئرمېن، پښتو ځانګه
اسلاميه کالج پوهنتون، پېښور

ضياء سنز پرنٹرز پشاور
0333-9111391